حال دا چې خدای (ج) هغه منع کړیدي: ﴿ وَكُلُوا وَاشْرَبُوا وَلاَ تُسْرِفُوا ﴾ (الاعراف ۳۱)، ﴿ وَلاَ تُبَذِّرْ تَبْذِيراً ،إِنَّ الْمُبَذِّرِينَ كَانُوا إِخْوَانَ الشَّيَاطِينْ ﴾ (الإسرا ۲۷)، ﴿ وَ لاَ تَجْعَلْ يَدَكَ مَغْلُولَةً إِلىٰ عُنُقِكَ وَ لاَ تَبْسُطْهَا كُلَّ الْبَسْطِ ﴾ (الأسرا ۲۹) (دا آیتونه څو ځله ترجمه شوي).

دریم: په دخانیاتو کې دمال ضایع کیدل دي او اسلام دمال ضایع کول حرام کړي دي. په صحیح حدیث کې دي چې رسول الله ﷺ فرمایي: «خدای (ج) تاسو ته درې ځیزونه خوښوي او له درې ځیزونو څخه یې بد راځي، له تاسو څخه راضي دئ چې دهغه عبادت او ستاینه وکړئ او څشی ورسره شریک و نه بولئ، دخدای دین ته منګولې واچوئ؛ مه خواره واره کیږئ او خپل اولی الامر ته نصیحت او خیر غوښتنه وکړئ. او هغه ځیزونه چې ځنې بدیې راځي هغه غالمغال؛ زیات غوښتنه او سوال کول او دمال ضایع کول دي. نو ځکه دمال ضایع یا تلف کول حرام دي او که ددخانیاتو استعمال ته نظر واچوو دا دمال سوځول او لمبه کول دي او روغتیا او بدن ته کومه ګټه نلري.»

څلورم: روغتیایي ضررونه یې - معاصرو طبي علومو کشف کړیدي چې ددخانیاتو په استعمال کې روغتیا ته ضرر دئ او دزیات شمیر ناروغیو د پیدایښت سبب کیږي نو بې له شکه هغه حرام دي او اوس دبرتانیې دشاهي پوهنتون په وینا چې په ۱۹۷۷ کال کې یې کړیده هغه اندازه نیکوتین چې په یوه سګرټ کې موجود دي که دستنی په وسیله بدن ته پیچکاري شي نو کافی ده چې یو انسان په بشپړ روغتیایي حالت کې ووژني.

همدارنګه په ۱۹۷۵ کال کې دنړیوال روغتیایي سازمان په وینا کې راغلي چې دهغو کسانو شمیر چې ددخانیاتو داستعمال له وجې مري او یا فلاکتباره او دبدبختې ژوند لري، زیات دئ له هغو څخه چې په مجموع کې د طاعون، کولرا، چیچک، جذام، و چکې یا محرقې او تایفس څخه هر کال مري. دغه سازمان

تأئیدوي چې د دخانیاتو پریښوول د روغتیا د ښه والي او د عمر د اوږدوالي سبب کیږي چې د نورو تولو طبي وسیلو څخه داسې بریالیتوب نشي تر لاسه کیدلای.

څرنګه چې د دخانیاتو ضرر دانسان په ژوند کې تر ډیره حده ثابت شوی نو ځکه **بې له شکه حرام دي**. خدای (ج) فرمایی ﴿ وَلَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ ﴾ (البقره: ۱۹۵) نو ځکه د دخانیاتو په استعمال سره ځان په هلاکت کې مه اچوی. په دخانیاتو کې هم ځان او هم نورو ته ضرر دئ ځکه چې استعمالوونکي یې دود په هغه هوا کې چې د کورنی او یا تولنې نور غړي ژوند پکښې کوي، خپروي نو ځکه هغه کسان چې ورسره عادت نلري هم زیاتمن کیږي او رسول الله ﷺ خپل ځان ته د ضرر رسولو او نوروته د ضرر رسولو څخه منع کړیده چې: «لا ضرر و لا ضرار» .

والله تعالى أعلم.

ددخانیاتو په استعمال کې د شریعت حکم

فضیلتمند ډاکټر
حسینی عبدالمجید هاشم (رح)
د جامع الازهر پخوانۍ مرستیال

مخکې لدې چې ددخانیاتو د استعمال په هکله فتوی ورکړو، لازمه ده چې هغه پاملرنه او غمخواري چې اسلام دروغتیا په هکله کړې، بیان کړو او بیا په خاصه توګه چې دخانیات دانسان روغتیاته زیات خطر لري. اسلام د بدن روغتیاته په پاملرنې سره دخوراک او څښاک مسایل تنظیم کړي لکه چې فرمایي ﴿ وَكُلُواْ وَاشْرَبُو و لا تُسْرِفُوا ﴾ (الاعراف ۳۱) همدارنګه اسلام د بدن ساتنه او نظافت لازم بللي لکه چې او دس او غسل دهمدې نظافت او د بدن د پاکۍ لپاره ده. د بدن دغړو په نظافت او پاکوالي او وینځلوکې له یوې خوا تازه ګي او خوښي ده او له بلې خوا له مکروبونو څخه مخنیوئ دی. خدای (ج) فرمایي: ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلَاةِ فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ وَ أَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ، وَ امْسَحُوا بِرُؤُوسِكُمْ وَ أَرْجُلَكُمْ إِلَى الْكَعْبَيْنِ ﴾ (المائدة ٦) یعنې کله چې لمانځه ته پورته شوی مخ او لاسونه مو تر څنګلو پورې وویندئ او پر سر مو مسح وکړئ او پښې مو تر بجلکو یا ښنګرو پورې وویندئ.

الله تعالی (ج) د بدن او روغتیا دساتنې په اړوند فرمایي ﴿ وَ لاَتُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ ﴾ (البقره: ۱۹۵) او یا ﴿ وَ لاَ تَقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ إِنَ اللَّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيْماً ﴾ (النساء: ۲۹) او د دخانیاتو په استعمال کې د نفس اَجول په هلاکت کې دي چې اسلام مونږ ترې منع کړي یو، اوهم په هغې کې اسراف او دمال

بیځایه مصرفول دي چې اسلام له اسراف او تبذیر یا بې ځایه لګونې څخه منع کړیده.

د دخانیاتو په استعمال کې روغتیاته ضرر، په حنجرې او ستونې کې ناروغی او په خولې کې بدبوی پیدا کوي اسلام د مسواک په استعمالولو امر کوي، حضرت رسول الله ﷺ فرمایي: «مسواک د خولې د پاکی او د خدای (ج) د رضایت سبب کیږي.» (د نسائي، امام احمد او ترمذي په روایتونو).

اسلام د هر ضرر رسوونکي شیز له خوړلو څخه منع کړیده که دا ضرر د هماغه کس بدن او نفس ته وي یا د نورو او فرمایلي بې دي «لا ضرر و لا ضرار».

ځني وایي چې د دخانیاتو په استعمال کې ګټه شته، لکه د ناروغیو معالجه، د روحي ستر یا معالجه او داسې نورو چې دا ټول اقوال غلط دي ځکه چې دخانیات معالجه او شفا نه بلکې پخپله یې درد او ناروغي ده.

اسلام بدني روغتیا ته خاصه پاملرنه او علاقمندي لري او وایي چې غښتلئ مسلمان تر کمزوري مسلمان غوره او بهتر دئ. روغتیا چې د الٰهي له غوره نعمتونو څخه ده، لازمه ده چې ساتنه او پالنه یې وشي او د خدای شکرانه ګې پر ځای شي. رسول الله ﷺ فرمایي: «دوه نعمته دي چې اکثره خلک په هغو کې غولیږي او په قدر یې نه پوهیږي چې یوه روغتیا او بل فارغ وخت دئ.» (د بخاری په روایت)، د ترمذي او نورو په روایت د عبدالله ابن محصن حدیث دئ چې له رسول الله ﷺ څخه روایت کوي: «څوک چې په روغ صورت له خوبه راپاڅیږي او د ورځې په اوږدو کې یې نفس په امان کې وي او د هماغې ورځې روزي هم ولري داسې ده لکه چې ټوله دنیا یې په واک کې وي».

په داسې حال کې چې اسلام دومره د روغتیا ساتونکئ او غمخوار وي او په دخانیاتو کې هم یقیني ضرر وي نو بې له شکه هغه حرام دي په تیره بیا چې په دخانیاتو کې د بدن د تولیدي قوت د کمزورۍ کولو اغیزه هم موجوده ده. څرنګه چې

روغتیا کمزوره شوې وي نو په نتیجه کې طبعاً تولیدي قابلیت هم کمیږي.

په داسې حال کې چې په دخانیاتو کې قیر موجود دئ نو دا ماده د سرطان په راپیدا کولو کې زیاته اغیزمنه ده نیکوتین دوینې دفشار په لوړولو مستقیمه اغیزه لري او د تنفسي جهاز التهابونه هم د دخانیاتو د استعمال له وجې وي، دهغو ضرر یوازې استعمالوونکي ته نه بلکې د کورنۍ نورو غړو، اولادو، او د چاپیریال خلکو ته هم دئ او لکه استعمالوونکی یې، هغوی هم په ډول ډول ناروغیو اخته کیږي. دخانیات هماغسې چې نارینه وو ته مضر دي، ښځو ته هم ډیر مضر او خطرناکه دي او په ځانګړې ډول بیا اُمیدوارو ښځو ته چې د جنین په ضرر یې هم ټامیږي لکه چې د مړینو احصائیه ښئي د پنځه شپیته کلنۍ عمر څخه د مخه په معتادو کسانو کې مړینه د غیر معتادو د وه برابره ده، همدا رنګه په کار او وظیفه کې غیابت د دخانیاتو د استعمال له وجې د ړې برابره دئ او د سړو سرطان په معتادینو کې د غیر معتادو خلکو په پرتله ۷۰-۹۰٪ پورې دئ.

دخانیات د معدې او اثنا عشر له زخمونو سره زیاتې اړیکې لري او همدارنګه خلک دوینې د دوران په ناروغیو اخته کوي او ښځو ته ډیر خطرناکه دئ ځکه چې دا ډول ښځې ډیر ژر د زېښت او نه امیدواره کیدو (مینوپوز) عمر ته رسیږي او خپله ظاهري تازه ګي هم له لاسه ورکوي. همدارنګه دهغو جنینونه دانکشاف له پلوه ناقص او یا معیوب زیږیږي. دا ډول ښځې د امیدواری د مخنیوي درمل هم زیات استعمالوي چې دا پخپل وار سره په نسل کې د زیاتو معیوبیتونو سبب کیدائ شي.

د شریعت حکم د دخانیاتو په استعمال کې

د روغتیایي ضررونو له درک کولو او همدارنګه د مال د بیځایه مصرف او په اقتصاد کې د اسراف په پام کې لرلو سره، په صراحت سره ویلای شو چې:

« ددخانیاتو استعمال حرام دئ».

هو! پخوا ځنو دهغو په کراهیت فتوئ ورکړې او حرمت یې تصریح کړئ ندئ دا په دی دلیل ؤ چې دهغه ضررونه کشف شوي نه ؤ او معاصر علوم دې حد ته نه ؤرسیدلي چې دهغو اغیزه او رول دنارو غیو په پیدا ینبت کې ثابت کړي چې دمثال په توګه ددې ناروغیو یادونه کولائ شو: دخولې سرطان، دسږو، حنجری، حلقوم او مثاني سرطانونه، دوینې ټینګول او داسې نور.

پدې کې شک نشته چې اسلام ددخانیاتو استعمال دانسان نفس دهلاکولو له کبله حرام ګرځولئ، ځکه چې الله تعالی (ج) فرمایی: ﴿ وَلاَ تُلْقُوا بِأَيْدِيكُم إِلىٰ التَّهْلُكَةِ ﴾ یعنې په خپل لاس ځان په هلاکت کې مه اچوئ همدارنګه په هغې کې دمال اسراف او بیځایه مصرف دئ خو الله ج فرمایی: ﴿ وكُلُوا وَ اشْرَبُوا وَ لاَ تُسْرِفُوا ﴾ ﴿ وَلاَ تُبَذِّرْتَبْذِيراً ، إِنَّ الْمُبَذِّرِينَ كَانُوا إِخْوَانَ الشَّيَاطِينِ ﴾ او خدای (ج) بی ځایه مصرف کوونکي دشیطان وروڼه بللي دي. او لکه چې مخکې وویل شول په دخانیاتو کې نفس ته ضرر دئ او دول دول ناروغی ترې راپیدا کیږي او همدارنګه یې نورو کسانو لکه دکورنی غړو ، ګاونډیانو او ځوک چې ورسره ژوند کوي ضرر وررسیږي حال دا چې هر مضر ځیز خدای (ج) حرام ګرځولئ او حضرت رسول الله ﷺ فرمایي: « و لاضرر و لا ضرار ». په دخانیاتو کې انسان پخپل لاس ځان په خطر او هلاکت کې اچوي او انسان پخپل لاس ځان وژني حال دا چې خدای (ج) امر کوي: ﴿ وَ لاَ تَقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ ﴾ په دخانیاتو کې دبدن دغړو کمزوري او سستي منځ ته راځي حال دا چې رسول الله ﷺ له هر نشه راوړونکي او سستوونکي ځیز ځخه منع کړیده، ددخانیاتو هر استعمالوونکئ دهغو داستعمال په وخت او یا وروسته له هغې دا احساس کوي.

شیخ یوسف دَجوي دعلماؤ کبارو دجماعت غړئ پخپل کتاب کې چې دمقالاتو او فتاوو په نوم یې لیکلئ وایي: « په وروستیو فقیهو علما ؤ کې ددخانیاتو

داستعمال دحکم په هکلهٔ اختلاف دئ، څنې هغه حلال او څنې يې حرام بولي خو حقيقت دا دئ چې حکم کول په هر يو دې دواړو باندې له افراط او تفريط يا زياتي او کمي څخه خالي ندئ نو لازمه ده او ښايي چې داستعمالوونکي حالت او د دخانياتو اغيزې ته په هغه باندې پاملرنه وشي يعنې چاته چې دخانيات ضرر رسوي او روغتيايي تاوان ورته لري نو په اتفاق سره د دخانياتو استعمال ورته حرام دئ ځکه چې دروغتيا او دبدن دسلامتي ساتنه له هغو عمومياتو څخه ده چې قول د ينونه يې واجب بولي.

چا ته چې روغتيايي ضرر نه رسوي خو پيسې يې دکورنۍ دغړو د نفقې لپاره ضرورت دی، هغه ته هم حرام دئ او که چيرې بدني او مالي تاوان او ضرر پکښې نه وي د حرمت په هکله يې کوم دليل نشته. دروغتيايي ضررونو په هکله يې هر څوک کولای شي له ډاکټرانو او طبيبانو څخه معلومات تر لاسه کړي او په مالي ضرر يې هر څوک پخپله پوهيدای شي. »

څنې خلک د هغه استعمال پدې دليل چې بدعت دئ مطلق حرام بولي او وايي چې هر بدعت ګمراهي او ضلالت او هر ګمراه دوزخ ته ځي. خو دا نظر صحيح ندئ ځکه کوم بدعت چې شريعت منع کړئ هغه دئ، چې د جواز په هکله يې په شرعي اصولو لکه کتاب الله، سنتو، اجماع او قياس کې کوم دليل موجود نه وي نو ځکه دا خبره صحيح نده او جواز نلري چې سړئ ووايي چې هر بدعت او نوئ پيدا شوئ څيز حرام دئ.

دا ځکه چې ډيرې جامې، مواد، خواړه آلات او اسباب د حضرت رسول الله ﷺ او اصحابو او تابعينو په وخت او عصر کې موجود نه وؤ. (۱)

دا پخوانۍ نظريې وې خو اوس لکه چې معاصرو طبي علومو کشف کړيده د دخانياتو داستعمال له املې ډول ډول خطرناکه او هلاکوونکې ناروغۍ لکه

---

(۱) د شيخ رجوي کتاب چې د اسلامي بحثونو او څيړنو د تولنې لخوا نشر شوئ.

سرطانونه او دويني ناروغۍ را پيدا کيږي نو پدې اساس يې ضرر ثابت او يقيني دئ. اوس نو که هر څومره څوک ووايي چې په دخانياتو کې ضرر او زيان نشته او مالونو ته يې تاوان نه رسوي، مونږ ورته وايو چې دمال مصرف اولګول په دخانياتو، اسراف او تبذير دئ او دا حرام دي. ځکه چې دمال لګول په ګټې نه بلکې دضرر او فساد په لاركې دي نو ځکه دلته دمال لګول تبذير او اسلام له تبذير څخه منع کړې او هغه يې حرام بللئ لکه چې الله(ج) فرمايي: ﴿ وَلاَ تُبَذِّرْ تَبْذِيراً، إِنَّ الْمُبَذِّرِينَ كَانُوا إِخْوَانَ الشَيَاطِينِ ﴾

لدې ټولو بيانونو څخه داسې نتيجه په لاس راځي چې **دد خانياتو استعمال حرام او پرمسلمانانو لازم ده چې ددې خطرناکه او هلاکوونکي عمل پر ضد مبارزه وکړي.** بډايو او مالدارو ته دا ښايي چې خپل مال په عام المنفعه يا عامه ګټو په پروژو کې مصرف او خوارانو او نادارو سره مرسته وکړي. ځوانانو او کارګرانو ته چې پدې ناوړه او مکروه عمل عادت لري وايو چې تاسو پخپل دې عمل سره خپل ځان پخپل لاس په هلاکت کې اچوئ، او خپل مال بيځايه مصرفوئ چې دا اسراف او تبذير دئ او خداى(ج) دواړه حرام ګرځولي. تاسو خپلې روغتيا او بدن ته پخپله ضرر رسوئ او ځان په هلاکت کې اچوئ.

نو ځکه تاسو ته لازم ده چې لدې ناوړه او مضر عمل ځان ليرې وساتئ له هغه څخه توبه وکړئ او خپل خداى ته رجوع وکړئ. لدې عادت څخه ځان ژغورنه هومره ګران کار ندئ او امکان لري چې هر انسان يې له عهدې ووځي. دا ورته کافي ده چې اقلاً دروڅې په مبارکه مياشت کې دا بد عادت پريږدي توبه وباسي او دخپل نفس سره مبارزه وکړي. ځکه په هغې مياشت کې هماغسې چې له خوراک اوڅښاک څخه خپل ځان ساتي، لدې ناوړه عمل څخه هم ځان ساتلئ شي.

نو زه هر مسلمان ښځه وي کې نارينه، ځوانانو او کارګرانو ته وايم چې له دخانياتو څخه توبه وباسي، خپل خداى ته رجوع وکړئ او لدې ناوړه عادت څخه چې

تدریجي مرینه دهٔ ځان وژغوری. خپله روغتیا دهغې په وسیله له منځه مه وړی، او هغه پدې قول حرام ده چې ﴿ وَكُلُوا وَ اشْرَبُوا وَ لاَ تُسْرِفُوا ﴾، ﴿ وَلاَ تُلْقُوا بِأَيْدِيكُم إِلَى التَّهْلُكَةِ ﴾ (البقره: ۱۹۵)، او دحضرت رسول آلله ﷺ دحدیث پر بنا چې له هر نشه راوړونکي او د غږو له سستوونکو څیزونو څخه یې منع کړې او هم دا حدیث چې «لا ضرر و لا ضرار».

هذا و بالله التوفیق

دمعاصرو ديني علماؤ له نظره ددخانياتو داستعمال دحکم لنډيز

تهيه کوونکی:

فضيلتمند شيخ

مهدی عبدالحميد مصطفی

دجامع الازهر دخپرونو مدير

او ددديني چارو دعالي غونډې غړی

پاک څیزونه حلال ګرځولي او خبیث او ناپاکه څیزونه یې حرام کړي دي. وبالله التوفیق. »

په سعودي عربستان کې د علمي څېړنو او فتاوو دایمي انجمن

عبدالعزیز ابن باز : رئیس
عبدالرزاق عفیفي : مرستیال
عبدالله ابن غدیان : غړی
عبدالله ابن قعود : غړی

ثنا او صفت خدای لره او درود پر حضرت محمد مصطفی ﷺ او دهغه پر اهل او اصحابو. نړیواله روغتیایي اداره دخپل تأسیس له نیټې یعني ۱۹٤۸ کال څخه را پدیخوا تل دبشریت په خدمت کې وه او خپل جوړونکئ او پُر ثمره رول یې ادا کړیدئ. دهغه رسالت هم دخیر او سعادت رسول بنی آدم ته دي، ځکه که انسان ته دژوند ټول وسایل آماده او تیار هم وي پرته له روغتیا څخه نیکمرغه او خوشبخته کیدائ نشي او همدغه نیکمرغي او دانسان بشپړه روغتیا ددې سازمان اصلي هدف دئ. دا هغه هدف دئ چې په یو یا څو دولتونو یا هیوادونو پورې محدود نه بلکې دټول بشریت دروغتیا تحقق او تأمین تر یوې تاکلې نیټې یعني تر دوه زرم کاله پورې ده.

دا سازمان دې هدف ته درسیدو او دخپلې هیلې دترسره کېدو په منظور دملتونو تر منځ نژادي، دیني او سیاسي تبعیض نه مني داقتصادي او اجتماعي حالت په پام کې نه لرلو سره ټولو ته په یوه سترګه ګوري او روغتیایي مواد او امکانات ټولوته په عادلانه ډول ویشي او په ټولنه کې دهر وګړي دروغتیا او سلامتیا غوښتونکئ دئ.

دغه سازمان پدې باور چې لمړني روغتیایي مراقبتونه دټولو لپاره دروغتیا دبرابرولو اصلي کلي ده، دهغه اصلي او اساسي عناصر دغه لاندې خدمتونه بولي.

۱- دروغتیایي ستونزو په اړوند تاکلې لارښوونې دهغونه دمخنیوي او دهغو پر ضد دمبارزې لارې چارې.

۲- روغتیایي زده کړې دپاکو او صحي خوړو دبرابرولو په هکله .

۳- دځښلو دپاکو او صحي اوبو برابرول.

٤- دمور او ماشوم روغتیا ته پاملرنه.

٥- دساري ناروغیو دخپریدو پر ضد قرنتین.

٦- دعامو ناروغیو تداوي او مخنیوئ.

۷- دمعمولي جروحاتو او ناروغیو معالجه.

۸- داساسي درملو برابرول.

پدې هکله کار، د نړیوالو روغتیایي فعالیتونو تنظیمول، علمي بحثونو او څېړنو ته تشویقول او همدارنګه د روغتیایي خدمتونو لپاره د تخنیکي وسایلو برابرول د دې اداري له اصلي دندو څخه ده.

یو دهغو مهمو مسئلو څخه چې دې سازمان یې حل په غاړه اخستئ دئ د دخانیاتو مشکل دئ ځکه دخانیات سره د دې چې زیات ټولنیز، مالي او روغتیایي ضررونه لري بیا هم لکه د وبا یا مُبا نارو غي په ټوله نړۍ کې عام او خپاره دي.

دژینو په ښار کې یو کمیسیون جوړ شو تر څو د دخانیاتو د ضررونو او اغیزو په هکله څېړنې وکړي. د دې کمیسیون لږنې غونډه د ۱۹۷٤ کال د دسامبر د میاشتې په ۹ - ۱٤ نیټه وه چې په دخانیاتو پورې اړوند مسئلې یې د طب له نظره وڅېړلې او د دې ستونزو د حل لپاره یې لازمې لارښونې او توصیې په ګوته کړې.

دهغو پر ضد یې د مبارزې لارې چارې هم په خاص ډول په پرمختیایي یا د د دې په حال کې هیوادونو کې، وړاندې کړې. دختیځې مدیترانې د هیوادونو لپاره منطقوي دفتر چې په نړیوال روغتیایي سازمان پورې مربوط دفتر دئ د کمیسیون په بیانونو او پریکړو اکتفا ونکړه بلکې د مصر هیواد له طبي نامتو متخصیصنو او پوهانو څخه یې چې نړیوال شهرت لري هم هیله او غوښتنه وکړه تر څو د دخانیاتو د خطرونو او ضررونو په هکله چې د سرطان او صدري نارو غۍ منځ ته راوړي واضح صریح او څرګند بیانونه ولیکي.

دختیځې مدیترانې د هیوادونو لپاره د نړیوال روغتیایي سازمان منطقوي دفتر دا باور لري چې پدې اړوند دیني زده کړې او لارښونې پر مسلمانانو کې بنسټېز او جذري رول لري او دیني عالمان د شریعت په توضیح کولو سره د ډېر ښه او ژر کولائ شي دا مطلب او هدف په کرسې کښینوي. نو ځکه دې دفتر د هغه رسالت او وجیبې له مخې چې د دخانیاتو پر ضد مبارزه کې یې لري دیوګټ شمیر دیني عالمانو نظریې او

حکمونه د دخانیاتو داستعمال او راکړې ورکړې په اړه راتول کړل چې د اسلام احکام پکښې په څرګند ډول بیان شویدي. پدې اساس دې دفتر یو قوي او ټینګ پروګرام طرح کړئ او خپل لږني قدمونه یې د سلیمې تربیې یا روزنې په لیار کې پورته کړل چې کیدائ شي د دخانیاتو پر ضد مبارزه او دهغو په له منځه وړلوکې ډیر اغیزمن او څرګند رول ولري. د دې سریزې له وړاندې کولو نه پس د علماؤ د غوره بحثونو لنډیز تاسو ته وړاندې کوو، هیله ده چې د اهلې ځلې په بریا یتوب تمامې شي او بنسه او نیکه نتیجه تر پې په لاس راشي... والله الموفق والمستعان

دخانیات څه وخت پیل او څرنګه خپاره شول؟

د مکسیکو او سیدونکي لږني خلک ؤ چې تنباکو یې وپیژندل او پېژندنې موده یې د دوه زره پنځه سوه کالو څخه زیاته ده. کله چې کرستوف کولومب امریکا په کال ۱۴۹۲ کې کشف کړه وې لیدل چې د دې و چې خلک تنباکو استعمالوي. د امریکا د کاشفینو له جملې څخه یوه تن د غه بوټئ له ځان سره اسپانیې ته راوړ چې د دوهم فلیپ پاچا په زمانه کې ؤ. وروسته بیا جان نیکو په هسپانیې کې د فرانسې سفیر د غه بوټئ د ځان سره فرانسې ته یووړ او پدې ډول سره د خانیات د شپاړسمې پیړۍ په وروستیو کې د اروپا په ټوله وچه کې خپاره شول. د اروپا څخه بیا هغه آسیا او افریقا ته ولېږدول شول او یوه یهودي د لسمې هجري پیړۍ په وروستیو کې د عربو لویدیځو منطقو ته راوړو. یوه عیسوي هغه له برتانیې څخه ترکې ته یووړ او وروسته بیا د یو شمیر لږ پرستو په وسیله په مصر، سعودي عربستان، منځنۍ افریقا او نورو هیوادونو کې خپور شو.

دخانیات او پخوانۍ نړۍ

دارویا خلکو د دخانیاتو پرضد چې له امریکې څخه راوړل شوي ؤ زبات مقاومت وکړ خو د تنبکو تخم دهغو هیوادونو ته په بیلابیلو طریقو راوړل شو. څنې پاچا هانو دهغو پر ضد غوڅ دریڅونه غوره کړل او دیني شخصیتونو خلک له هغو څخه زړه تورن کړل او یو کتاب یې د «وچو نشه یې موادو» په نامه خپور کړ، لړې جیمس د دخانیاتو دضررونو په هکله کتاب ولیکه او دروسیې دولت دهغو سوداګرو ته جزاګانې وټاکلې چې جزایی دپوزې ماتول او شړل یې سایبریا ته ؤ. په اولسمه پیړۍ کې څنو هیوادونو قوانین وضع او هغه یې حرام وبلل.

داسلام په نړۍ کې استاد حسین مجرب مصري د «فارسیاتو او ترکیاتو» په نامه خپل کتاب کې لیکي: عثماني خلیفه سلطان مراد څلورم د دخانیاتو استعمالوونکي تر فشار لاندې ونیول او دهغو پر ضدني دهغو په مجلسونو کې جاسوسان وګمارل او معتادین به یې اعدامول. دایران سره دجګړې په وخت کې د دخانیاتو استعمالوونکي هر څوک چې ؤ، خپل عسکریې یا ایراني اسیر، هغه به یې اعدا ماوه. لړې شاه عباس (۱۶۲۹) دایران پاچا به د دې خلکو پوزې سورۍ کولې او وچوکې به یې پکښې ایښودل. دهغه زوی شاه صفي به سرب ویلې کول او هغو ته به یې په خولو کې اچول.

د دخانیاتو په استعمال کې د پخوانیو علماً و نظریې

څرنګه چې په عربو او مسلمانانو کې درسالت د نزول په وخت کې او وروسته له هغې هم دخانیات موجود نه ؤ او بوازې دلسمې هجري پیړۍ په وروستیو کې پکښې رواج پیدا کړ، لدې کبله قطعي حکم دهغو په هکله چې یا نازل شوئ وي او یا دشریعت په اساس ثابت شوئ وي، موجود نه ؤ. پر هغو دیني عالمانو چې دهغو

دخپريدو په زمانه کې يې ژوند کاوه واجب ؤ تر څو دهغو په هکله يې خپل نظر بيان او حکم ورکړئ واى. خو دځرګند او مستقيم نص دنشتوالي له کبله چې هغه تر کومو پنځو ګونو احکامو لاندې راولي (واجب، مستحب، مباح، مکروه، حرام) دعلماؤ نظريې يو شان او متفقې نه وې، او دهمدې احکامو تر منځ څرخيدي. ځنو هغه حرام، ځنو مکروه او ځنو نورويې مباح باله. يو شمير يې توقف کاوه ځکه چې روغتيايى ضررونو يې له يوه کس څخه بل ته سره توپير درلود. دهغو فقيهو علماؤ له جملې څخه چې هغه يې دحرامو يا دتحريمى مکروه په دايره کې شميرل عبارت دي له:

داحنافو له فقيهو څخه:

شيخ شرنبلالي، شيخ اسمعيل نابلسي، شيخ مسيري، شيخ عمادي، شيخ محمد علاوالدين حصکفي، شيخ رجب ابن احمد، شيخ محمد عبدالعظيم مکي، شيخ محمد ابن صديق زبيدي، شيخ محمد ابن سعدالدين، شيخ محمد عبدالباقي مکي، شيخ محمد سندي، شيخ محمد عيني، شيخ ابوالحسن مصري.

دشافعي فقيهو څخه:

شيخ شهاب الدين قليوبي، شيخ نجم الغزي، شيخ سليمان بجيرمي، شيخ عمر ابن عبدالرحمن حسيني، شيخ ابراهيم ابن جمعان او شيخ عامر.

دمالکي فقيهو څخه:

شيخ ابراهيم لقاني، شيخ سالم سنوري، شيخ خالدسويدي، شيخ محمدابن فتح الله ابن علي مغربي، شيخ ابوغيث قشاش مغربي اوشيخ خالدابن محمدعبدالله جعفري.

له حنبلي فقيهو څخه:

شيخ مصطفىٰ رحيباني، شيخ محمد حنبلي، شيخ منصور بهوتي، شيخ احمد سنهوري، شيخ عبدالله ابن شيخ محمد ابن عبدالوهاب.

دمعاصرو فقهيو نظريې او فتواګانې

معاصرو فقهيو چې هغو ته ورته نظريې خپرې کړيدي، عبارت دي له: هغه فتوى چې دجامع الازهر دفتوي انجمن لخوا صادر شوې او د ۱٤۰۵ هـ کال دمحرم دمياشتې په تصوف اسلامي مجله کې چې د ۱۹۸٤م کال داکتوبر له مياشتې سره سمون لري خپره شويده.

دپوهې دخاوندانو په وينا او دطبي متخصصينو په کنفرانسونو کې په يقيني ډول ثابته شويده چې دخانيات روغتيا ته ضرر رسوي او د سږو او حنجرې دسرطانونو او شريانونو ته دضرر رسولو سبب کيږي، دمال مصرف په هغې کې بې ګټې او دمال ځنبتن ته ضرر دئ.

همدا رنګه د ۱٤۰۲ هـ کال دجمادي الاول په ۲۷ - ۳۰ چې د ۱۹۸۲م کال دمارچ دمياشتې له ۲۲ - ۲۵ سمون خوري په مدينه منوره کې يو کنفرانس جوړ شو او په هغه کې وويل شول چې دتنبکو استعمال، کرنه او سوداګري حرام ده. دشيخ محمد ابن ابراهيم دپخواني شيخ دسعودي عربستان دمفتي اعظم داولادي په فتوى کې راغلي چې ددخانياتو په خباثت، نشه راوړلو دغړو په سستولو او بدبوئې کې څه شک او شبهه نشته نو ځکه دصحيح روايا تو، صريح عقل او دبا اعتماده طبي متخصصينو دنظريا تو پر بنا هغه حرام دي.

دهغو فقهيو دلايل چې په تحريم يا تحريمي کراهيت يې قايل دي:

هغه فقهي چې ددخانياتو په تحريم يا تحريمي کراهيت قايل دي لاندې دلايل وړاندې کوي:

۱ - طبيبانو او دطبي علومو متخصصينو يې روغتيايي ضررونه ثابت کړي او دهر ځېز ضرر چې ثابت شي هغه حرام دئ.

۲- دخانیات دغږو سستوونکي دي نو ځکه په هغه منع کې راځي چې له مسکراتو څخه شوئ او د حضرت ام سلمی حدیث دئ چې رسول الله ﷺ له هر نشه راوړونکي او دغږو دسستوونکي څخه منع کړیده.

۳- دخانیات بدبوی لري چې لدې بوی څخه یې نور او حتی ملائکې آزار او اذیت کیږي، اسلام د بدبوی په وسیله دخلکو دا اذیت کولو څخه منع کړې. صحیحینو له حضرت جابر (رض) څخه روایت کړئ چې حضرت رسول الله ﷺ فرمایلي «چاچې پیاز او هوړه خوړلې وي زمونږ او زمونږ له جماعت څخه دې لیرې شي او پخپل کور کې دې کینې» د دخانیاتو ناوړه او بدبوی په کراهیت او اذیت کې د پیاز او هوړې تر بویه کم نه دئ. د ملائیکو په اذیت کې هم له حضرت جابر (رض) په صحیحینو کې یادونه شوی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: «له هر هغه څه څخه چې انسان آزاریږي ملائکې هم اذیت کیږي.» او د مسلمان انسان دا اذیت د عمومي معنیٰ په هکله حضرت انس طبراني په «اوسط» کتاب کې له ښه سند سره د حضرت رسول الله ﷺ حدیث بیانوي: «څوک چې مسلمان آزاروي داسې ده لکه چې زه یې آزار کړئ یم او څوک چې ما آزار وي داسې ده لکه چې خدای (ج) یې آزار کړئ وي.»

٤- پدې کې شک نشته چې کوم مال په دخانیاتو لګیږي هغه اسراف دئ ځکه چې په هغې کې د مال مصرف یا لګونه په بې ګټې او ضرر رسوونکي کار کې ده او اسراف د شریعت له مخې حرام دئ.

۵- خدای (ج) فرمایی: ﴿وَ يُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبَاتِ وَ يُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبَائِثَ﴾ (الاعراف: ۱۵۷) یعنې تاسوته مې پاک شیزونه حلال او ناپاک او خبائث حرام وګرځول. او دخانیات دخبائثو له جملې څخه دي.

٦- خدای (ج) فرمایی: ﴿وَلَا تَقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ﴾ (النساء:۲۹)، ﴿وَلَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ﴾ (البقره: ۱۹۵) یعنې خپل ځانونه مه وژنئ او خپل ځان

پخپل لاس په هلاکت کې مه اچوی. او په دخانیاتو کې دا دواړه موجود دي.

۷- دامام احمد په روایت په ښه سند سره حدیث شریف دئ چې «لاضرر و لا ضرار» او په دخانیاتو کې ضرر دئ نو ځکه حرام دی.

ددخانیاتو داجازه ورکوونکو نظریې:

ددخانیاتو داباحت په هکله دفقهو نظریې دطبي او روغتیایي څېړنو څخه چې دهغو روغتیایي ضررونه او مفاسد يې ثابت کړل، مخکې وې. او دا روغتیایي ضررونه عادي نه بلکې دانسان دهلاکت سبب کیږي او داکثرو يې معالجه ګرانه او حتی ناممکنه وي. دې فقهو هغه وخت ددخانیاتو پراباحت نظر ورکړ چې دروغتیایي ضررونو په هکله یې قوي دلایل او ثبوت موجود نه وُ او نن چې ضررونه يې په دلایلو ثابت شوي نو اباحت يې هم رد شویدئ. نو اوس چې دنړیوال روغتیایي سازمان منطقوي دفتر دهغو نظر وغوښت هغوی داسې نظر ورکړ چې تقریباً په تحریم يې اتفاق سره لري، او یا کم له کمه يې په تحریمي کراهیت قایل دي. سبب يې هم دا دئ چې دنړیوال روغتیایي سازمان منطقوي دفتر مخکې لدې چې دهغوی نظر ددخانیاتو داستعمال په هکله وغواړي دډاکترانو او طبي متخصصینو نظریې او څېړنې يې ددخانیاتو دروغتیایي ضررونو په اړوند دهغو په واک کې ورکړي چې دهغو پر بنا ددوی په نظر یو کې دشبه اتفاق حکم ددخانیاتو دتحریم په هکله رامنځ ته شو ځکه چې پر یقیني او څرګندو علمي څېړنو باندې استوار وُ.

دطبي متخصصینو دنظریو په رڼا کې ددخانیاتو ضرر

استاد ډاکتر عبدالعزیز سامي دصدري نارغیو استاد او دقاهرې پوهنتون دطب دپوهنځي پخوانئ رئیس وایي: «ددخانیاتو ضررونه او مفاسد تر دې حده

څرګندي چې هیڅ ډول شک نه منې، او ضرورنه یې په لاندې ډول دي: احصائیه او ارقام پدې دلالت کوي چې د پنځه شپیته کلنې عمر څخه مخکې د معتادینو د مړینې شمیر د غیر معتادو په پرتله دوه برابره دئ او په کار او وظیفه کې یې غیابت یا غیر حاضري هم د نورو په پرتله دري برابره ده. ۷۰ - ۹۰ ٪ د سږو سرطان په هغو خلکو کې دئ چې له دخانیاتو سره عادت دي. د سږو نورې ناروغۍ په هغو کې شپږ څله تر نورو زیاتې دي. د دې خلکو زیات شمیر د زړه د ناروغیو له امله مړي. دخانیات د معدې او اثنا عشر له زخمونو سره نیغ په نیغه اړیکې لري. په ښځو کې د پرژر زړښت او نا امېدواری (مینوپوز) برسیره د جنین د مړینې، دهغو په وده کې دوروسته پاتې والي او همدارنګه د عجیب الخلقه یا معیوبو ماشومانو د زیږیدو سبب کیږي، **هغه څوک چې د دې معتادینو سره یو ځای ژوند کوي په ځانګړې ډول په هغو ځایونو کې چې آزاده هوا نه وي، هغوی هم په همدې ناروغیو اخته کیږي** څیړنو ثابته کړیده چې هغه کسان چې کوم لوګئ تنفس کوي کیدای شي د یوه ساعت سګرټ څکولو د لوګي په اندازه وي».

ډاکټر اسماعیل سباعي د سرطان پر ضد د نړیوالې اتحادیې د مجلس غړئ وایي:

کومې ناروغۍ چې د دخانیاتو د استعمال له کبله را پیدا کیږي د یوې خطرناکه او په اوسني عصر کې تر هر څه زیات د خلکو د مړینې سبب کیږي. د ټولې مړینې ۵۰ ٪ د سږو، رګونو، وینې، زړه او مازغو د ناروغیو څخه او ۳۰ ٪ د سرطانونو له کبله ده، خصوصاً په پرمخ تللو هیوادونو کې او لوی عامل پدې کې دخانیات دي.

ډاکټر شریف عمر د قاهرې پوهنتون د سرطان د جراحۍ استاد لیکي چې دخانیات په یقیني توګه روغتیا ته مضر او خطرناکه دي چې سرطان او د زړه د ناروغیو د راپیدا کیدو سبب کیږي. دهغو څخه را پیدا کیدونکې ناروغۍ عبارت دي له: د سږو سرطان، د حنجرې سرطان، د خولې او مرۍ سرطان، د مثانې سرطان، د پښتورګو سرطان، د پانقراص سرطان، د زړه، رګونو او وینې ناروغۍ، د سږو نورې

ناروغي او ... دخانيات دښځو لپاره برسيره پر پورته ذکر شوو ناروغيو دنورو ځانګړو او خاصو ضررونو او خطرونو سبب هم کيږي. په هغو کې دجنين دسقط يا نقصان، دجنين دوزن دکموالي دهغه دودې دوروسته پاتې والي او همدا رنګه په هغو کې دعجيب الخلقه او معيوبو ماشومانو دزيږيدو سبب کيدای شي. پدې ښځو کې دجنين او نوي زيږيدلو ماشومانو مرينه ۲۸ ٪ ده او همدا رنګه هغوی ډير ژر دزيښت يعني نا اميدواره کيدو عمرته وررسيږي.

دخانيات په جنين باندې مستقيمې يا نيغې ناوړه اغيزې لري. دهغو ضررونه دمور دوينې له ليارې جنين ته انتقال مومي او دا اغيزې تر ولادت يا زيږيدنې وروسته هم تر يوولس کلنې عمره پورې په ماشوم کې پاته کيږي.

استاد ډاکټر محمد اسماعيل سباعي او ډاکټر عبدالباسط اعصر داورام دملي انستيتوت دسرطان ناروغيو دډيپارټمنټ استاد او رئيس ډاکټر شريف عمر دورکړ شوو نظريو سره موافق دي.

ډاکټر محمد مرزباني دقاهرې په پوهنتون کې داورام ملي انستيتوت دفارموشمې او دسرطان دمعالجې دډيپارټمنټ استاد وايي چې: «بې له شکه ثابته شوې چې دخانيات ديو شمير ناروغيو دراپيدا کيدو سبب کيږي چې تر ټولو مهم يې دتنفسي جهاز، زړه او شريانونو ناروغي او دسږو سرطان دحلقوم، پانقراص او مثانې سرطانونه دي.»

دا مسئله هم ثابته شوې چې ددخانياتو ضررونه يوازې په معتاد پورې محدود نه پاته کيږي بلکې دهغه په شا و خوا کسانو هم ورته اغيزې لري.

استاد ډاکټر محمد علي بار دطب پوهنځي غړئ وايي:

ددخانياتو په ضررونو کې څه شک نشته بلکې دهغو ناوړه اغيزې پر روغتيا باندې دداسې مهلکو ناروغيو لکه طاعون، کولرا، چيچک، سل، جذام او ... څخه په

د دخانیاتو په استعمال کې د شریعت حکم

فضیلتمآب امام اکبر
جاد الحق علی جاد الحق
د جامع الازهر شیخ

الحمدلله والصلاة والسلام علی رسول الله

وبعـــــد:

مسلمانو فقهیهو او علماؤو د دخانیاتو د حقیقت په څرګندونه کې خاصه پاملرنه کړې او دهغه په هکله او د استعمال په اړوند یې زیاتې څیړنې کړې، آثار یې لیکلي چې دهغو پر بنسټ دهغو د زیانونو او ګټو په هکله یې شرعي حکمونه صادر کړیدي. دهغو په هکله د قرآن او سنتو په نصوصو کې څه ندي راغلي داځکه چې د دخانیاتو استعمال په یوولسمه هجري پیړۍ کې د اروپا په وچه کې رواج پیدا کړ او وروسته یې بیا مراکش، سودان او دهغو له لیارې نورو اسلامي هیوادونو ته سرایت وکړ. تر هغو دمخه دهغو په استعمال څوک نپوهیدل.

په اسلامي هیوادونو کې دهغو د پیدایښت او استعمال په هکله د علماؤو نظریې سره توپیر لري. یو شمیر یې وایي چې زیاتې ګټې لري دمثال په توګه یوله هغو څخه وایي چې خواږه هضمـوي او زهري مـواد له منځـه وړي په مـعـده کې چنجي وژني او د بلغم خارجیدل اسانوي او همدا رنګه سر او جسد تود ساتي او زکام کموي. دسړي همت پیاوړئ کوي او د فضله موادو د خارجیدو د چټکۍ او اسانتیا سبب ګرځي.

خو بله ډله بیا د عصر د طبیبانو او حکیمانو څیړنو او نظریو پر بنسټ وایي چې

مجموع کې زیاتې دي. مونږ د دخانیاتو د استعمال ناوړه پائیزې هله درک کولای شو چې وپوهیږو چې دهغو د استعمال له امله هر کال ملیونونه انسانان خپل ژوند له لاسه ورکوي او نور ملیونونه یې په ډول ډول ناروغیو، ستونزو او ربړونو اخته دي.

د دخانیاتو د استعمال نه راپیدا کیدونکې مهمې ناروغۍ

الف - تنفسي جهاز

د سږو او حنجرې سرطانونه، دقصباتو مزمن التهاب او ایمفیزیما .

ب - زړه او دوینې دوران

د زړه ټکان، سکته یا ناګهاني مړینه، دوینې درګونو ضربان، او په اطرافوکې دوینې د دوران اختلال او تشوشات.

ج - هضمي جهاز

د شونډو، خولې، ژبې، حنجرې او مرۍ سرطانونه، د مرۍ او اثنا عشر زخمونه او د پانقراص سرطان .

د - بولي جهاز

د مثانې سلیم تومورونه، د مثانې سرطان او د پښتورګویا بډوګو سرطان.

هـ - امیندواره ښځې او ماشومان

د سقطونو زیاتوالئ، د ماشوم کم وزني، د زیږیدو په وخت کې د ماشوم د مړینې زیاتوالئ، د جنین د مړینې زیاتوالئ، په تې رودونکو ماشومانو کې د سږو د التهاب زیاتوالئ.

و - نادرې ناروغۍ

لکه دستر گو درگونو ناروغۍ، رونتوب، دالرژیکو یا حساسیت دناروغیو زیاتوالئ لکه ارتیکاریا، دپوستکي التهابات، دغوږونو، پوزې او ستوني ناروغۍ، دوینې دفشار زیاتوالئ، دشکرې ناروغي په وینه کې دکولسترول زیاتوالئ او پندتوب.

ډاکټر بار زیاتوي: «په اثبات رسیدلې چې دپنډیو درگونو ناروغي ۹۵ ٪ په دخانیاتو معتادو کسانو او یوازې ۵ ٪ په نورو کې لیدل کیږي یعنې ویلای شو چې دا ناروغي تقریباً په معتادینو پورې محدوده ده.»

او هم ثابته شویده چې دوی تر نورو څو برابره زیات دخولې، مرئ او حنجرې په سرطانونو اخته کیږي. د دخانیاتو په معتادینو کې مرینه په مجموع کې دوبائي ناروغیو له مرینې څخه څو برابره زیاته ده چې په هغو کې هر درېم کس د دخانیاتو له وجې مري.

دډاکټرانو او طبي متخصصینو دنظریاتو په رڼا کې
دمعاصرو دینی عالمانو نظریې

لکه چې مخکې ورته اشاره وشوه دختیځې مدیترانې لپاره دنړیوالې روغتیایې اداري منطقوي دفتر دې ته جوګه شو تر څو دیو شمیر طبیبانو، پوهانو، متخصصینو او طبي څېړونکو نظریې د دخانیاتو په هکله راټولې او دیني علما ؤ ته یې وړاندې کړې تر څو هغه د دلیل او سند په حیث خپلې مخې ته کیږدي او دهغو دضررونو او خطرونو پر بنسټ خپله فتوی ورکړي. پدې ډول دوی ته هغه امکانات برابر شول چې

تر هغو مخکې علما ؤ ته نه ؤ، نو ځکه دوی د دخانیاتو د ضررونو په هکله یقینی معلومات تر لاسه کړل چې هیڅ ډول شک او شبهه پکښې نشته. دهمدې قوې او یقیني دلایلو پر بنایې پدې حکم اتفاق سره وکړ چې **هغه د تحریم او یا کم له کمه د تحریمي کراهیت له دایرې څخه چې تحریم ته نژدې ده، بهر ندي...**

سره د دې چې پخواني علماً به د دوی لدې پریکړې سره موافق نه ؤ خو هغوی معذور دي ځکه چې د دخانیاتو د ضررونو او مفاسدو په هکله یې یقیني دلایل نلرل. نو ځکه یې حکم هم د ضرر دلرلو یا نه لرلو پر بنا ؤ. خو دې علما ؤ خپلې نظریې په لاندې اصولو بناً کړیدي:

اول: د دې مسئلې د ثبوت پر اساس چې د دخانیاتو روغتیایی ضررونه انسان ته تر دې حده د ډې چې هغه هلاکوي او انسان ځان په خپله هلاکت ته اچوي چې ور ځخه منع کړای شوي د ډې لکه چې خدای (ج) فرمایلي: ﴿ وَلاَ تَقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ إِنَّ اللّه كَانَ بِكُمْ رَحِيماً ﴾ (النسأ: ۲۹) خپل ځانونه مه وژنې او ځان په هلاکت کې مه اچوې. همداً رنګه زمونږ دین لکه چې نورو ته یې له ضرر رسولو څخه منع کړې، ځان ته ضرر رسول یې هم منع کړي دي. دا مشهور حدیث د ډې چې «لاضرر و لا ضرار» (ابن ماجه دارقطنی په روایت).

دوهم: اسراف، تبذیر **او د مال ضایع کول په بې ګټې چارو کې، ټول د شریعت له مخې منع دي.** الله (ج) فرمایی: ﴿ وَلاَ تُسْرِفُوْا إِنَّهُ لاَ يُحِبُّ الْمُسْرِفِينَ ﴾ (الانعام: ۱٤۱، الاعراف ۳۱). او ﴿ وَلاتُبَذِّرْ تَبْذِيراً، إِنَّ الْمُبَذِّرِينَ كَانُوا إِخْوَانَ الشَّيَاطِينِ وَكَانَ الشَّيْطَانُ لِرَبِّهِ كَفُوراً ﴾ (الاسراء ۲٦ و ۲۷) یعنې اسراف مه کوې چې خدای (ج) اسراف کوونکي نه خوښوي او تبذیر مه کوې ځکه چې تبذیر کوونکي یا بیځایه مصرف کوونکي د شیطان ورونه دي. له مغیره ابن شعبه (رض) څخه روایت د ډې چې رسول الله ﷺ فرمایلي: «خدای (ج) لاندې څیزونه په تاسو حرام ګرځولي: د مور نافرماني، سوالګر ته

څه نه ورکول پتل دنورو څخه څه غوښتل، دنجونو ژوندي په ګور کول، غالمغال، زیات غوښتل او دمال بیځایه تلف کول. » همدا رنګه فرمایی: « دهغو پوښتنو څخه چې دقیامت په ورځ له بنده څخه کیږي یو هم دمال پوښتنه ده چې له کومه ځایه یې لاس ته راوړې او چیرته یې ولګاوه؟ »

دریم: بدبوی یې دسلیمې طبعې خاوندانو لپاره دخبایثو په جمله کې راځی او دخبائثو په هکله دې دین نظر او دریځ څرګند دئ چې خدای(ج) فرمایی: ﴿ الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ الرَّسُولَ النَّبِيَّ الأُمِّيَّ الَّذِي يَجِدُونَهُ مَكْتُوباً عِنْدَهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَالإِنْجِيلِ يَأْمُرُهُمْ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَاهُمْ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبَاتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبَائِثَ ﴾ (الاعراف:۱۵۷) یعنې متقی او پرهیزګاره مسلمانان هغه دي چې دصدق او اخلاص له مخې دامی رسول ﷺ متابعت کوي، دهغه چې په تورات او انجیل کې یې پیدا کړې، په نیکو کارونو امر کوي او له بدو کارونو څخه منع کوي او دهغو لپاره پاک څیزونه حلال او ناپاک څیزونه حرام ګرځوي.

والله أعلم

ربنا لا تؤاخذنا أن نسينا أو أخطانا

ددخانیاتو په هکله

پوښتنې او ځوابونه

پ: آیا دخانیات روغتیا ته زیان رسوي؟

ځ: هو! په ۱۹۶۲م کال دبرتانیې دشاهي پوهنتون دطب پوهنځي دتولو په اتفاق سره دسګرټو او په روغتیا باندې دهغو دناوړه اغیزو ترمنځ اړیکی اعلان کړې.

په ۱۹۷۰م کال دامریکی دمتحده ایالاتو سرطبیب په بشپړ صراحت سره اعلان وکړ چې دسګرټو استعمال روغتیاته ډیر مضر دئ.

او په ۱۹۷۸م کال دنړیوالې روغتیایي اداړې متخصصینو اعلان وکړ چې دخانیات په ناروغیو اخته کیدو او دناڅاپې مړینې اصلي سبب دئ دهغو څخه یوازنئ دژغورنې لیار له دخانیاتو څخه ډډه کول او یا دسره په هغو نه عادت کیدل دي.

پ: هغه مواد چې په تنبکو کې موجود او دروغتیا لپاره زیان رسوي کوم دي؟

ځ: تر ټولو خطرناک یې کاربن مونو اکساید، نیکوتین او دقیر ترکیبي مواد او ډولونه یې.

پ: دغه مواد انسان څرنګه هلاکوي؟

ځ: کاربن مونو اکساید هغه ګاز دئ چې دوینې په وسیله داکسیجن دانتقال قدرت او قابلیت کموي،نیکوتین ددوام او عادت کیدو سبب کیږي یعنې لکه کوکائین او مورفین انسان له تنبکو سره عادت کوي چې پرته له هغو عادی ژوند سرته نشی رسولای، دوینی فشار لوړ بیایي او د زړه حرکات او فشار تر

عادي حالت زياتوي. زړه چې داکسیجن دکمبود له کبله هاسې هم کمزورئ شوئ وي نو کاربن مونو اوکسايد او نيکوتين دواړه دزړه او دماغ دشرائينو عادي دنده مختل کوي او دزړه او دماغ دسکتې سبب کيږي. دقير دترکيبي موادو ډولونه دسرطان سبب کيږي او دتنبکو دنورو مضرو موادو سره په ګډه دسږو دسرطان، امفزيما، او په قصبو کې دمزمن يا دوامداره التهاب سبب کيږي.

پ: آيا هغه سګرټ چې نيکوتين او قير مواد پکښې کم وي پر روغتيايې خطر کم دئ؟

ع: نه هيڅکله نه. ځکه چې معتاد کس دهغو دنقصان دبشپړولو په منظور زيات دخانيات استعمالوي نو پدې ډول دهغه په بدن کې بيا هم په هماغه اندازه کاربن مونو اکسايد، نيکوتين، قير مواد او نور ورننوځي.

پ: آيا فلټر لرونکي سګرټ خطر نلري؟

ع: لري. ځکه چې فلټر دکاربن مونو اکسايد، نيکوتينو او نورو مضرو ګازونو څخه مخنيوئ نه شي کړای، برخلاف هغه کسان چې له فلټرلرونکو سګرټو څخه استفاده کوي زيات دزړه او ماغزو په سکتې اخته کيږي.

پ: آيا سيګار او پايپ لږ خطر لري؟

ع: هغه تنباکو چې په سيګار او پايپ کې استعماليږي نيکوتين او قيری مواد يې زيات دي نسبت وهغو تنبکو ته چې په سګرټو کې ورڅخه کار اخستل کيږي او بل هغه لوګئ چې دسيګار او پايپ څخه پورته کيږي کثافت يې دسګرټو تر لوګي زيات دئ چې هم استعمالونکي او هم دهغه چاپير خلکو ته ډير ضرر لري.

پ: آيا بې لوګي تنباکو شته؟

ځ: هوا دا هغه تنباکو دي چې په خوله کې اچول کيږي (نسوار) يا ژوول کيږي، کيدائ شي چې دشپې لخوا په خوله کې کيښودل شي او خوند يې په دوامداره توګه وڅکل شي. هغه تنباکو دپوډرو په شکل ميده کيږي او دنسوارو په حيث استعماليږي.

پ: که چيرې بې لوګي تنباکو دسګرټو پرځای استعمال شي، خطر لري؟

ځ: هو خطر لري. هغه دخولې دسرطانونو اودغابنونو دتلف کيدلو سبب کيږي ځکه چې هغه هم سرطاني مواد او نيکوټين چې دعادت کيدو سبب کيږي په ځان کې لري.

پ: په نړۍ کې دتنبکو په کرنه او ترويج باندې څومره شتمني لګيږي؟

ځ: هرکال په نړۍ کې دوه زره پنځه سوه ميليونه امريکايي ډالره دتنبکو په ترويج لګيږي. دا هغومره پيسې دي چې دنړۍ ټول ماشومان دشپږو وژونکو ناروغيو لکه ديفتيريا، توره توخلي، تيتانوس، شړئ، دماشومانو فلج او توبرکلوز څخه ژغورلئ شي. او هغه پيسې چې ددخانياتو په استعمال کې مصرفيږي دهغو ځلويښت برابره يعنې سل زره ملينونه امريکايي ډالره دي.

پ: هرکال څومره کسان ددخانياتو داستعمال له وجې مري؟

ځ: په ټوله نړۍ کې هر کال دوه نيم ملينونه کسان ددخانياتو داستعمال له وجې خپل ژوند له لاسه ورکوي يعنې په هرو ۱۳ ثانيو کې يو تن ددخانياتو داستعمال له کبله سترګې له دنيا پټوي.

پ: ددخانياتو داستعمال له کبله دمرينې فيصدي څوده؟

ځ: په هغو کسانو کې چې دسږو دسرطان له امله مري ۸۵٪، هغه چې دمزمنو

قصبي التهاباتو له کبله مري ۷۵٪ او هغه چې دزړه دناروغيو له کبله مري ۲۵٪ يې هغه کسان دي چې د دخانياتو سره عادت لري.

دسږو دسرطان ټول حالتونه دجراحي په وسيله دمعالجې وړنه وي. هغه چې دجراحي په وسيله معالجه کيدائ شي يوازې ۵٪ دي چې هغوی هم يوازې تر پنځو کلو پورې ژوندي پاته کيدائ شي او بس.

هغه ناروغي چې له دخانياتو سره اړيکي لري په نړۍ کې دمړينو ډيره لوړه فيصدي جوړوي دمثال په توګه په کيوبا کې ۳۰٪ په امريکې کې ۲۵٪ او په برتانيې کې ۱۵-۲۰٪ له دخانياتو څخه دمړينې شمير په يوه کال کې په امريکې کې ۴۰۰،۰۰۰ په جرمني کې ۱۴۰،۰۰۰، په برتانيې کې ۱۰۰،۰۰۰، په ايټاليې کې ۷۰،۰۰۰ او په استراليا کې ۲۳،۰۰۰ دئ.

پ: دښځو لپاره د دخانياتو ځانګړي خطرناکه ضررونه کوم دي؟

ع: که چيرې په دخانياتو معتاده ښځه د امينداوارۍ دمخنيوي په غرض دخولې له لارې تابليټونه استعمال کړي په هغو کې دزړه دسکتې، دمازغو دسکتې او دپنډيو درګونو دبندښت خطر لس ځله تر نورو خلکو زيات دئ په تيره بيا که دښځې دوينې فشار هم لوړ او دوينې کولسترول يې هم زيات وي. ددې ښځو دمياشتنې عادت قطع کيدل يا دنه اُميندواره کيدو عمر تر نورو ښځو درې کاله دمخه راځي.

پ: دداسې ښځو جنينونه دکومو خطرونو سره مخامخ دي؟

ع: که چيرې اُميندواره ښځه دخانيات استعمال کړي، کوم جنين چې دهغې په نس دئ هغه يې هم دمور دوينې له لارې په غير مستقيم ډول تنفس کوي. دمور له وينې څخه کاربن مونو اکسايډ او نيکوتين دجنين وينې ته ننوځي نو ځکه هغه زيات اکسيجن تر لاسه کولائ نشي ولې چې داکسيجن ځای په وينه کې

کارین مونو اکساید نیسي. په نتیجه کې دهغه د زړه حرکات چټکیږي، چې وزیږیږي وزن یې کم، کله چې په پښو راشي ګامونه یې واړه او خواره واره وي اود اکثرو یې روغتیایي او عمومي حالت عادي او ښه نه وي. د دخانیاتو داستعمال خطر د دریمې نړۍ په ښځو زیات دئ ځکه چې په دې هیوادونو کې فقر او ناداري، کم خوني او دماشومانو شمیره هم ډیره زیاته ده.

پ: د دخانیاتو جبري استعمال کوم دئ؟

ع: هغه چې غیر معتاد شخص یې دلوګي په تنفس کولو مجبور شي او دا هغه وخت دئ چې نور سګرټ وڅکوي او دئ ورسره وي.

پ: آیا دا ډول د دخانیاتو استعمال هم روغتیا ته ضرر رسوي؟

ع: تنباکو داسې کیمیاوی خواص لري چې دنورو دسترګو، پوزې اوبلعوم د تخریش سبب هم کیږي. نو هغه کسان چې دسګرټ څکوونکو سره ناست وي په تیره بیا چې هغه ځای تړلئ وي لکه دفتر، خونه او نور عمومی ځایونه، نه یوازې دهغو دغړو د تخریش سبب کیږي بلکې عین روغتیایي ضرر رونه ورته لري. احصائیو ثابته کړیده چې دسږو سرطان په هغو ښځو کې چې میږونه یې معتاد وی څو ځله تر هغو ښځو زیات ؤ چې میږونو یې د دخانیاتو سره عادت نه درلود یا یې دغیر معتادو کسانو سره واده کړئ ؤ. په ۱۹۸۵ م کال دسویدن محکمې حکم صادر کړ چې په خپل ډول کې لږئ ؤ داسې چې غالب ګمان سره دیوه غیر معتاد مامور مړینه د معتادو ملګرو سره دنږدې والي له امله منځ ته راغلې وه نو محکمې یې کورنۍ ته دعوض حکم ورکړ.

د دخانیاتو د جبري استعمال له کبله هر کال په امریکې کې (۴۰۰۰-۵۰۰۰) کسان او په برتانیې کې تر (۱۰۰۰) کسانو پورې مري.

پ: د دخانیاتو څخه د خلاصي ګټې کومې دي؟

ع: دخولې له بدبوی، بویناکه تنفس او د ویښتانو له بدبویې څخه خلاصئ، د غاښونو د زیږیدلو، په کور کې د دخانیاتو د استعمال له کبله د کله ناکله اور لګیدلو او د کور د سامان او جامو د سیځلو څخه ژغورنه، همدارنګه د هغو د دوام له کبله د زیات مصرف څخه خلاصئ.

د هغه مال او شتمنۍ چې په دخانیاتو لګیده سپما ترڅو یې د اساسي لګښتونو لپاره په بڼه ډول مصرف کړي. د شعور، احساس او سلوک بڼه کیدل او د دروغ رمټ بدن او سالم ژوند اختیارول.

پ: د عامه روغتیا مسئولین خلک کومو کارونو ته رابولي؟

ع: * غیر معتاد خلک حق لري چې پاکه له لوګي خالي هوا تنفس کړي، په خاص ډول بیا په کار او وظیفه کې او په عمومي ټرلو ځایونو لکه طعام خوریو او ټرانسپورټ کې.

* پر طبیبانو او عامې روغتیا په کارکوونکو د ه چې له دخانیاتو پرهیز او ډډه وکړي او پدې اړوند بڼه بیلګه واوسي.

* په هغو ښارونو کې چې پر دخانیاتو بندیز د ئ، د هغو د اخلیدل دې په جدي ډول تر کنترول لاندې ونیسي.

* د دخانیاتو د استعمال د پیل او د هغو د دوام د مخنیوي په غرض دې د روغتیایي تعلیماتو او لارښوونو پروګرامونه په خاص ډول د ځوانانو د ذهنونو د روښانولو او د دې مصیبت څخه د هغو د ژغورنې په منظور ترتیب کړي.

* د خلکو روغتیا ته باید د تنبکو د شرکتونو پرګټو که دا دولتي وي او

ددخانیاتو استعمال په لږي سرکي بدن ته څه ګټې لري خو وروسته بیا د دایمي استعمال له وجې یې په ستر ګو کې پرده، په غړو کې سستي او په هضمي جهاز کې قبضیت رامنځ ته کیږي. ځني یې بیا داسې وایي چې څرنګه چې دخانیات وچ او تاوده وي نو ځکه دتندې او دبدن دوچیدو سبب ګرځي. زړه او دماغ ته مضر، دوینې دغلظت او دزړه دټکان سبب ګرځي.

لدې کبله دفقهو په نظر یو او اقوالو کې هم اختلاف راپیدا او حکمونه یې سره توپیر لري چې داباحیت، کراهیت، منع او حرمت تر منځ دوران کوي. ددې اختلافاتو بنسټ داشیاؤ په اصلیت کې نغښتئ دئ. پدې معنی چې ځني وایي چې، اصل په ځیزونو کې حرمت دئ مګر دا چې داباحت په هکله یې شرعي دلیل موجود وي او ځني نور بیا وایي چې اصل په ځیزونو کې اباحت دئ مګر داچې دحرمت په هکله یې شرعي دلیل موجود وي او دریمه ډله بیا دګټې او زیان تر منځ توپیر ته قایل او وایي چې هر هغه شی چې مضر دئ هغه حرام او هغه څه چې ګټور وي مباح دئ.

نو ځکه هغه څوک چې وایي ددخانیاتو په استعمال کې ګټه ده، ددې ګټو پر بنسټ دهغه په اباحت حکم کوي؛ هغه کسان چې ددخانیاتو داستعمال زیانونه ورته ثابت شویدي د زیانونو له کبله هغه حرام بولي خو هغه څوک چې په ګټه او زیان کې یې شکمن دي، دهغو استعمال مکروه بولي. ځني نور دهغه استعمال یو اسراف بولي او څرنګه چې په زیاتو پیسو پیرودل کیږي نو ځکه دحرامو ځیزونو په ډله کې یې شاملوي. همدارنګه دبدبوی له کبله یې او داچې ضرر یې نوروته هم رسیږي او په خاص ډول معتاد ته یې، نو ځکه یې دحرمت حکم کوي. پدې ډول وینو چې دفقهو او علماؤو اقوال ددخانیاتو داستعمال په هکله یو شان ندي، ځکه چې دهغو ضررونه او مفاسد په یقیني ډول هغوی ته ندي ثابت شوي او برسیره پرهغو څرګند شرعي نص او دلایل هم ددخانیاتو دحرمت او کراهیت په هکله موجود ندي.

دعلماؤو څخه یو تن تولې دغه رایې او نظریې خلاصه او جمع کړي او وایي چې:

B
6·50
WHO
6957
V-1 ep. 2

Published by M.O.P.H. Afghanistan with
technical and financial support of W.H.O.
November 1997.

All rights reserved

Printed at: PanGraphics (Pvt) Ltd., Islamabad

که شخصي، ترجيح ورکړل شي.

* د دخانياتو په هکله دخلکو مفکورو ته بدلون ورکول، ترڅو چې د دخانياتو نه استعمال په طبيعي اجتماعي سلوک بدل شي او د دخانياتو استعمال ته په داسي نظر وکتل شي چې دا يو ناوړه انحرافي او ډير رټلئ او نه منل شوئ سلوک دئ.

هغه مباح ده، څرنګه چې د ردالمحتار یا فتاوي شامي کتاب هم دې موضوع ته اشاره کړې او علامه اجهوري هم په خپله رساله کې ددې مطلب یادونه کړیده چې دځلور ګونو مذهبونو له امامانو څخه یو چا دهغه داباحت او حلیت فتوئ ورکړې چې په دیني چارو کې په هغه زیات باور کیږي. علامه عبدالغني نابلسي حنفي په خپله رساله کې دا مطلب تائید کړئ او دهغه په اباحت کې وایي: دحرمت اوکراهیت په هکله یې کوم شرعي دلیل نشته او دتولو معتادینو مستیدل او داندامونو سستیدل هم ثابت شوي ندي ترڅو دمطلق حرام او یا تحریمي مکروه حکم ورباندې وشي. نو دا دهغې قاعدې لاندې راځي چې اصل په اشیاوو کې اباحت دئ. د «نظائرو او اشباه» په کتاب کې د «اصل په اشیاؤ کې اباحت دئ» تر عنوان لاندې ویل شویدی چې اثر یې په هغو ځایونو کې څرګندیږي چې حکم یې مجمل، ګران اویا پټ وي، چې د هغو له جملې څخه دخانیات دي. د «ردالمحتار» یا فتاوي شامي په کتاب کې راغلې دي چې ددخانیاتو داخلول تردې قاعدې لاندې، دې ته اشاره ده چې هغه نه نشه راولي، نه ضرر لري او نه دبدن غړي سست او کمزورې ذدې نه داسې څرګندیږي چې حکم یې داباحت او توقف په شاوخوا راڅرخي ... او

دمختار قول هماغه لږئ قول دئ ځکه چې دشافعینو او احنافو جمهور و علماؤ په غالب نظر لکه چې په کتاب «تحریر» کې هم لیکل شوي اصل په اشیاؤ کې اباحت دئ. مګر علامه طحطاوي وایي چې دخارجي علت اوعوارضو له کبله یې استعمال تحریمي مکروه ده لکه د هوري او پیازو خوړل په جومات کې چې ددخانیاتو حکم هم په همدې اندازه دئ او یا دهغو استعمال دقرآن کریم دتلاوت په وخت کې چې دکتاب الله په تعظیم کې داخلال سبب کیږي. پدې حالاتو کې یې کراهیت عارضي دئ ځکه چې په نورو حالاتو کې دهغه په هکله په اباحت کې یو. ددخانیاتو په استعمال کې دعلامه عمادي نظریه چې علامه ابوالسعود وراندې کړیده تنزیهي کراهیت دئ. دغزي شافعي قول چې دهغو دحرمت په هکله دئ پخپله دشافعینو لخوا

تضعيف شوئ او دشافعينو مذهب هغه تنزيهي مکروه بولي مگر دا چې د حرمت په هکله يې عارضه پيدا شي. او کراهيت داباحت په جمله کې راځي.

لدې څخه يې داستعمال او راکړې ورکړې حکم څرګندېږي چې اصل په هغه کې اباحت دئ **مگر دغني عوارضو پر بنا يې حرمت يا تحريمي کراهيت ثابتيږي، چې دا عوارض عبارت دي له: زيانونه يې بدن يا مال او يا هم دواړوته**، استعمال او پلورل پېرودل يې په جومات کې او يا هم د قرآن عظيم الشان داوريدو په وخت کې چې دکتاب الله په تعظيم کې اخلال دئ.

ځني پخواني فقهي دعصر دطبيبانو او حکيمانو له قوله وايي چې د دخانياتو استعمال په لږې سرکې ځني جسمي ګټې لري خو کله چې پرې مداومت وشي، پر ستر ګو باندې پردې، کسالت، په غړو کې ثقلت او په هضمي جهاز کې قبضيت راپيدا کوي او څرنګه چې وچ ګرم يا تود دئ نو ځکه په بدن کې تُنده او وچوالئ را پيدا کوي، زړه او دماغ ته مضر، دوينې دغلظت او دزړه دټکان سبب کيږي.

معاصر طب هم دا ضرورونه تائيدوي او تثبيت کړي يې دي. معاصرو طبيبانو د دخانياتو ناوړه اغيزې دانسان پر روغتيا باندې ثابت کړي لکه چې دنړيوالې روغتيايي اداري دپوهانو او ماهرينو دانجمن په تقرير کې د «دخانيات او روغتيا» تر عنوان لاندې داسې راغلي دي: (۱)

دسګرټو استعمال دزياتو ناروغيو په پيدايښت کې فعال او بنيادي رول لري چې تر ټولو خطرناک او دااهميت وړيې دسږو سرطان، دقصباتو مزمن التهاب او دسږو هوايي پرسوب (ايمفيزيما) دي. برسيره پردې ناروغيو دمړينو اغيزمن سبب هم دئ ځکه چې دسګرټو او دخانياتو استعمال دداسې زياتو ناروغيو سبب کيږي چې انسان تر زياتې اندازې پورې بې وزلې او جسمي ناتوانه کوي او بالاخره يې وژني دا ناروغي صدري او قلبي يا دزړه له ناروغيو څخه عبارت دي. همدارنګه ددخانياتو داستعمال

(۱) ص ۵۹، ۹۰

او دمعدې او اثنا عشر دزخمونو او دخولې، حنجرې او بلعوم یا هضمي مجرا دسرطانونو ترمنځ تینګې اړیکې موجودې دي.

برسیره پردې «ددخانیاتو اغیزه پر روغتیا باندې» کتاب کې هم داسې لیکل شوي: (۱)

په ۱۹۷۷ کال کې دبرتانیې دطبیبانو دشاهي فاکولټي په تقریر کې راغلي چې هغه اندازه نیکوټین چې په یوه سګرټ کې شته که دپیچکارۍ په وسیله دانسان ورید ته زرق یا داخل شي، کفایت کوي چې انسان په بشپړ روغتیايي حالت کې له منځه یوسي.

دنړیوالې روغتیايي ادارې په خپرونو کې هم پدې تینګار شویدئ چې کومه مړینه چې ددخانیاتو داستعمال له وجې منځ ته راځي دهغو مړینو څخه څو ځله زیاته ده چې دوبا یا کولرا دناروغۍ په نتیجه کې منځ ته راځي. دسګرټو استعمال په اوسني عصر کې ددومره مړینو سبب کیږي چې ډیرو خطرناکو وباګانو په پخوا زمانو کې هومره تلفات نه لرل.

دقیقو احصائیو په امریکې او اروپا کې ثابته کړیده چې زیادتره په سګرټو یا دخانیاتو معتاد کسان ډول ډول ناروغۍ لري، لدې کبله حکومتونه په تیره بیا د پرمخ تللو هیوادونو حکومتونه ددخانیاتو پرضد زیاته مبارزه کوي تر څو ناوړه او منفي اغیزې یې کمې کړي.

دبرتانیې یوې طبي مجلې یو بحث خپور کړئ چې پکښې ویل شویدي چې «په دخانیاتو معتادیدل دذهن او حافظې دکمزورتیا سبب کیږي ځکه چې معتادین په خپل دې عمل سره پر خپل ذهن او حافظې باندې تکلیف او فشار راولي او هغه دشریانونو د جدارونو دکلکیدو او د زړه او دماغ دسکتې سبب کیږي.»

---

(۱) ډاکټر علي بار دطبیبانو دشاهي پوهنتون غړئ ص۳۶، ۳۹، ۴۳، ۴۶، ۴۸

«دبرتانیي ددخانیاتو پرضد دمبارزی آمر وایي چي څیرنو دا ثابته کړیده چي هر کله یو غیر معتاد شخص دمعتاد ینو په ټولنه کي ژوند وکړي دسګرتو دلوګي اغیزه دهغه روغتیا دزیات خطر سره مخامخ کوي...»

دپنځو څیزونو ساتنه داسلامي ضرورتونو څخه ده: ددین ساتنه، دعقل ساتنه دځان ساتنه، دمال ساتنه او دشرف ساتنه، یو مسلمان دقرآن او سنتو د نصوصو په اساس دنفس له وژلو او هلاکت ته دهغه له اچولو څخه منع کړای شوئ دئ لکه چي خدای(ج) فرمایی: ﴿وَلاَ تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ﴾«البقره ۱۹۵» یعني ځان په هلاکت کي مه اچوی یا ﴿وَلاَ تَقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ﴾ «النساء ۲۹» ځان مه وژنی.

مسلمان دخدای(ج) په وړاندې دخپل مال څخه مسئولیت لري چي هغه یې له کومه پیدا او چیرته یې مصرف کړ، همدارنګه دخپل جسم مسئولیت په غاړه لري چي څرنګه یې هغه آخرته ورساوه.

لکه څرنګه چي په حدیث شریف کي راغلي دقیامت په ورځ له بنده څخه مخکې لدې چي قدم یې لانه وي اخستئ له عمر څخه یې پوښتنه کیږي چي څنګه یې مصرف کړئ، له عمل څخه یې چي څه کارونه یې کړي، له مال څخه یې چي له کومه ځایه یې لاس ته راوړئ او په څه کي یې مصرف کړئ، او له بدن څخه یې چي څرنګه یې آخر ته رسولئ. (داحدیث شریف ترمذی روایت دئ).

د دخانیاتو په استعمال کي زیاتئ یا افراط کول اسراف او تبذیر دئ چي شریعت هغه منع کړئ لکه چي خدای(ج) فرمایي: ﴿وَلاَ تُبَذِّرْ تَبْذِيراً﴾ «اسراء ۲۶» یعني بې ځایه خرڅ مه کوی. هغه څوک چي مالي توان نلري ورته فوق العاده تکلیف دئ ځکه چي هغه دوی دژوندانه له ضروریاتو او لوازمو څخه محروموي.

پنکاره او جوته ده چي ددخانیاتو استعمال په هره بنه او طریقه چي وي، انسان ته

ژر او یا دوخت په تیرید و سره زیات او ملاماتوونکی زیان رسوي او هغه په ډول ډول ناروغیو اخته کوي. نو ځکه یې استعمال ددې نصوصو پر بنسټ منع او په تیره یې بیا استعمال دیوه مسلمان لپاره هیڅ جواز نلري. یو مسلمان باید د خپل ځان او مال پوره ساتنه وکړي او دهغو زیانونو څخه چې معاصر طب یې بیانوي خپل ځان، کورنۍ او انساني ټولنه وژغوري. هغوی باید خپل مال په داسې چارو او ځایونو کې ولګوي چې جسم ته یې ګټور او د ژوند سلامتی ته یې مرسته وکړي او پدی توګه وکولای شي خپل مسئولیتونه د خدای (ج) او خپلې کورنۍ په وړاندې ادا کړي. دوی باید پدې وپوهیږي چې غیبتلئ مسلمان د خدای (ج) په نزد ترکمزوري یا ضعیف مسلمان بهتر او محبوب دئ).

والله سبحانه و تعالی أعلم»

ددخانیاتو په استعمال کې دشریعت حکم

فضیلتمند ډاکټر
عبدالجلیل چلپی
داسلامي تحقیقاتو دانجمن غړئ

په اوسني عصر کې ددخانیاتو استعمال په خلکو کې یو عمومي عادت گرځیدلئ چې له هغه څخه ډیرې کمې تولنې او ننې ښارونه پرمختللي وي که وروسته پاتې یا دپرمختگ په حال کې - په امان کې پاته دي. ددې عمل دومره خوریدو، خلک پدې فکر کې اچولي چې داگنې یو مباح عمل دئ نه حرام او نه مکروه.

ددخانیاتو استعمال درسالت په نیکمرغه عصر او دفقهي او فقهي مذهبونو د تدوین او منځ ته راتگ په وخت کې موجود نه ؤ او نه خلکو هغه پیژندل. لدې کبله دهغو په هکله په قرآن عظیم الشان او سنتو کې څه ندي راغلي او نه د مذهبونو له اصحابو څخه پدې هکله کوم حکم اوریدل شویدئ.

کله چې په شپاړسمه میلادي پیړئ کې ددخانیاتو استعمال رواج پیدا کړ دهغه وخت فقهیهو دهغو معلوماتو پر بنسټ چې له هغه څخه یې لرل پر هغه یې دمباح او جایز حکم کړئ. پدې حکم کې دهغو وروستئ مرجع قیاس ؤ او هغو ته نه وه ثابته شوې چې پدې کې روغتیایي ضرر ونه شته، هغو زیاتره ددخانیاتو داستعمالونکي په حال فکر او نظر درلود نه ددخانیاتو مادي ته او هغو ته ویل شوي ؤ چې په استعمال کې زیان یا ضرر نشته. ددخانیاتو داستعمالونکي په هکله به یې لاندې پنځه شرعي احکام تطبیقول چې په هغو کې هم درأیو او نظریو اتفاق موجود نه ؤ.

۱ - هغه یې دبدایو او غنی خلکو لپاره چې په پیرودلو او استعمال کې یې مالي او

اقتصادي تکليف ورته نه ؤ ، مباح باله او استعمال يې لکه د چا يو او قهوې استعمال باله.

۲- ناداره او بې وزله کسانو ته يې هغه مکروه عمل، باله او دا حکم هم په داسې صورت کې وه چې پيسې او استعمال يې دهغه په اقتصادي ژوند کومه اغيزه ونلري او روغتيايي هم له هغه څخه زيانمنه نشي.

۳- هغو نادارو او غريبو کسانو ته چې پيسو يې دهغه په ژوندانه کې زياته اغيزه درلوده، حرام بلل کيده او دا برسيره پر هغو، ددوی په روغتيا هم ناوړه او منفي اغيزه لرله.

٤- دهغه چا لپاره چې له هغو څخه يې پر ځني عملونو کې دنشاط او خوښۍ په منظور ګټه اخيسته لکه له چای او قهوې څخه چې دوينې پاته کيدو په مقصد کار اخستل کيږي، مستحب بلل کيده.

٥- که چيرې هغه د کومې ناروغۍ د علاج په منظور استعماليده واجب بلل کيده، يعنې د يوې دوا يا درمل په حيث د شفا او روغتيا لپاره يې استعمال واجب ؤ.

دا ؤ د پخوانيو فقهيو د اقوالو لنډيز، ښکاره ده چې هغو د استعمالوونکي حال ته زياته پاملرنه کوله، سره د دې چې په هغه زمانه کې يې روغتيايي ضررونه لانه ؤ ثابت شوي، خو بيا يې هم د شخص روغتيايي حالت ته په ځير او احتياط سره کتل.

ځني مجتهدين کرام هغه بشپړ حرام بولي چې دهغو له جملې څخه يو وهابيان دي، دوی هغه د بدايو او مالداره خلکو لپاره هم حرام او ناجايز بللي دائکه چې دا دمال او پيسو لګول په بې ګټې څيزونو کې دي. بهتره او غوره ده چې دا پيسې په يوه بل کار کې چې د خلکو ګټه پکښې نغښتې وي ولګول شي. د مال مصرفول په هغه څه او ځای کې چې منفعت يا ګټه ورڅخه نه وي اسراف دئ، چې خدای (ج) هغه منع کړئ او په اقتصادي او مالي چارو کې يې د سنت الله مخالف کار بللئ دئ. حتئ او دس

بسم الله الرحمن الرحيم

سريزه

دډاکټر حسين عبدالرزاق جزائري
دنړيوالې روغتيايي اداري دختيځې مديتراني
دمنطقوي دفتر مدير
په قلم

سره ددې چې دنړيوالې روغتيايي اداري له عمره څخه يوازې څلويښت کاله تيرږيدي، بياهم دلوی خدای په فضل او احسان دا اداره دپرمختګ لوړو مدارجوته رسيدلی ده.

په دې اړوند خبرې او قضاوت يو څه فکر او سوچ ته اړتيا لري، ترڅو سړئ د فکر او غور پر بنسټ او د هغه څه چې شوي دي، په پام کې نيولو سره، دا حکم وکړي. نړيواله روغتيايي اداره ويارې چې دبيلابيلو پروګرامونو په عملي کولو کې يې برئ ترلاسه کړئ، هغه پروګرامونه چې يو دبل بشپړوونکي دي، او په مجموع کې يې خپل هدف او هيلې ته چې روغتيا د ټولو لپاره ده، درسيدلو په مقصد چټک او ټينګ ګامونه اوچت کړي دي.

يو هغه څه چې دغه اداره يا سازمان پرې ويارې ښايي دا وي چې ويې کولای شول دخلکو دروغتيا دښه والي او ساتنې په مقصد ټولو خلکو ګډ کوښښونه او هلې ځلې جلب کړي. يو انکار نه منونکئ حقيقت دا دئ چې دروغتيا په ساتنه کې وګړئ او ټولنه برابر او مساوي مسئوليت لري. پس وګړئ يا فرد چې په هر موقعيت کې وي، هر ډول خصوصيت او طبيعت چې ولري دروغتيا د ښه والي په کار کې ارزښتناک

کوونکي ته چې دويالي يا سيند ترغاړې اودس کوي دا امر کوي چې داوبو په استعمال کې اعتدال او اقتصاد مراعات کړي. او دکم مال مصرف دمالداره په مال کې زياته اغيزه لري نسبت د اودس کوونکي له مصرف څخه دسيند ترغاړې. خدای(ج) په قرآن عظيم الشان کې اسراف کوونکو او بې ځايه خرڅ کوونکو ته لعنت ويلې دئ او هغوی يې دشيطان ورونه بللي دي. حتی داچې په مباح کارونو کې يې اسراف منع کړئ لکه چې فرمايي ﴿ وَكُلُوا وَاشْرَبُوا وَلاَ تُسْرِفُوا ﴾ «الاعراف ۳۱» يعنې وخورئ او وڅښئ خو له حده مه تيريږئ او اسراف مه کوئ.

دغه نظريه خپلو شيګنو او بنه مقام سره سره بياهم داستعمالوونکي حال ته ګوري او داسې ده چې ګنې دخانيات روغتياته څه تاوان نلري.

خو اوس ثابته شويده چې ددخانياتو استعمال داستعمالوونکي په روغتيا باندې ډيره ناوړه اغيزه لري آن داچې ضرر يې نه يوازې هغه بلکې ټولنې، کورنئ او نسل ته يې هم رسيږي. دروغتيايي چارو ماهرينو پدې هکله کتابونه او نشريې خپاره کړي دي.

ښايي ددخانياتو داستعمال روغتيايي زيانونه دځوانئ او قوت په وخت کې څرګند نشي، خو حقيقت دادئ چې دخانيات په بدن کې ډول ډول ناروغئ پټې ساتي چې بيا په پرمخ تللی عمر کې راڅرګندږي. ځني خواړه دهغو دضررونو له امله حرام ګرځيدلي چې دهغو ضررونه يا ژر يا په راتلونکي کې څرګندږي، همدارنګه پخپله مړ شوئ حيوان، وينه او زهريات چې بدن ته ضرر لري، حرام شويدي، له همدې کبله مار او ښامار دهغو دزهرو دخطر له امله حرام ګرځيدلي خوامام مالک(رض) دمار او ښامار خوړل، چې دزهرو خطريې نه وي، مباح بللئ دئ. پس دیوه څيز حرمت دهغه دموجود، يقيني او يا احتمالي ضرر پر بنسټ تثبيتيدای شي.

څرنګه چې ثابته شويده چې په دخانياتو کې ضرر يقيني او محقق دئ او يا کم له

کمه دضرر خطر یې شته، نو ځکه شریعت هغه حرام کړی دی او د حرمت علتونه یې هم دوه دي - یو دمال مصرف یا لګول یې له کومې ګټې او بل دبدن مخامخ کول دنارو غیو سره.

همدارنګه په ثبوت رسیدلی ده چې دذهن په تنبه او خوښۍ او نشاط کې کومه اغیزه نلري او نه کومې ناروغۍ ته درمل دی. وروسته لدې چې خلک په هغه معتاد او دبدبختۍ او هلاکت لمنې ته ور وغورزي چې پرینبودل یې ورته ګران وي نو بیا فکر کوي چې دهغو په وسیله دځان علاج کوي. حال داچې دا یوه غلطه او له حقیقت څخه لیرې مفکوره ده ځکه حقیقت دا دی چې هغه نورې ناروغۍ دهغو پرناروغیو ورزیاتوي.

وروسته تردې چې دول دول ګڼ شمیر طبي خپرونې مې دد خانیاتو دزیانونو او مفاسدو په هکله ولوستې او دهغه روغتیایي، تولنیز او اقتصادي زیانونه مې له نظره تیر کړل په صراحت سره وایم چې استعمال یې حرام قطعي دی او معتاد و کسانو ته لازمه ده چې هغه ترک او نور کسان دې له هغه څخه وډه وکړي.

والله أعلم

د دخانیاتو په استعمال کې د شریعت حکم

فضیلتمآب ډاکتر
حامد جامع
د جامع الازهر پخوانۍ منشي
او په کویټ کې د اسلامي فقهي د دائرة المعارف غړۍ

الحمد لله رب العالمین والصلاة والسلام علی سیدنا محمد خاتم الأنبیاء و إمام المرسلین.

و بعد: دهغو ناوړه عادتونو له جملې څخه چې په نارینه ؤ، ښځو، ځوانانو او حتی ماشومانو کې یې رواج موندلئ، یو هم د دخانیاتو استعمال دئ. دغه رواج او خپریدنه یې خطرناکه او د پاملرنې وړ ده چې د دین علماً او د روغتیا ساتنې مسئولین یې په ویره او دهشت کې اچولي څکه چې ویجاړوونکي او هلاکوونکي نښې نښانې یې په موجوده نسل کې لیدل کیږي او په راتلونکي نسل کې پیښ بینې شویدې. حال دا چې د راتلونکي نسل څخه هیله او توقع دا ده چې د دین د ساتنې او د دنیا د آبادۍ او جوړونې وسیله به وي.

د دین عالمان او د طب پوهان او ماهرین د دین د حکم له څرګندولو او دهغه د ضررونو او مفاسدو له بیانولو پس، دهغو پرضد د مبارزې او مقاومت په تکل راوځتل.

د هر شي لپاره شرعي حکم هماغه پنځه ګوني احکام دي چې شریعت په لاندې نومونو یاد کړي واجب، مستحب، مباح، مکروه او حرام. خدای (ج) فرمایي ﴿ إِنِ ٱلْحُكْمُ إِلاَّ لِلَّهِ ﴾ «یوسف: ٦٧» یعنې حکم کول پرته له خدایه د بل چانه دئ، او د حلال او حرمت حکم خاص د خدای (ج) دی. عالمان او فقهي د شرعي حکم اصول داسې

تعريفوي چې عبارت دالله تعالى دخطاب څخه دئ چې دبنده ګانو په افعالو پورې دطلب يا تخيير (اختيار ورکول) په ډول تعلق لري. (۱)

دالله تعالى له پلوه دشرعي حکم معنى داده چې په اصل او شرعي دليل مستند او په شريعت معترف وي يا په بل عبارت هغه حکم له مستند شرعي دليل څخه استخراج شوئ وي نه له عقلي دليل څخه.

معتبره شرعي دلايل چې ددين احکام پر هغو استوار دي عبارت دي له: کتاب الله، نبوي سنت او اجماع او قياس. او کله چې يوه مسئله دفتوى په منظور فقهو علماؤو ته وړاندې کيږي نو هغوى ددې حکم په کتاب الله کې لټوي که يې په کتاب الله يا قرآن الکريم کې پيدا نکړې نو په نبوي سنتو کې يې ګوري او که په هغې کې هم پيدا نشو، دمجتهدو فقهيو اجماع په نظر کې نيسي او که په هغو کې هم نه ؤ نو په هغه موضوع کې أجتهاد په رايو اوعمل په قياس دهغو له شرايطو او قواعدوسره کيږي.

دتدخين يا ددُخانياتو داستعمال په نامه څرګند نص په قرآن کريم او نبوى سنتو کې نشته، نه د صحابه ؤ، تابعينو او فقهيو اجماع پدې هکله نقل شويده؛ او نه هم له مجتهدو امامانو څخه چې دمذهبونو اصحاب دي يعني امام ابوحنيفه، امام شافعي، امام مالک او امام احمد ابن حنبل څخه کوم څه مونږ ته را رسيدلى دي. ځکه چې درسول الله ﷺ، صحابه ؤ تابعينو او دځلورګونو مذاهبو دامامانو په وخت کې ددخانياتو استعمال موجود نه ؤ او نه خلکو پيژندل. دهغو پيدايښت په شپاړسمه ميلادي پيړۍ کې دئ چې هسپانوى کاشفينو امريکا کشف کړه او داعادت يې له هغه ځايه خپل وطن ته راوړ او دهغه ځايه ببانورو بنارونو او هيوادونو ته خپور شو.

له هغه وخته چې مسلمانانو دخانيات دلسمې هجري پيړۍ په پاى او ديوولسمې پيړۍ په پيل کې وپيژندل، فقهيو په شريعت کې دهغه دحکم د پيدا کولو په هکله اجتهاد وکړ، خو په حکم کې يې سره اختلاف ؤ. اکثريت يې پدې نظر ؤ چې

(۱) نهايته السول للاسنوي شرح منهاج الوصول بيضاوي ۲۲/۱

هغه حرام دي، نوريې په مکروهيت قائل ؤ او ځينو بيا مباح باله اويو شمير نورويې په حکم کې توقف کړيدئ. (۲)

مونږ دلته په لنډ ډول دځنو فقيهو نظريې وړاندې کوو:

لمړی: هغه دفقهي علماؤ چې د دخانياتو استعمال حرام بولي:

۱- شيخ شرنبلالي داحنافو له فقيهو څخه: دهغه حرمت يې تصريح کړئ او دخپلې فتوئ لنډيزيې په نظم اړولئ چې استعمال، پيرودنه او خرڅلاو يې حرام او استعمال يې په رمضان کې دروژی باطلوونکئ بللئ.

۲- شيخ اسماعيل نابليسي هم داحنافو له فقيهو څخه: وايی چې ميږه حق لري تر څو خپله بنځه د پيازو، هوړې او هغو څيزونو له خوږلو څخه چې دخولې دبوی سبب کيږي منع کړي او بيا وايي: د دې خبرې مفهوم او هدف دخانيات دي ځکه چې هغه هم دخولې د بد بويی سبب کيږي او په خاص ډول چې ميږه يې دا عادت ونلري.

۳- شيخ مسيري داحنافو له فقيهو څخه: دهغه شاګرد شيخ اسماعيل نابلسي وايي چې: شيخ مسيري چې زمونږ دزمانې شيخ مشايخ دئ د دخانياتو داستعمال په هکله يې د ممنوعيت فتوئ ورکړيده.

٤- شيخ عمادي داحنافو له فقو څخه: دابن عابدين شامي فتاوي په حاشيه کې داسې راغلي دي: وايم چې څرګند کلام دادئ چې هغه تحريمي مکروه او استعمالوونکئ يې فاسق دئ.

۵- محمد علاؤالدين حصکفي داحنافو له فقيهو څخه: په (الدرالمنتقي) کتاب کې يې دهغه په حرمت فتوئ ورکړې، خو حرمت يې ذاتي نه بلکې دسلطان

---

(۲) فتح العلي المالک في الفتوي على مذهب الامام مالک ۱/۱۸۹ - ۱۹۰

له طرفه دمنع پر بنا ده.(۳)

۶- شیخ ابراهیم لقماني دمالکي فقهي څخه: حرمت يې ثابت کړئ او پدې هکله يې رساله ليکلې ده چې پرېږوالئ يې ددوۀ کتابچو په اندازه ده.

۷- شیخ سالم سنهوري دمالکي فقهي څخه: دهغه فتوىٰ شاګرد يې شیخ ابراهیم لقماني را نقل کړيده او وايي چې: «دروا جيدلو په پيل کې يې په مصر کې، يو څوک دلويديځ له ښارونو څخه چې احمد ابن عبدالله نومیده دشیخ او زمونږ درهبر علامه سنهوري مجلس ته راغئ او ويې پوښتل. هغه ددخانياتو په حرمت فتوى ورکړه او دخپل عمر تر پايه په خپله فتوىٰ ولاړ ۀ او پدې باره کې هيڅا دهغه مخالفت ونکړ. ما دغه فتوىٰ له هغه څخه اوريدلې او هم مې دهغه ليکنه لوستلې. دينداره خلکو او دصلاح خاوندانو له هغو جملې څخه احنافو پدې فتوىٰ کې دهغه پيروي وکړه.»(٤)

۸- شیخ شهاب الدين قليوبي دشافعينو له فقهي څخه وايي چې؛ «هره جامده ماده چې پاکه وي که په هغې کې تخدير يا بې حسه کيدل او دعقل زايل کيدل منځ ته رائي، نو که دهغې خوړل حرامېږي سبب يې همدا دئ». زمونږ ځيني مشايخ وايي چې له هغو جملې څخه يو دخانيات دي چې دبدن مجراګاني دمضرو ناروغيو لپاره وازوي او دسستي، کسالت او په بدن کې دغوښې دپستيدو سبب کيږي چې کله کله دسترګو درندېدو سبب هم کيږي. او هغه چا چې مونږ يې په خبرو باور لرو مونږ ته وويل چې له استعمال څخه يې سرګرځيدل را پيدا کيږي. پټه دي پاته نه وي چې ضرر يې دبويناکې خامې خرما څخه زيات او عمومي دئ. اصل ته يې علامه

(۳) ردالمحتار علی الدرالمختار: ۵/ ۲۹۵ - ۲۹۶، په مجمع الانهار کې ذکر دئ چې دخانيات زمونږ په عصر کې حرام دئ، البته د ولی الامر دنهی پر بنا ۲/ ۵۷۲

(٤) فتح العلی المالک فی الفتوی علی مذهب الامام مالک تاليف دشیخ محمد عليش: ۱/ ۱۹۰

زرکشي دضرر له وجې حرام ويلي دي. (٥)

٩- شيخ نجم الدين غزي شافعي: صاحب درالمختار له هغه څخه داسې نقل کوي چې: په دخانيا تو نوي عادت کوونکي دا ادعا کوي سړئ نه بيهوشه کوي. که چيرې داسې هم وي، څرنګه چې دانسان دبدن غړي سستوي نو څکه حرام دئ دحضرت پيغمبر ﷺ حديث دئ او امام احمد ابن حنبل له ام السلمې څخه روايت کړئ چې رسول الله ﷺ دهر مست کوونکي او سست کوونکي څيز له استعمال څخه منع کړيده، يو ځل دوه ځله يې استعمال له کبائرو څخه نه حسابيږي خو د اولوالامر دحکم په انضمام سره يې حرمت قطعي دئ. امکان لري چې استعمال يې بدن ته هم مضر وي. هو په استعمال کې يې مداومت کبيره ګناه ده لکه څنګه چې په نورو صغيره ګناهونو کې هم داقاعده عمومي ده. (٦)

١٠- شيخ سليمان بجيرمي دشافعي له فقهو څخه وايي چې دخانيات ددې زماني نوئ پيدا شوئ څيز او دقبيحو بدعتونو څخه دئ، لعنت دې وي پر هغه چا چې کشف او پيدا کړي يې دي. زمونږ استاد شيخ زيادي په لږ سرکې دا فتوئ ورکړه چې د روژې باطلوونکئ ندئ څکه چې په حقيقت يې نپوهيده خو کله يې چې اغيزه دانسان په بدن او سلوک کې وليده، نو له خپلې فتوئ څخه تير او بله فتوئ يې ورکړه چې هغه باطلوونکي يا مفطر دي. (٧)

١١- دحنبلي فقهو او د نجد له منطقې څخه شيخ مصطفئ رحيباني حنبلي وايي چې: دځلورګونو مذهبونو ځنې فقهو هغه حرام، ځنې مکروه او ځنو

(٥) قليوبي و عميرة على شرح جلال الدين المحلي ١/ ٦٩
(٦) رد المختار على الدر المختار: ٥/ ٢٩٥ - ٢٩٦
(٧) حاشية البيجرمي على شرح الخطيب: ٢/ ٣٢٩

بيا مباح بللي دي اکثريتو شافعينو او احنافو هغه مباح يا مکروه او ځني يې حرام بولي. دمالکيانو اکثريت هغه ته حرام او ځني يې ورته مکروه وايي. زمونږ اصحاب او په خاص ډول دنجد علما هم همداسې وايي. خو ما زمونږ داصحابو له جملې څخه داسې څوک ندئ ليدلئ چې په خپلو ليکنو کې يې دهغه په حرمت تصريح کړې وي. (٨)

داؤ د دخانياتو دحرمت په هکله د پخوانيو فقهيو اقوال. خو اکثرو معاصرو فقهيو هغه مطلق حرام بللي چې دهغو له جملې څخه:

١- دجامع الازهر فتوي انجمن: ددخانياتو په هکله ددوی په فتوی کې داسې راغلی دي:

... داهل علم او طبی متخصصينو يا ماهرينو په شهادت ددخانياتو روغتيايي ضرور نه په يقيني او قطعي ډول په اثبات رسيدلي ځکه چې هغه دسږو او حنجرې دسرطان سبب کيږی او شرائينو يا دوينې رګونو ته مضر دي. همدا رنګه يې ضرر مال ته هم رسيږي ځکه چې دمال او پيسو مصرف نه يوازې بی ګټې بلکې په تاوان ده او حضرت رسول اکرم ﷺ روغتيا او مال ته دتاوان رسولو څخه منع کړې او فرمايی (لاضرر و لا ضرار). لدې کبله مونږ دهغه په استعمال، توليد، واردولو، صادرولو او سوداګرۍ يعني پيرودنې او پلورنې دحرمت فتوی ورکوو: والله تعالى أعلم. (٩)

٢- نړيوال اسلامي کنفرانس دمسکراتو او مخدرو موادو پرضد او دتنبکو دکرنې او سوداګرۍ دتحريم په اړوند فتوی ورکړيده. (١٠)

---

(٨) مطالب أولى النهى فى شرح غاية المنتهى: ٢١٩/٦

(٩) مجلة التصوف الاسلامى (المحرم ١٤٠٥ هـ -، اكتوبر ١٩٨٤م).

(١٠) كنفرانس منعقده مدينه منورة (٢٧ - ٣٠ جمادى الاول ١٤٠٢ هـ يا ٢٢ - ٢٥ مارچ ١٩٨٢)

۳- شیخ محمد ابراهیم دسعودي عرب پخواني مفتي اعظم فتوی ورکړي چې:
ددخانیاتو په خباثت، بدبویی، بیهوشولو او تخدیر کې هیڅ شک او شوبه نشته نو ځکه دصحیحو روایاتو، صریح عقل او دمعتبرو طبیبانو دنظریو پر بنا هغه حرام دي. (۱۱۱)

دهغو کسانو دلایل چې دخانیات حرام بولي:

هغه کسان چې ددخانیاتو استعمال حرام بولي په لاندې دول استدلال کوي:

۱- دمعتبرو طبیبانو دځرګندونو پر اساس دخانیات روغتیا ته مضر، او تاوان لري او هر هغه څه چې مضر وي متفقاً حرام دي.

۲- دا دهغو مخدرو موادو له جملې څخه دي چې شریعت دهغو استعمال منع کړئ لکه چې امام احمد ابن حنبل دام السلمه له خولې داحدیث نقلوي چې رسول الله ﷺ له هرې نشه راوړونکې او مخدرې مادې څخه منع کړیده او دخانیات دمخدراتو او دغړو له سستوونکو څخه دي.

۳- هغه دا اسې بدبوی درلودونکي دي چې غیر معتاد کسان آزاروي، خصوصاً دجماعت په لمونځونو او په نورو مجلسونو کې. حتی چې ملائکې دهغو نه اذیت کیږي.

امام بخاری او مسلم په خپلو کتابونو کې دحضرت جابر (رض) له خولې دآنحضرت ﷺ څخه داسې روایت کوي: «هغه چا چې پیاز او هوره خوړلې وي باید چې له مونږ او زمونږ له جماعت څخه لیرې شي، کناره ګیري دې وکړي او پخپل کور کې دې کښیني». او ددخانیاتو بدبویي دپیازو او هورې له بدبویی څخه کمه نده.

---

(۱۱۱) تدخین دطب او دین ترمنځ دشیخ احمد عبدالله قحطان تالیف ص ۱۲٤

همدا رنګه په صحيح بخاري او صحيح مسلم کې له جابر څخه حديث روايت شوئ چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: «له هر څه څخه چې خلک اذيت کيږي، ملائکې هم تر اذيت کيږي» او په بل حديث کې راغلي چې رسول الله ﷺ فرمايي: «څوک چې مسلمان آزاروي، زه يې آزار يا اذيت کړی يم او څوک چې ما آزاروي نو خدای (ج) يې آزار کړيدئ».

٤- هغه داسرافو په جمله کې راځي ځکه چې په هغې کې هغه مباح ګټه چې ضرر پکښې نه وي نشته بلکې دفن دخاوندانو او خپرو ډو په قول يقيني او قطعي ضرر پکښې دئ. (١٢)

دوهم: هغه دفقهې علماً چې دخانيات مکروه بولي:

١- شيخ عمادي داحنافو له فقهې څخه: صاحب درالمختار هغه نقل کړئ خو شامي فتاوي دهغو په تعقيب وايي: عمادي په څرګنده هغه تحريمي مکروه او استعمالوونکئ، سوداګر، پلورونکئ او پيرودونکئ يې فاسق بولي. (١٣)

٢- شيخ محمد عليش دمالکي فقهې څخه: وايي چې امام لقماني دهغه په تحريم، خو اجهوري دهغه په عدم تحريم فتواګاني ورکړي دي. اکثريت داجهوري په فتوئ زياد اعتماد کوي. سره ددې چې دتحريم دلايل يې قوي دي او وايي چې تقوئ او پرهيز ګاري داده چې استعمال نشي. دهغه دفتاوو له مجموعې څخه ددخانياتو کراهيت څرګندږي (١٤)

---

(١٢) تدخين دطب او دين تر منځ ص ١٢٥ - ١٢٦

(١٣) ردالمحتار على الدرالمختار: ٢٩٦/٥

(١٤) فتح العلي المالک في الفتوئ علي مذهب الامام مالک: ١٨٩/١ - ١٩١

رول او اغیزه لري. دروغتیا ساتنه او پالنه یوازې او یوازې د طبیبانو او روغتیایي مرکزونو دنده نه، بلکې پدې هکله د ټولو خلکو ګډ کوښښونه او هلې ځلې ضروري دي. خدای (ج) فرمایي ﴿ وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى وَلاَ تَعَاوَنُوا عَلَى الإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ ﴾. یعني ای خلکو په نیکو کارونو، پرهیزګاري او تقوی کې یوله بله سره مرسته او کمک وکړئ او د ګناه په کارونو او تیرئ په خلکو، له مرستې څخه ډډه وکړئ. نو ځکه ښځه په کور، بزګر په پټي، کارګر په فابریکه، ښوونکئ په ښوونځي او عسکر په قشله او بلاخره هر وګړئ لوی وي که وړوکئ کولای شی چې د روغتیا دښمن والي لپاره او یا برعکس یې، یو کار سرته ورسوي. دوګړو مسئولیت یوازې دا ندئ چې خپله روغتیا وساتي او حفظ الصحه مراعات کړي لکه نظافت، په خوراک او څښاک کې اعتدال او میانه روي، د بدني روزنې لپاره څو دقیقې ورزش او نور؛ بلکې هغوته ښایي چې د هر هغه څه څخه چې د دوی او د نورو روغتیا ته زیان رسوي ډډه وکړي.

دا جوته اوښکاره خبره ده چې دانسان له حقوقو څخه د هر ډول حق خوندي ساتنې دا اقتضا ده چې د نورو له تیري څخه په دې حق مخنیوئ وشي، په دې ډول هر هغه څوک چې وسله اخلي او بل په ظلم او تعدی وژني، نو هغه د ټولو وګړو د ژوندانه پر حقوقو تیرئ کړئ. لکه چې په قرآن عظیم الشان کې راغلي دي: ﴿ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيعاً ﴾ داسې ده لکه چې ټول خلک یې وژلي وي او لکه هغه څوک د ئ چې اوبه یې چټلې کړي وي، او یا یې چاپیریال ناپاکه او فاسد کړئ وي او یا یې هم د خپلو بچیانو په خوراک او څښاک کې غفلت او تنبلي کړي وي. پدې توګه هغه د نارو غیو د سببونو په خپریدو او زیاتیدو کې مرسته کوي نو ځکه یې د خلکو د ژوندانه پر روغتیایي حقوقو تیرئ کړئ دئ.

کیدائ شي چې دوګړو او ټولنې پر روغتیا ډیر څرګند تیرئ، د د خانیاتو استعمال وي! او دا پټه نده چې هر کال دوه نیم میلیونه انسانان له داسې نارو غیو څخه مري چې منشه او اساس یې د د خانیات تو استعمال دئ لکه د سرو سرطان،

۳- شیخ عبدالله شرقاوي له شافعي فقهو څخه وايي چې د دغانیا تو په هکله معتبره نظریه دهغه کراهیت دئ خو امام قلیوبي دهغه په حرمت قول کړئ ځکه چې دستر ګود رندیدو دغړو دسستۍ او دبدن دمجرا وو د پراخیدو سبب ګرځي. هو هغه کسان چې په غالب ګمان سره هغه مضر بولي، هغوی ور ته حرام وایي او خپل ځان ته یې هم حرام دي او دا حرمت یې عمومیت پیدا کوي. حتی ګبین یا عسل چې الله پاک په قرآن کې ورته شفا ویلې ده، که په هغو کی ضرر وي نو حرامیږي. (۱۵)

٤- شیخ مصطفیٰ رحیباني د حنبلي فقهو څخه وایی چې زه دهغه په کراهیت کې کوم شک او شوبه نلرم (۱٦)

٥- شیخ منصور بهوتی حنبلي فقیه شیخ رحیبانی وایی چې: په اداب النسأ کتاب کې د شیخ منصور څرګند کلام دهغه په کراهیت دلالت کوي.

دهغو کسانو دلایل چې هغه مکروه بولي:

۱- په هغې کې مالي ضرر او تاوان دئ.

۲- دخولې دبد بویی سبب کیږي لکه د پیازو، هوړې او ګندنی خوړل.

۳- د فضیلت او کمال اصحابو لپاره د مروت او شهامت اخلال بلل کیږي. (۱۷)

---

(۱۵) حاشیة الشرقاوي علی شرح التحریر: ۲/ ٤٥۰ - ٤٥۱

(۱٦) مطالب أولی النهی فی شرح غایة المنتهی: ۲۱۹/٦

(۱۷) مطالب اولی النهی در شرح غایة المنتهی: ۲۱۹/٦

دريم: هغه دفقهي علماً چې دخانيات مباح بولي:

۱- شيخ عبدالغني نابلسي دحنفي فقيهو څخه: ددخانياتو دحلال بللو په هکله يې يوه رساله د «دخانياتو داستعمال په اباحت کې دوروښو تر منځ سوله» په نامه ليکلې ده. (۱۸)

۲- علامه محمد امين ابن عابدين دحنفي فقيهو څخه وايي که په دخانياتو کې خالص ضررونه پرته له کومې ګټې څخه ثابت شي دتحريم په هکله يې فتوى جواز لرى او که يې ضرر يا زيان ثابت نشى، نواصل په هغه کې حليت (حلال او روا) دئ دحليت په فتوى کې يې له مسلمانانو څخه دحرج رفع کول منځ ته راځى ځکه چې اکثره مسلمانان دهغو په استعمال اخته دي، حلال ګڼل يې تر تحريم آسانه دئ. حضرت رسول الله ﷺ کله به چې د دوؤ مختارې حکمونو تر منځ واقع کيده، نو هغه به يې انتخابا وه چې سهولت به پکښې وُ. بدعت يې کوم تاوان منځ ته نه راولي ځکه چې دا بدعت دهغه په خوښو او استعمال کې دئ، نه په دين کې. (۱۹)

۳- شيخ محمد عباس مهدي له حنفي فقيهو څخه وايى چې: ددخانياتو استعمال که عقل زايل نکړي او بدن ته ضرر ونه رسوي او هم کومه سستي او شرعي ممانعت پکښې موجود نه وي نو په استعمال کې يې ددين حکم اباحت دئ او دا نظريه ترجيح لري. (۲۰)

٤- شيخ علي اجهوري دمالکي فقيهو څخه ددخانياتو داباحت په هکله «ددخانياتو په استعمال کې غايت بيان» په نامه يوه رساله ليکلې. (۲۱)

---

(۱۸) ردالمحتار على الدرالمختار: ۲۹۵/۵

(۱۹) العقود والدرية فى تنقيح الفتاوى الحامدية ۳٦/۲

(۲۰) الفتاوى المهدية: ۲۹۸/۵

(۲۱) المرجع السابق، فتح العلى المالک فى الفتوى على مذهب الإمام مالک: ۱۹۰/۱

۵- شیخ شرواني دشافعي فقهي څخه وایي چې: که چیرې ښځه د دخانیاتو سره عادت وي نو داسې نقل شویدئ چې دهغې په نفقه کې دخانیات هم واجب دي. (۲۲)

٦- شیخ مرعي الکرمي دحنبلي فقهي څخه وایي چې: د دخانیاتو استعمال دحلیت وجه لري خو دبا مروته او د کرم خاوندانو خلکو لپاره د دخانیاتو او قهوې ترک کول غوره او بهتره دي. (۲۳)

داوې د پخوانیو فقهي نظریې د دخانیات داباحت په هکله او **د معاصرو فقهي نظریې** په لاندې ډول دي:

۱- شیخ حسنین مخلوف: د ۱۳٦۷ هـ کال د محرم د ۲۵ نیټې چې د ۱۹٤۷م کال د دسامبر له ۸ نیټې سره سمون لري په خپله فتوئ کې داسې ویلي دي: «لکه څرنګه چې په ردالمحتار کې راغلي دي، حقیقت دا دئ چې هغه مباح دي.» (۲٤)

۲- شیخ حسن مأمون: د ۱۳۷۹ هـ کال د جمادي الاول د ۹ نیټې چې د ۱۹۵۹ م کال د نوومبر د لسمې نیټې سره سمون خوري، له فتوئ څخه یې اباحت څرګندیږي. (۲۵)

---

(۲۲) حاشیة الشرواني علي تحفة المحتاج شرح المنهاج: ۳۰۹/۸

(۲۳) مطالب اولی النهی فی شرح غایة المنتهی: ۲۱۷/٦

(۲٤) فتاوی اسلامی از دارالافتاء مصر ۱۳۰٦/٤

(۲۵) الفتاوی الإسلامیه من دارالإفتاء المصریة: ۲۵۵٦/۷

دهغو کسانو چې دخانیات مباح بولي، دلایل په لاندې ډول دي:

۱- دضرر نه لرلو او دتحریم ددلایلو په نه موجودیت کې د اشیاؤ اصلي حکم اباحت او حلیت دئ تر څو چې شریعت یې حرام وګرځوي.

۲- حرمت او کراهیت دوه شرعي حکمونه دي چې باید په دلیل سره وي. ددخانیاتو دحرمت او کراهیت په هکله کوم دلیل موجود ندئ.

۳- ددخانیاتو څخه نشه کیدل، دبدن داندامونو سستیدل او زیانونه یې ثابت شوي ندي، برخلاف ګټې یې ثابتې شویدي نو ځکه هغه تردې قاعدې لاندې راځي چې په اشیا وُکې اصلي حکم اباحت دئ. که یې چیرې ضرر ځني کسانو ته ثابت شي، تحریم یې پر ټولو کسانو لازم ندئ. دمثال په توګه ګبین یا عسل هغه چاته چې دصفرا ناروغي لري په غالب ګمان سره تاوان لري، حتی کیدای شي هغوی نور هم ناروغه کړي، خو په قرآنی نص کې هغه قطعي شفا ده.

٤- دحرمت او کراهیت په اثبات کښې چې دخدای (ج) په حق کې افترا ده، احتیاط وجود نلري، ځکه چې دهغو په اثبات کې ددلایلو موجودیت ضروري دئ، پرته له هغویې حکم اباحت دئ چې داشیا وو اصلي حکم دئ. (۲٦)

دهغو کسانو نظریاتو ته یوه کتنه چې دخانیات مباح بولي:

هغو فقهیو علما وؤ چې ددخانیاتو په استعمال یې داباحت حکم کړئ، دلیل یې پر حرمت باندې دشرعي دلیل نه موجودیت دئ. او دهغو په وړاندې یې نشه کول، دغړو او اندامونو سستیدل او نور زیانونه هم ندي ثابت شوي تر څو دحرام یا مکروه

(۲٦) مطالب اولی النهی فی شرح غایة المنتهي ۲۱۸/٦ ردالمحتار علی الدرالمختار ۲۹٦/٥

حکم پرې وکړي نو ځکه داشې وو تر اصلي حکم لاندې راځي چې اباحت دئ او د هغو اقوال مو له هغو مراجعو څخه چې اشاره مو ورته وکړه په تفصیل رانقل کړل ددې فقیهو داجتهاد او نظریاتو له وړاندې کولو نه پس ثابته شوه چې دخانیات روغتیاته تاوان رسوي او دداسې ناروغیو سبب کیږي چې علاج یې ګران او ناشونئ بریښي او دهلاکت سبب کیږي. نو ځکه داباحت دلیل له منځه ځي او اباحت زأیلیږي. نو بیا دخانیات تر بل شرعي حکم لاندې راځي چې دشرعي دلایلو په رڼا کې یې وړاندې کوو. ددخانیاتو داستعمال دضررونو په هکله دطب دپوهانو او متخصصینو نظریې وړاندې کوو او هغه ثابتوو.

ددخانیاتو داستعمال په اړوند دطب دپوهانو نظریې

۱- ډاکټر عبدالعزیز سامي دقاهرې پوهنتون دطب دپوهنځي پخوانئ رئیس او دصدري ناروغیو استاد وایي چې: ددخانیاتو داستعمال روغتیایي خطرونه او مفاسد هومره څرګندوالئ لري چې هیڅ شک پکښې نه پاته کیږي او په لاندې ډول یې وړاندې کوو:

دمرینو احصائیه ښیي چې د ٦٥ کلنې عمر نه مخکې دهغو کسانو مرینه چې په دخانیاتو عادت دي نسبت هغو ته چې ددخانیاتو سره عادت نلري، دوه برابره ده. په کار او وظیفه کې دمعتادینو غیابت دغیر معتادینو درې برابره ده. دسږو دسرطان په ناروغانو کې هغوی ۷۰ - ۹۰ په سلو کې تشکیلوي دقصباتو ناروغي او دسږو هوایي پرسوب په معتادینو کې شپږ برابره دغیر معتادینو دئ. په دخانیاتو معتاد کسانو کې مرینه دغیره خلکو په نسبت ۹ برابره ده. هغه کسان چې دزړه دناروغیو له کبله مري ۲۵٪ یې ددخانیاتو داستعمال له وجهې دي. دخانیات دمعدې او اثنا

عشر پر زخم قوي او مستقيمه اغيزه لري او دويني ددوران ناروغي هم له هغو څخه را پيدا کيږي. دغه کسان ډير ژر زړيږي او د کهولت او نااميدي عمر ته رسيږي. هغه ښځي چې په دخانياتو عادت دي جنينونه يې زيات سقطيږي او يا هم معيوب او زشت شکله زيږيږي او هم دوخت دمخه ولادت کوي. هغه څوک چې دمعتاد و خلکو سره يوځای استوګنه کوي، ټکي په ټکي همدغه ضررونه ورته ور رسيږي، په خاص ډول په هغو ځايونو کې چې آزاده هوا نه وي. په داسې شرائطو کې کوم لوګي چې غير معتاد شخص تنفس يا استنشاق کوي، د دخانياتو داستعمال د يوه ساعت سره برابر وي. (۲۷)

۲- ډاکټر اسماعيل سباعي د سرطان پر ضد د نړيوالې اتحاديې غړئ وايي چې:

په اوسني وخت کې کومې ناروغۍ چې د دخانياتو داستعمال له وجې منځ ته راځي، د انساني مرينې يوه ډيره خطرناکه وسيله بلل کيږي. په پر مختللو هيوادونو کې ۵۰ ٪ مرينه دويني، زړه او دماغ د ناروغيو له کبله او ۳۰ ٪ مرينه د سرطان له وجې ده چې دخانيات د دې ناروغيو ډير مهم سبب او عامل بلل کيږي. دهغه له کبله نورې ناروغۍ لکه د سږو، حنجرې، بلعوم او نورو هم شته چې برسيره پر هغو په بدن کې د ګڼ شمير اضطراباتو سبب هم کيږي. (۲۸)

۳- ډاکټر شريف عمر د قاهرې په پوهنتون کې د سرطان د جراحۍ استاد د دخانياتو د روغتيايي ضررونو په هکله داسې وايي: دخانيات پر روغتيا ډيره ناوړه اغيزه لري ځکه چې د بدن د بيلا بيلو غړو لکه د سږو، زړه، مرۍ مثانې پښتورګو او پانقراص د سرطانونو او همدا رنګه د زړه او ويني

(۲۷) رساله د مصر طبيبانو ته: دخانيات يا روغتيا انتخاب ستاسو دئ ص ۳۱

(۲۸) د مصر طبيبانو ته يوه رساله: دخانيات يا روغتيا ... ص ۵۱

دناروغيو، دزړه دټکان، دشرائينو دجدارونو دکلکيدو، دسږو دناروغيو او ډيرو نورو سبب کيږي.

دخانيات پر ښځو هم ځانګړي ناوړه اغيزې لري. هغه دجنين دغو د نقص، کم وزنۍ او دهغو دمعيوبيت يا زشت رويۍ سبب کيږي. هغه مينډې چې په دخانياتو عادت لري دجنين مړينه يې نسبت هغو مينډوته چې معتاد ندي ۲۸٪ زياته ده، ښځې ژر زړوي او دنااميدۍ يعنې دنه تناسل يا بار دارۍ عمر ته يې رسوي. دخانيات په جنين هم مستقيمې ناوړه اغيزې لري چې مضره مواد يې دمور دوينې له لياري جنين ته سرايت کوي. ددې مواد و زهرۍ اغيزې تر يوولس کلنۍ عمر پورې په ماشوم کې دوام کوي. داتقرير دهغو نظريو مطابق ده چې ددوو نامتو دانشمندو استادانو له خوا ورکړ شويدي چې هغه عبارت دي له ډاکټر اسماعيل سباعي او استاد عبدالباسط اعصر داوړام په ملي انستيتوت کې دسرطان دبيولوژي دډيپارټمنټ استاد او رئيس. (۲۹)

٤- ډاکټر محمود محمد مرزباني دقاهرې دپوهنتون داوړام په ملي انستيتوت کې دفارموشيمي او دسرطان دتجربوي معالجې استاد وايي:

«پرته له شک او شوبۍ دا په اثبات رسيدلې چې ددخانياتو استعمال ددول ډول ناروغيو سبب کيږي او په هغو کې ډير مهم عبارت دي دزړه او تنفسي جهاز ناروغۍ، دشرائينو تصلب يا کلکيدل، او سږو، بلعوم، پانقراص او مثانې دسرطانونو ډير مهم عامل دئ. همدا رنګه ثابته شويده چې دا ناروغي نه يوازې په معتاد شخص بلکې دهغه په شاو خوا کسانو کې هم منځ ته راځي.» (۳۰)

(۲۹) ددې تقرير نوټ له ليکونکي سره موجود دئ.

(۳۰) دمصر طبيبانو ته يوه رساله: ص ۳۵

۵- ډاکټر محمد علي بار د طبیبانو د دولتي پوهنتون غړئ وایي چې:

« د دخانیاتو د استعمال په زیانونو او مفاسدو کې څه شک نشته بلکې دهغو ناوړه او قبیح تأثیرات په اوسني وخت کې د طاعون، کولرا، سل، جذام او چیچک د ناروغیو څخه په مجموع کې خطرناکه او شدید دي. »

د دخانیاتو اغیزې په روغتیا باندې خورا هیبت ناکې او خطرناکې دي. هر کال په میلیونونو انسانان دهغو د استعمال له امله له ژوند څخه محرومیږي او په لسګونو میلیونو انسانان په ډول ډول لاعلاجه ناروغیو اخته کیږي چې دهغو په نتیجه کې یې ژوند له فقر، بدبختۍ او ډول ډول ستونزو سره مخ کیږي.

تر ټولو مهمې ناروغۍ چې د دخانیاتو د استعمال له کبله منځ ته راځي دا دي:

الف) **تنفسي جهاز:**- د سږو او حنجرې سرطانونه، د قصبو مزمن التهاب د سږو، ایمفیزیما یا هوایي پرسوب.

ب) **زړه او دوینې د دوران جهاز:**- د زړه ټکان، ناګهاني مړینه، د انډامونو دوینې د دوران مختل کیدل.

ج) **هضمي جهاز:**- د شونډو، خولې، بلعوم او پانقراص سرطانونه او د معدې او اثنا عشر زخمونه.

د) **بولي جهاز:**- د مثانې سلیم تومور، د مثانې او پښتورګو یا بډوګو سرطانونه.

هـ) **امیندواره ښځې او ماشومان:**- د جنین د سقطونو یا لویدلو زیاتوالئ، پدې نوي زیږیدلي ماشومانو کې د مړینې زیاتوالئ، مړزیږیدنه او په شیدې

خوړونکو ماشومانو کې د سړو د التهاب زیاتوالئ.

و) **نادرې ناروغۍ:-** دسترګو درګونو التهاب او ړوند والئ، د الرژیکو ناروغیو زیاتوالئ د پوستکي التهابات، د پوزې، غوږونو او ستونې ناروغۍ، دوبنې د فشار لوړیدل د شکرې ناروغي، دوینې د کولسترول زیاتوالئ، زیات او بې ځایه چاغیدل.

ډاکټر بار زیاتوي چې په تجربې کې ښودل شویده چې د پنډیو درګونو ناروغي ۹۵٪ ناروغان معتاد او یوازې ۵٪ بې غیر معتاد کسان دي.

ثابته شویده چې په دخانیاتو معتاد کسان د غیر معتادو کسانو څخه لس برابره زیات د خولې، بلعوم، مرۍ او حنجرې د سرطانونو له خطر سره مخامخ دي او د دخانیاتو له کبله د مړینې اندازه د نورو ناروغیو د مړینې څخه څو ځله زیاته ده او بله هم دا چې د هرو دریو معتادینو څخه یویې د دخانیاتو د استعمال له وجې مري. (۳۱)

دخانیات د طبي پوهانو د نظریاتو په رنا کې:

د تطبیقي، لابراتواري او تحقیقي تجربو او څیړنو په وسیله چې د ډاکټرانو متخصصینو، پوهانو، علمي انجمنونو او د باور وړ او مؤثرو اشخاصو په وسیله سرته رسیدلي دي، او نظریې هم د مړینو او ناروغیو له احصائیو سره یو ځای وړاندې شوي، په اثبات رسیدلي دي چې د دخانیاتو استعمال د ډیرو ناروغیو سبب کیږي چې مخکې تر یادونه وشوه، او دغه ناروغي د انسان د هلاکت او مړینې سبب کیږي. پدې باندې په ایمان او باور لرلو سره چې د تولو چارو او کارونو شته والئ او نشتوالئ په خدای (ج) پورې مربوط دئ، باید ووایو چې خدای (ج) په تولو چارو کې

(۳۱) د دخانیاتو اغیزه پر روغتیا باندې د ډاکټر علي بار تألیف ص ۳۲، ۳۷، ۶۱ - ۶۳، ۹۶، ۱۰۰

اسباب له مسبباتو او نتايج له مقدماتو سره مربوطوي ... او تولې چارې په هغه پورې مربوط دي.

حکومتونو ددې متخصصينو پوهانو او علمي انجمنونو علمي نظريې تأييد او ددخانياتو توليد په شرکتونو يې دا لازم وګرځوله چې دخپلو توليداتو په ډبيو وليکي چې «داستاسو روغتياته ضرر لري» تر څو داعتراض په صورت کې په هغوی کوم الزام رانشي او دا دبد نامۍ داغ يې په راتلونکي کې له تجارتي متاع څخه ليرې شي. ددې اقوالو او نظرياتو پر بنا ددخانياتو ضررونه او فساد په مؤکد ډول ثابتيږي.

ددين حکم ددخانياتو په استعمال کې

دهغو فقهيو داقوالو په رڼا کې چې ويل يې ددخانياتو استعمال مباح دئ او دطبي پوهانو او متخصصينو دتجربو او نظريو په روښنايي کې چې وايي دخانيات ګڼ شمير روغتيايي ضررونه لري او دمرګ او هلاکت سبب کيږي، او ددې مسلمانو متخصصينو اقوال او نظريې پدې اړوند دشهادت په حيث، څرګنګه چې دوی معتبره متخصصين دي نو ځکه يې دخپل فن او مهارت په رشته کې شهادت منل کيږي. **او همدا رنګه دهغو فقهيو داقوالو په رڼا کې چې ددخانياتو استعمال يې حرام بالله، کوم شرعي حکم چې لدې څخه استنباط کيدلئ شي او دانسان نفس پر هغه آرام او داد من کيدائ شي دادئ چې دخانيات حرام دي** ځکه چې:

۱- په هغو کې دانسان روغتياته زيات ضرر او تاوان دئ چې دمرګ او هلاکت سبب کيږي. او خداى (ج) له قتل او دنفس په هلاکت اچولو څخه منع کړې او فرمايي: ﴿وَلاَ تَقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ إِنَّ اللّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيماً﴾ (النساء:۲۹) يعنې تاسو خپل ځانونه مه وژنئ ځکه چې خداى (ج) په تاسو

د قصباتو مزمن التهاب، د سږو هوايي پرسوب، دزړه درګونو ناروغي او د مثانې سرطان. د مړينې پورتنئ شمير دامعنئ لري چې په هرو ۱۳ ثانيو کې د دخانياتو داستعمال له کبله يوه مړينه منځ ته راځي او روح له جسده جلا کيږي. هغه څه چې د پاملرنې وړ ده هغه داده، چې تر اوسه پوري هيڅوا د دخانياتو داستعمال يوه وړوکې ګټه هم نده ثابته کړې. نو ځکه تنباکو يوه زيان رسونکې ماده ده دوګړي، کورنۍ او ټولنې لپاره تنباکو يوازنۍ ماده ده چې هيڅ ډول ګټه نلري سره د دې چې خلک يې زيات کړي. حتئ د شرابو په هکله خداى (ج) فرمايي ﴿ يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ قُلْ فِيهِمَا إِثْمٌ كَبِيرٌ وَ مَنَافِعُ لِلنَّاسِ، وَ إِثْمُهُمَا أَكْبَرُ مِنْ نَفْعِهِمَا ﴾ يعنې اى پيغمبره له تا څخه د شرابو او قمار په هکله تپوس کوي، ووايه چې په هغو دواړو کې لويه ګناه ده او ورسره پکښې ګټه هم خلکو ته شته، خو ګناه او زيان يې له ګټې څخه زيات دئ. دنوموړي آيت څخه څرګنديږي، چې په شرابو کې يو څه ګټه موجوده ده خو څرنګه چې زيان يې تر ګټې زياتوالئ لري خداى (ج) هغه په قطعي ډول حرام ګرځولئ، نو تاسو څه فکر کوئ د تنبکو په هکله، چې هيڅوا د هغه د ګټې په هکله هيڅ هم ندي ويلي او حتئ استعمالوونکي يې د زيان په هکله متفق دي.

د دخانياتو داستعمال ډير بد ډول - تدخين په جبر او اکراه سره دئ. د جبر او اکراه معنئ داده چې يو څوک پرته له خپل خواهش او علاقې څخه د تنبکو لوګئ خپل بدن او دماغ ته ورننه باسي، که دا په دفتر کې وي او که په کور کې او يا هم په ترانسپورتي وسايلو کې. د غه ډول اجباري تدخين دامريکې په متحده ايالاتو کې هر کال د ۴۰۰۰۰ - ۵۰۰۰ کسانو د مړينې سبب ګرځي. په برتانيې کې هر کال ۱۰۰۰ کسان او په کاناډا کې ۵۰۰ کسان د ډول تدخين له کبله خپل ژوند له لاسه ورکوي. همدارنګه هغه ښځې چې د دخانياتو سره عادت نلري خو د هغو نارينه وو سره يې واده کړئ د ئ چې په دخانياتو معتاد دي، اکثراً د سږو په سرطان مبتلا کيږي او هغه ښځې چې ميړونه يې معتاد ندي پدې ناروغئ نه اخته کيږي.

مهربانه دئ او دنفس له قتل څخه يې منع کړيده.

درسول الله ﷺ اصحاب ددې آيت شريف له مفهوم نه داسې و پوهيدل چې الله تعالىٰ مسلمانان لدې څخه منع کوي تر څو ځان په خطر او هلاکت کې وانه چوي له همدې کبله ؤ چې حضرت عمرو ابن عاص (رض) د ذات السلاسل په غزوه کې دجنابت په حال کې دهلاکت دخطر او ويرې له امله په سړو اوبو کې له غسل کولو څخه ډډه وکړه او نور وصحابه ووکرامو ته يې هم استدلال کړه. حضرت رسول الله ﷺ دهغه استدلال ومانه، ورته مسکئ شو او څه يې ونه ويل. (٣٢)

ابوسعيد خدري روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: (لا ضرر ولا ضرار) (٣٣) علامه ابن رجب حنبلي ددې حديث په شرح کې وايي (٣٤): «حضرت رسول الله ﷺ چاته ضرر رسول او ضرر ځواب په ضرر ورکول په هغه صورت کې چې غير حق وى منع کړي دي». دغه مطلب د پيغمبر ﷺ په قول (لاضرر) کې شامل دئ. خداى (ج) خپل بنده گان دضرر په کارونو او اعمالو ندي مکلف کړي. لدې کبله يې دضرر په صورت کې په اوبو اودس کول، دمسافر او ناروغ لپاره روژه نيول، او حاجيان يې دناروغئ او تکليف په صورت کې داحرام له ممنوعاتو څخه معاف کړيدي.

له حضرت ابن عباس څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ ته وويل شول: (دخداى (ج) په نزد کوم دين ډير غوره او محبوب دئ وبى فرمايل دحق او آسانى دين) دعايشې (رض) په حديث کې دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: «زه په آسانه او پاک دين باندې مبعوث شوئ يم.»

---

(٣٢) تفسير القرطبي: ٥/ ١٧٥

(٣٣) دابن ماجه او دارقطني په روايت او استناد او دهغو ليارو څخه چې يو بل تقويت کړي.

(٣٤) جامع العلوم والحكم دجوامع الكلم دپنځوسو احاديثو په شرح کې ص ٢٩٢، ٢٩٣

لدې خبرو څخه په صراحت سره څرګندیږي چې په دین کې ضرر نفی یا منع شوئ اوبل چاته ضرر رسول هم جواز نلري. نو پس د دغانیاتو له وجې ځانته ضرر رسول حرام دي ځکه چې دقتل، په هلاکت کې اچول او چاته یا ځانته ضرر رسولو نهی په کتاب الله(ج) او د پیغمبر ﷺ په سنتو کې راغلي او منع یا نهی پخپله د حرمت په معنی ده مګر دا چې کومه مانعه یا دلیل پیدا شي او له حرمت څخه یې راوګرځوي،پدې هکله کومه مانعه یا قرینه او دلیل وجود نلري.

۲- د دغانیاتو په استعمال کې د مال بیځایه تلف او ضایع کول دي او شریعت لدې کاره څخه منع کړیده، لکه چې مغیره ابن شعبه له حضرت رسول الله ﷺ څخه روایت کوي چې فرمایلی یې دي: «خدای(ج) دا لاندې څیزونه پرتاسو حرام ګرځولي دي: د مور نافرماني، نوروته څه نه ورکول او د هغو ځنې اخستل، د نجونو ژوندي خښول، غالمغال، زیاته غوښتنه او د مال بې ګټې تلف او ضایع کول.»

حافظ ابن حجر وایی: «اکثره علماً د مال تلف کول او بیځایه لګول په نفقه کې اسراف او زیاتي ته راجع کوي او ځنې بیا په نفقه کې اسراف حرام بولي. په هغه مبارک حدیث کې قوي او معتبره خبره دا ده چې مال په غیر شرعي وجه او طریقې سره ولګول شي دا فرق نکوي چې په دیني چارو کې وي یا دنیوي، خدای(ج) له هغه څخه منع کړیده ځکه چې الله تعالیٰ عزوجل مال د ژوند د دوام لپاره پیدا کړئ او د هغه په اسراف او ضایع کولو کې دا مرام له منځه ځي.»(۳۵)

لدې نه به د مال بی ځایه او په ناحقه تلف کول څښی وي چې پدې مال تنباکو واخستل شي هغه په اورکې سیځي او غیر له لوګي هیڅ ځنې نه پاته کیږي

(۳۵) فتح الباري فی شرح صحیح البخاري: ۱۰/ ۳۳۵

چې بيا دالوګئ په هوا کې بخار او دهوا دچتلې سبب کيږي او ايره يې خاورو ته ځي. لوګئ يې په ناروغۍ بدليږي چې دانسان بدن ته سرايت کوي او ژوند يې له خطر او هلاکت سره مخامخ کوي.

خداى(ج) له اسراف او دمال له بيځايه لګولو څخه منع کړي. ددې عمل عاملين يې دشيطان ورونه بللي: ﴿وَآتِ ذَا الْقُرْبَىٰ حَقَّهُ وَالْمِسْكِينَ وَابْنَ السَّبِيلِ وَلَا تُبَذِّرْ تَبْذِيرًا؛ إِنَّ الْمُبَذِّرِينَ كَانُوا إِخْوَانَ الشَّيَاطِينِ وَكَانَ الشَّيْطَانُ لِرَبِّهِ كَفُورًا﴾(٣٦) يعنې دحق دخاوندانو، بينوايانو او مسافرانو حق ورکړې او بيځايه لګښت مه کوې ځکه چې بې ځايه خرڅ کوونکي دشيطان ورونه دي او شيطان د خداى(ج) دامر څخه سرغړونه کړيده.

امام شافعي(رح) وايي: «تبذير عبارت دئ له غير حق مال لګولو څخه، خير په کار کې تبذير نشته او دا جمهور قول دئ»(٣٧) کوم مالونه چې دخلکو په لاس دي داټول دخداى(ج) مال او ملک دئ چې دبنده ګانو په واک کې ورکړ شوي دي. نو لازمه ده چې دخداى(ج) په اطاعت کې ولګول شي لکه چې الله تعالى(ج) فرمايي: ﴿آمِنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَأَنْفِقُوا مِمَّا جَعَلَكُمْ مُسْتَخْلَفِينَ فِيهِ﴾«الحديد:٧» يعنې په خداى او دهغه په رسول ايمان راوړئ او له هغه مالڅخه يې ولګوئ چې تاسو دهغو په لګولو خليفه مقرر شوي ياست.

امام قرطبي ددې آيت په تفسير کې وايي: «آيت پدې دلالت کوي چې ټول مال او ملکيت دخداى(ج) او بنده يکښې يوازې ددومره تصرف حق لري چې خداى راضي شي او په مقابل کې خداى ورله جنت ثواب په توګه ورکوي.»(٣٨)

---

(٣٦) دالاسراء سورې ٢٦ او ٢٧ آيتونه

(٣٧) القرطبي تفسير: ٢٤٧/١٠

(٣٨) القرطبي تفسير: ٢٣٨/١٧

دمال لګول د دخانیاتو په استعمال کې نه د خدای په اطاعت کې ده او نه یې په رضایت کې. لکه څنګه چې د اقتصاد پوهان وایي: څرنګه چې دخانیات د ناروغیو سبب کیږي، او د ناروغ سړی کار نشي کولای نو ځکه د کار یا عمل د دې تعطیل له وجې ملي اقتصاد ته تاوان رسیږي او د دې ورځو شمیر چې د دخانیاتو له کبله په ناروغیو اخته له کار او وظیفې څخه پاته کیږي، میلیونونو ته رسیږي. او دا سربیره پرهغو لګښتونو ده چې د دخانیاتو په پیرودلو او د ناروغ په معالجې او تداوۍ لګیږي او یا ورته اړتیا وي. پدې کې وګړه نیز اقتصاد هم زیانمن کیږي ځکه چې د دخانیاتو د پیرودنې او د ناروغۍ په صورت کې ده ته زیاته اندازه پیسې په معالجه لګیږي د غه وګړه نیز او فامیلي لګښتونه د دخانیاتو له کبله د وګړي او د کورنۍ د غږو د تکلیف او حتیٰ له منځه تللو سبب کیږي چې دا پخپله یوه ګناه ده لکه په حدیث شریف کې راغلی چې: (دیوه شخص لپاره همدومره ګناه کافي ده چې د خپلې کورنۍ نفقه خرونکی تلف کړي). (۳۹)

۳- دخانیات د هغو خبائثو له جملې څخه ده چې خدای (ج) د هغو نه منع کړیده لکه چې فرمایي: ﴿الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ الرَّسُولَ النَّبِيَّ الأُمِّيَّ الَّذِي يَجِدُونَهُ مَكْتُوباً عِنْدَهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَالإِنْجِيلِ، يَأْمُرُهُمْ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَاهُمْ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبَاتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبَائِثَ...﴾ (٤٠) یعنې هغه کسان چې په صدق او اخلاص سره د هغه پیغمبر چې نبي اُمي دئ پیروي وکړي، هغه چې صفت او ستاینه یې په تورات او انجیل کې پیدا کوئ او لولئ یې، هغوی ته په نیکو اوغوره کارونو امر کوي او له منکراتو څخه یې منع کوي، پاک څیزونه ورته حلال ګرځوي او ناپاکه څیزونه ورته حراموي...

(۳۹) حدیث د ابوداود بن عبدالله بن عمرو بن عاص او د مسلم په روایت، ریاض الصالحین ۱٤٦

(٤٠) د اعراف د سورې ۱۵۷ آیت.

دخانیات دسلیمي طبعي خاوندانو په نزد خبیث او ناپاکه دي او خباثت یې له ضرر نه برسیره د تریخ او بدمزې خوند، ناوړه او نامرغوبه بوی په سبب دئ. شیخ علیش وایي دخانیات ناوړه بوی لري چې انکار ورځخه عناد (سرغړونه) او تکبر شمیرل کیږي. (٤١)

خبث او بدبویي دهغه ترټولو لږ ضرر دئ، کومې ناروغۍ چې له هغه پیدا کیږي له تریخ خوند او بدبوی څخه یې زیاتې شدیدي او مضرې، او خطرناکه پائیزې لري.

څرنګه چې دخانیات دهغو خبائثو څخه دي چې تریخ خوند، بدبوی، زیات ضررونه او ناوړه او خطرناکه پائیزې او عاقبت لري، نو څکه حرام دي.

والله تعالى أعلم

(٤١) فتح العلي المالک في الفتوى على مذهب الامام مالک: ١/١٨٩-١٩١

د دخانیاتو په استعمال کې د شریعت حکم

فضیلتمند ډاکټر
زکریا بسری
د قاهرې د پوهنتون د حقوقو د پوهنځي د اسلامي شریعت د پیاړلمنت استاذ او رئیس د جامع الازهر د اسلامي تحقیقاتو د ټولنې او فتوی د انجمن غړئ

کله چې اسلامي هیوادونو له دخانیاتو سره پیژندګلوي پیدا کړه او مسلمانانو یې په استعمال پیل وکړ، فقیهو په هغه وخت کې دیني مسئولیت او وجیبو پر بنا په دین کې د هغه د حکم پلټنه کوله.

ځنو هغه ته حرام ویل او دلیل یې پدې حرمت کې ضرر، کمزورتیا او سستي و بدن ته وه، او هم هر هغه څه چې تخدیر راولي او په انساني حرکاتو او خوښۍ اغیزه کوي، د هغو په وړاندې د پیغمبر ﷺ حدیث هم دلیل ؤ چې له هر نشه راوستونکي او د اندامونو یا غړو دسستوونکو څخه یې منع کړیده.

په اوسني عصر کې ځنې د تحریم دلیل هغه څه چې په ضرر او فساد مشهور وي بولي. د اسلام دین د هر ګټور څیز پراباحت او د هر مضر او مفسد څیز پر حرمت استوار دئ، حتی که په یوه څیز کې هم ضرر او هم ګټه وي، نو ضرر ته یې ترجیح ورکول کیږي او هغه څیز حرام دئ. د دغه تحریم مبدأ او اساس په شرابو کې ثابت شویدئ لکه چې خدای ج فرمایي: ﴿ يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ، قُلْ فِيهِمَا إِثْمٌ كَبِيرٌ وَ مَنَافِعُ لِلنَّاسِ، وَ إِثْمُهُمَا أَكْبَرُ مِنْ نَفْعِهِمَا ﴾ (البقره ۲۱۹) یعنې ای پیغمبره له تا څخه د شرابو او قمار د حکم په هکله پوښتنه کوي، ورته ووایه چې پدې

دواړو کې کبیره ګناه او ګټه هم خلکو ته شته، خو ګناه یې تر ګټې لوړه او زیاته ده.

یو شمیر نورو د دخانیاتو د استعمال پر کراهیت نظر ورکړئ چې مرتبه یې له حرمت څخه کمه ده (۱)

دهغو دلیل هم دا دئ چې په هغو کې ضرر شته خو هومره نه چې د حرمت درجې ته ورسیږي. ځکه نور دهغه کراهیت د بدبوی، خباثت او تنفر پر بنا بولي. (۲)

لدې دوه ډلونه پرته نور علماً هم شته چې هغو ته مباح وایی او په جواز یې پدې دلیل قایل دي چې په اشیا وو کې اصلی حکم اباحت دئ او ځکه نورو بیا ځانګړې علمي مقالې او رسالې پدې هکله لیکلې او ویلې یې دي چې په عمومي ډول دهغو په وړاندې د دخانیاتو ضرر او داندامونو سستیدل نه دي ثابت شوي تر څو یې تولو خلکو ته مکروه یا حرام وبولي.

هغوی وایي که چیرې دخانیات چاته ضرر ورسوي او یا دوي غالب ګمان ولري چې ورته ضرر رسوي، پدې اساس دهغه لپاره یې استعمال حرام یا مکروه ده، نه نورو کسانو ته چې ورته ضرر نه رسوي. پدې صورت کې هغه لکه نور مباحات دي چې مباح او حلیت یې د خوړلو نه د ضرر په دلیل حرامیږي لکه د ناروغ لپاره د ځنو حلالو او مباح خوړو او مشروباتو خوراک او څښاک. لدې فقهي څخه یو شمیر پدې نظر دي چې د مروت او شهامت اصحابو ته بنایي او ورته بهتره ده د کمال مرتبې ته درسیدو په منظور هغه ترک کړي.

یو شمیر نور وایي چې د دخانیاتو استعمال پنځه حکمه لري په لاندې ډول:

۱ - واجب دي که چیرې د مزاج د اعتدال او د ذهني او جسمي کارونو لپاره د قدرت پیدا کولو سبب شي لکه چې د ځنو لپاره همداسې ده.

(۱) د دوی د فرق په هکله دی د اصول الفقه الاسلامی کتاب ته مراجعه وشي.
(۲) اسلام پر خوشبویی، د چاپیریال په پاکی، د خولی نظافت او د مسواک په استعمال امر کوي او څوک چې پیاز او هوړه وخوري جومات ته له ننوتلو څخه منع کیږي.

۲- مستحب ده که چیرې د مزاج د اعتدال د زیاتوالي او د کار د قدرت د زیاتوالي سبب شي.

۳- مکروه ده که چیرې لږ ضرر ورسوي او یا تر استعمال د مخه په غالب ګمان سره مضر معلوم شي.

٤- مباح ده که چیرې د معتاد لپاره یې استعمال او نه استعمال یو شان وي.

٥- حرام دي که چیرې ضرر یې ثابت او یا یقیني پوه شي چې په استعمال کې یې ضرر دئ.

په اسلامي هیواد ونو کې په قول او عمل کې مشهوره دا ده چې د دخانیاتو استعمال حلال دئ او ځني صالح او پرهیزګاره فقهیو هغه استعمال کړي. هغویې په استعمال کې د دین لخوا پر ځان کوم مشکل ندئ موندلئ. د حرمت فتوئ یې پر هغو کسانو منحصر ویلله چې بدن یې له هغو څخه زیانمن کیږي او یا هغه مال چې د هغه په لاس ته راوړلو کې لګوي ځان او کورنۍ ته یې ستونزې را پیدا کړي.

په ننني عصر کې علمي طبي تحقیقاتو او څېړنو دا مسئله جدي بللې او د تطبیقي تجاربو په اساس یې د هغو ضررونه ثابت کړي دي. (۳)

اکثرو حکومتونو دې دعوت او آواز ته مثبت ځواب ووایه او د هغو پرضد ې لازم اجراآت ترسره کړل. ځني دې حکومتونو د هغو بیه لوړه کړه ترڅو یې خلک له پیرودنې څخه صرف نظر وکړي یا یې په استعمال په ځني ځایونو او اجتماعاتو کې بندیز ولګاوه چې د مصر هیواد هم پدې وروستیو کې داکار وکړ. دا د داکتر حمدي

(۳) طبیبان په خپله تخصصي رشته کې د طب او لوالامر دي او لازمه ده چې خبره یې پدې هکله واوریدل شي ځکه چې خدای (ج) فرمایي: له خدای، پیغمبر او خپل اولوالامر څخه اطاعت وکړی د علماؤ په نزد په چاروکې د تخصص خاوندان او لوالامر حسابیږي، نو ځکه په طبی مسایلو کې طبیبان اولوالامر دي، د قوانینو په تطبیق کې حاکمان اولوالامر او د فقهی احکامو د پیژندنې په مسایلو کې د فقهی علماً اولوالامر دي او نور ...

سید د اکټرانو د اتحاد یې درئیس نظر ؤ. شرکتونو هم دهغو زیانونه اعلان کړل ترڅو خلک ورڅخه نفرت پیدا کړي، دهغو په هکله سوچ وکړي او خپله راتلونکي وسنجوي. خپل عزم او هوډ یې هکله قوي، پر خپل روش او سلوک مسلط شي او دهغو داستعمال څخه ډډه او پرهیزوکړي. نورهم دی کارته تشویق، دهغو لارښود وګرځي او د ټولنې په اصلاح کې په لږي کتار کې ودریږي. له خپل ځان څخه سنت او نیکه طریقه په یادګار پریږدي ترڅو دځان او هغه چالپاره چې پیروي یې کوي اُخروي ثواب و ګټي، البته پرته لدې چې دقاید یا لارښود په ثواب کې یې څه کمئ راشي لکه څنګه چې په نبوي سنتو کې ثابته شویده.

ددی ټولو بیاناتو او نظریاتو په نتیجه کې دفن خاوندانو او طبي پوهانو ددخانیاتو داستعمال دحکم په هکله په قطعي ډول څرګند کړل چې حکم یې دحرمت او تحریمي کراهیت ترمنځ څرخیږي.

کله یې چې په خلکو کې زیات رواج او عمومیت درلود نو دخلکو داحوال دمراعاتولو او ددې عادت دتسلط له کبله، ځنو کسانو هغه حلال باله ترکول یې په یو وار لکه چې ما وکړل ډیرګران او مشکل کار دئ. دپرینبود لو په هکله یې حکم په تدریجي ډول دکمیت کمول تر هغې درجې پورې دئ چې ضرر یې کم یا بالکل له منځه ولاړشي چې بالاخره بیایې باید داستعمال څخه په بشپړه توګه صرف نظر وشي. البته داکار دقدرت، مالي امکاناتو او صحي یا روغتیایي حالت په پام کې نیولو سره ترسره کیږي. پدې کې باید له هغې طریقې څخه کار واخستل شي چې ضرر یې کم وي څرنګه چې معتادینو ددخانیاتو د ضررونو په هکله معلومات ترلاسه کړل نو یې دطبیبانو نصیحتونو ته غوږکیښود او ورو ورو یې له دخانیاتو څخه صرف نظر او بالاخره یې ورڅخه بشپړ پرهیز وکړ.

تر هغو وروسته چې خلک وپوهیدل چې ضرر یې یوازې استعمالوونکي ته مخصوص نه پاته کیږي نو باید چې په لیرې او ورانو ویجاړو ځایونو کې یې استعمال

کړي، ترڅو نور يې له ضرر او زيان څخه په امان کې وي. که چيرې يې استعمالوونکئ خپل نفس ته ضرر رسوي او پدې هيڅ پروا نه کوي چې پدې صورت کې هغه دشهوت په غوښتنه کار کوي نه دعقل په امر، نو بيا هغه حق نلري چې نورو ته ضرر ورسوي. اسلام دضرر پرضد ده، دايې غوښتنه ده چې ټولنه او دژوند چاپيريال يې پاک او سُتره وي او دانظافت له انساني حقوقو څخه دئ.

ما دهغه قانون چې پدې هکله صادر شوئ دتطبيق لپاره وړاندیز وکړ چې که چايې په تطبيق کې عجله ونکړه او ځنډيې پکښې وکړ بايد غرامت واخستل شي او مسئول وپيژندل شي. دا مطلب مې د "لواء الاسلام" په نامه ديني مجله او هم دالاخبار په جريده کې چې په زيات شمير سره خپريږي، خپور کړ. دټولنيزو ناروغيو علاج چې په جريدو او ورځپانو کې خپور خو عمل پرې ونشي او دکاغذ پر مخ پاته شي، نتيجه يې خطرناکه او ناوړه ده، تر هغو دقانون نه صادريدل ښه او غوره دي.

دا دئ ددخانياتو داستعمال حکم په ننني عصر کې او دسوداګرۍ حکم يې چې دحرام او تحريمي مکروه ترمنځ څرخيږي. څوک چې دهغه سوداګرۍ يا تجارت کوي په حقيقت کې دضرر رسوونکي حرام يا تحريمي مکروه تجارت کوي چې دحرامو په پوله ژوند کول دي.

هغه څوک چې ژوند يې په بنسټيز او طبيعي ډول ددخانياتو پر سوداګرۍ ولاړ دئ او په خپلو مالي او اقتصادي چارو کې پر هغو باور او اعتماد کوي، ښايي چې دخپلې اړتيا پرېنا يې ورو ورو کم او بالاخره يې له سوداګرۍ څخه صرفنظر وکړي. هغو ځوانانو ته يې چې دنورو پيروي کوي ونه پلوري ځکه چې هغوی په غير شعوري ډول ددې مضر عمل تقليد او پيروي کوي او ورو ورو ورسره عادت کيږي. دهغو دتجارت دترکولو ترڅنګ دې ورو ورو دروزې پيدا کولو په منظور په حلال او مشروع تجارت لاس پورې کړي. ترڅو دغه انتقالي مرحله دهغه نسل څخه چې معتاد ده، غير معتاد نسل ته بدلون وموميږي.

څرنګه چې دين په مسلمانانو کې قوي قدرت او اغيزه لري او په هغه کې دانسان دروغتيا ساتنې ريښې موجودې دي، خلک ژوندي پاته کيدلوته رابولي او له خطر او زيانونو څخه يې منع کوي او مسلمانانو ته دمفاسدو او زيانونو څخه دساتنې او ډډې کولو لارې چارې وربښي، نو ځکه دنړيوالې روغتيايې اداري منطقوي دفتر په پام کې لرل چې ديو شمير لويو او نامتو علماؤو او پوهانو نظريې ددغو دانيا تو داستعمال په هکله راڅرګندې کړي. پدې اړوندمو هغوته يوشمير پوښتنې وروا ستولې ترڅو دبشپړ ځواب سره يې بيرته مونږ ته راولېږي. مونږ دهغو ځوابونه دهغو څخه په زياتې مننې سره ترلاسه کړل. موضوع په تفصيل سره تر بحث او څېړنې لاندې ونيول شوه وروسته بيا داسې خلاصه او نتيجه گيري شوه چې دا دشريعت حکم دئ چې **په لمړۍ درجه کې ددغو دانيا تواستعمال قطعي حرام او يا په دوهمه درجه کې کم له کمه تحريمي مکروه ده.**

دنړيوال روغتيايې سازمان منطقوي دفتر دا خپله دنده او مسئوليت بولي چې دا ارزښتناک معلومات دعامه خلکو دگټې اخستنې په منظور دهغو په واک کې ورکړي له همدې کبله دې دفتر پريکړه وکړه چې لمړئ ددې فتوا گانو لنډيز دسريزې او مقدمې په حيث خپور او بيا دعامې گټې اخستنې په منظور دهغه ټول نصوص په بشپړ ډول چاپ کړي. سره ددې چې په هغو کې ځنې تکراري معلومات شته چې فقيهو کرامو خپلې فتواگانې دهغو پر بنسټ صادرې کړيدي. مونږ د دې کتاب دټولو محترمو لوستونکو څخه دا هيله کوو چې شرعي احکام يې ومني او دمفاسدو او زيانونو څخه دخپل ځان، کورنۍ او هيوادوالو دژغورنې په منظور د دغو دانيا تو له استعمال څخه ډډه وکړي او دخداى(ج) دې قول ته لبيک ووايي چې ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُو اسْتَجِيبُوا لِلّٰهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيكُمْ ﴾ يعنې اى مسلمانانو دخداى حکم او دهغه درسول حکم و منې ترڅو چې تاسې وغواړي ددې لپاره چې ژوندي موو ساتي.

ډاکتر حسين جزائري

د ۱۴۰۹ هـ. ق کال دمحرم الحرام

او د ۱۹۸۸ م کال داگست مياشت

لازمه ده چې داسې يو قانون وضع شي چې د دخانياتو سوداګري تنظيم کړي، پدې ډول چې پيرودنه او پلورنه او استعمال يې دلنډ وخت لپاره هغو کسانو ته منحصر پاته شي چې ورسره عادت دي، چې دا مرحله به د ورستۍ منعِ سريزه يا مقدمه وي. هيڅ اته دې د سوداګرۍ نوې اجازه نامه ورنکړه شي، دهغو د سوداګرو سره دې مرسته وشي چې په نورو څيزونو تجارت وکړي. دولت بايد د دخانياتو له درکه دهغو د مالي ګټې د تعويضولو لپاره لازم او ګټور تدابير وسنجوي. او انشاء الله چې پدې ډول به الله تعالى د دخانياتو د استعمال او د سوداګرۍ د منعِ له درکه زيات منفعت او ګټه ورپه برخه کړي.

والله ولی التوفيق

د دخانیاتو په استعمال کې د شریعت حکم

فضلیتمآب شیخ
عطیـــــه صقـــــر
د جامع الازهر د اسلامي تحقیقاتو د ټولنې
او د فتوی انجمن غړئ

د دخانیاتو پر ضد مبارزه که دا حرام وي که مکروه، د اسې کار د ئ چې شریعت یې تائیدوي. ځکه چې دیوه مسلمان لپاره واجب ده چې له روغتیایي، فکري، روحي، اقتصادي اخلاقي او نورو چارو له درکه غښتلئ او بشپړ وي. د رسول الله ﷺ د احدیث د ئ چې «غښتلی مسلمان د خدای (ج) په نزد غوره او محبوب د ئ له کمزوري مسلمان څخه. په دواړو کې خیر او برکت د ئ. په هغو چارو کې چې ستاسو پکښې گټه وي راغب او حریص اوسې، له خدایه مرسته وغواړې او عاجز مه کښینې.».
(د مسلم په روایت)

روغتیا د اسلام په نظر کې ځانگړئ اهمیت او منزلت لري، او شریعت هغه ریږونه چې له بدن سره اړیکې لري له پامه ندي غورځولي لکه لمونځ، روژه، حج، جهاد. د اسې چې په فرضونو کې یې تخفیف قایل شوئ. د غه مطلب د فقهي په کتابونو کې په تفصیل سره بیان شوئ د ئ او د هر هغه څیز څخه چې روغتیا ته زیان ورسوی منع شویده، ترڅو مسلمان د دیني او دنیوي واجباتو په ادا کولو کې عاجز او بې وزلئ نه وي. او فرمایلي یې دي چې روغتیا هغه نعمت د ئ چې د ډیر خلک یې په قدر نه پوهیږي. د هغه په قدر هله پوهیږي چې ورڅخه محروم شي لکه چې یو ضرب المثل د ئ چې «روغتیا د روغو کسانو په سر هغه تاج د ئ چې نا روغان یې په قدر پوهیږي».

حضرت رسول الله ﷺ فرمايلي دي: «دوه نعمته دي چې خلک پکښې غولیږي او قدر يې ندئ پيژندلئ - يو روغتيا او بل خالی يا فارغ وخت». (دبخاری په روايت) يعنې که چيرې انسان په موقع له هغه نه ګټه وانخلي زيانمن کيږي او داسې ده لکه چې څوک خپله ښه او قيمتي متاع په کمه او ناچيزه بيه وپلوري.

په حديث شريف کې راغلي چې: د قيامت په ورځ لمړی څه چې د دنيا له نعمتونو څخه له بنده څخه پوښتنه کيږي هغه داده چې «آيا ستا بدن مو روغ نه ؤ ګرځولئ، آيا ته مو په يخو اوبو نه وې مور کړئ» (ترمذي روايت). خدای (ج) فرمايي: ﴿ ثُمَّ لَتُسْأَلُنَّ يَوْمَئِذٍ عَنِ النَّعِيمِ ﴾ (التكاثر:٨) يعنې د آخرت په ورځ د دنيوي نعمتونو څخه پوښتل کيږي. ځنې مفسرين وايي چې له نعيم څخه پدې آيت کې مقصد روغتيا ده.

رسول الله ﷺ هغه د دنيوي سعادت او د انساني شعور او احساس يو له اساسي ارکانو څخه شمير لئ دئ. لکه چې فرمايي: «څوک چې روغ زمت له خوبه راپاڅي او په راحت او آرامې کې وي، د يوې ورځې روزي او قُوت ولري داسې ده لکه ټوله دنيا چې د ده وي» (ترمذی په روايت) په بل حديث کې دی چې وايي: «له خدای (ج) څخه عفوه يا بخښنه، عافيت او روغتيا وغواړی له ايمان او يقين څخه پس تر روغتيا غوره شئ چا ته ندئ ورکول شوئ» (دنسايی په روايت). د دې حديث ځنې شارحين وايي چې دا حديث د دې شرونو د زوال او له منځه تللو ضامن دئ چې د تيرې زمانې شرته عفوه يا بخښنه د حاضرې زمانې ته عافيت او د راتلونکې زمانې ته معافات او روغتيا ده.

روغتيا ته د مضرو څيزونو د مخنيوی په برخه کې وايو چې هر هغه څه چې د انسان بدن او عقل ته ضرر او تاوان رسوي، اسلام هغه حرام ګرځولي د مثال په توګه مضرو خورو او مشروباتو ټول د ولونه لکه د خوګ غوښه، شراب او... د بدن له حده زيات تکليفولو نه هم منع شويده سره د دې چې که په قيام الليل او روژه کې وي. حديث شريف وايي: «خدای (ج) پر تاسو حق لري او بدن موهم پر تاسو حق لري» (دبخاری په روايت) د حلال او مباح خوراک په اسراف کې هم منع شوې، لکه چې

فرمايي: ﴿وَكُلُوا وَاشْرَبُوا وَلاَ تُسْرِفُوا إِنَّهُ لاَيُحِبُّ الْمُسْرِفِينَ﴾ (الاعراف: ۳۱) يعني وخوري وڅښي اسراف مه کوئ په تحقيق سره خداى نه خوښوي اسراف کوونکي. دنا روغ سره دناستي او ولاړي او ډير نژدې کيدو څخه منع شوې چې دا تنبيه ده دنا روغئ دسرايت له خطر څخه. پدې هکله بايد آگاه او هوښيار واوسى...

دا لاربښوونې دروغتيا په هکله وې او اسلام دمال په ساتنه کې هم پاملرنه کړې او داستعمال په نيکه او ښه طريقه يې امر کړئ دئ. په غير شرعي او نامعقولو کارونو کې دمال له لګولو او تبذير چې بيځايه مصرف دئ، او له اسراف څخه چې تيرئ له حده دئ منع شويده. دا واړه بد او ناوړه بولي لکه چې خداى(ج) فرمايي: ﴿وَلاَ تُبَذِّرْ تَبْذِيراً . إِنَّ الْمُبَذِّرِينَ كَانُوا إِخْوَانَ الشَّيَاطِينِ وَكَانَ الشَّيْطَانُ لِرَبِّهِ كَفُوراً﴾ (الاسراء: ۲۶-۲۷) يعني بيځايه مصرف مه کوئ ځکه چې بيځايه مصرف کوونکي دشيطان وروڼه دي او شيطان د خپل پروردګار په وړاندې نافرماني يا سرغړونه او ناسپاسي کړې. الله پاک(ج) دزکات ورکولو په هکله فرمايي: ﴿وَآتُوا حَقَّهُ يَوْمَ حَصَادِهِ وَلاَ تُسْرِفُوا إِنَّهُ لاَيُحِبُّ الْمُسْرِفِينَ﴾ (الأنعام: ۱٤۱) يعني دغلي حق (زکات) دلو په ورځ ورکړئ او اسراف مه کوئ چې خداى(ج) اسراف کوونکي نه خوښوي. په حديث شريف کې راغلي چې خداى(ج) دمال تلف او ضايع کول بد او مکروه بولي (دبخاری او مسلم په روايت). همدارنګه له ضرر او ضرار څخه منع شويده.

ددې بيانونو په رڼا کې وايو چې:

ددخانياتو پرضد مبارزه په دوو اساسي طريقو استوار ده: يوه وقايه يا مخنيوئ او بله معالجه. دوقايې څخه هدف او مقصد دناروغئ څخه ځان ساتنه ده او ددوام ممانعت يې دئ چې په تهديد يې شروع کړې وې خو ناروغي لا دانسان بدن ته سرايت نه وي کړئ او دمعالجې څخه مقصد دناروغ درغورنې لپاره کوښښ او هلې ځلې دي کله چې هغه دخطر په منګولو کې وي. دا دواړه هر يو ځانته لاړې چارې لري چې د اسلام

له نظره پرې رنا اچوو:

دوقايې دلارو چارو څخه يوه هم ځان ساتنه او د دخانياتو په استعمال نه اقدام کول دي، د انسان نفس، هغه تشويقوي چې دخانيات تجربه کړي ترڅو چې په اغيزه او نتيجې يې پوه شي. خو کله چې يې اغيزه ولیده نو بيا غواړي هغه پرېږدي. خو څوک چې غواړي هغه تجربه کړي نو په هغو کې لويږي او بيا ګرانيږي چې ځان تري وژغوري. لکه چې په عربي ادبياتو کې راغلي: دوه لويو او مشهورو عيارانو يا زيرکانو پخپلو کې يوبل ته سره وويل: په مونږ کې کوم يو د ډير چالاک او زيرک له بل څخه دئ؟ بل يې وويل زه. ځکه چې که چيرې په کوم مصيبت اخته شوم پوهيږم چې څنګه ځان تري وژغورم. لمړنې يې ورته وويل نه زه ترتا ډير زيرک او هوښيار يم ځکه چې کله چې زه په شر او مصيبت وپوهيږم، پکښې نه لويږم. په ربښتيا سره چې هوښيار او عاقل هغه دئ ځکه چې مخکې په شر کې له لويدنې نه، ژغورنه آسانه، او زيات تکليف ته اړتيا نلري. خو وروسته له واقع کيدو څخه پکښې، ژغورنه يقيني نه او زيات کړاو او وخت ته اړتيا لري. دامر معروف او نهي له منکر څخه حفاظت او ساتنه بلل کيږي، چې دنيک اُمت له ځانګړتياوو څخه ده، هغه خير دئ چې دخلکو په ګټه او دخلق اللّه لپاره خدمت دئ، په خير کارونو باندې دنصيحتونو له جملې څخه ده چې بايد دتولنې په غړو کې زيات وي، او همدارنګه په خير او نيکۍ کې دمرستې له جملې څخه ده چې ديوې پرمختللې او ممتازې تولنې غوره صفات دي. اسلام پدې برخه کې هم پيشقدمه او دزياتو نصوصو لرونکئ دئ. خداى(ج) فرمايي: ﴿وَلْتَكُنْ مِنْكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ﴾ (آل عمران: ١٠٤) يعنې ستاسو له جملې څخه بايد داسې يو تولګئ وي چې خلک دخير کارونو ته راوبولي، په معروف امر وکړي او له منکراتو څخه منع. دا تولګی يا ګروه بريالی ده. په بل ځای کې فرمايي: ﴿وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ يَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ﴾

(التوبه: ۷۱) یعنې: مؤمن سړي او مؤمنې ښځې ځنې یې یو دبل دوستان دی چې حکم کوی دوی په نیکیو او منع کوي له بدیو څخه.

همدارنګه فرمایي: ﴿ وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَىٰ وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ ﴾ (المائده: ۲) یعنې په خیر او نیکۍ کې یو دبل مرسته وکړی خو دګناه په کارونو او تیري کې مرسته مه کوی. حضرت رسول الله ﷺ فرمایي: «دین نصیحت دئ، که څوک له تاسو څخه یوه بدي وویني باید چې هغه په لاس اصلاح کړي، که یې په لاس نشو په ژبه دې تغیر ورکړي او که هغه یې هم نشو کولای نو په زړه کې دې هغه بد او ناروا وبولي او دا دایمان تر ټولو کمزوري درجه ده. او که چیرې خدای ستا په وسیله یوه چاته هدایت ورکړ، نو ستا لپاره دسرو وړینو اوښانو له لرلو څخه دا غوره او بهتره ده» (دمسلم په روایت). (سره وړین والا اوښان دعربو له ډیرو ښو مالونو څخه ګڼل کیدل.)

څوک چې په دخانیاتو یو معتاد کس معالجه او له دخانیاتو څخه یې وژغوري نو دا دخیر دلیل دئ، او هغه یې له شره خلاص کړئ دئ. دا اسلامي اخلاق دي چې حضرت رسول الله ﷺ هغی ته تشویق کړئ او فرمایلي یې دي: «څوک چې له یوه مسلمان څخه یوه ستونزه دفع کړي، خدای (ج) دهغه څخه دقیامت دورځې له مشکلاتو یا ستونزو څخه یو مشکل لیرې کوي او خدای (ج) بنده سره په مرسته کې دئ تر هغو چې هغه دیوه مسلمان ورور په مرسته کې وي.» (دمسلم په روایت) حضرت پیغمبر ﷺ له غفلت او بې تفاوتې څخه منع کړې او فرمایي: «چا چې دمسلمانانو چاروته پاملرنه ونکړه او بې تفاوته ؤ دمسلمانانو له جملې څخه ندئ.» (دطبرانی په روایت). «او ندئ بشپړ مسلمان هغه څوک له تاسو څخه چې څښئ چې ځانته خوښوي نوروته یې هم خوښ نکړي.» (دمسلم او بخاري په روایاتو). په څرګند ډول ویلای شو چې دا دوقایې داهمیت او دمسئولینو دتشویق لپاره ډیرې مهمې او اغیزمنې لارښوونې دي. پدې هیله چې دهغو پر ضد مبارزه کې تر نورو فعال او متوجه اوسي. په خاص

ډول چې له هغې تګ لارې نه کار واخلي چې د بشري نفس په ځانګړتیاوو او طبعیت مؤثره اغیزه ولري. خدای پاک (ج) فرمایی: ﴿ اُدْعُ إِلىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ بِالحِكْمَةِ وَالمَوْعِظَةِ الحَسَنَةِ ﴾ (النحل: ۱۲۵) یعنې په حکمت او نیکې مَوعظې سره دخپل خالق لَیارې ته بلنه اَو دعوت وکړه. په قناعت ورکولو سره هم حکیمانه وقایه نتیجه ورکوي. قناعت ورکول دهغه روش یا تګ لارې بنسټ دئ چې انسان له ویرې او پریشانۍ څخه ساتي.

دوقایې او مخنیوی حکیمانه تګ لار داده چې د دخانیاتو دګټې په هکله دخلکو غلطې انګیرنې باطل او ناروا ثابت شي. یقینی خطرونه او مفاسد یې دخیالی ګټو په مقابل کې خلکو ته توضیح او څرګند شي. دمثال په توګه دا چې دجنسي کمزورتیا سبب کیږي، په معتاد ینو کې دشدیدې ویرې سبب ګرځي، دمال[1]شتمنۍ دپانګې اچونې توان او قدرت له منځه وړي لکه څنګه چې په جرمني کې دهامبورګ د پوهنتون استاد کارل شیرن دې ټکوته داسې اشاره کړې: هغه دغم او غصې په له منځه وړلو کې ډیره لږه او کم دوامه اغیزه لري، حتی کله کله انسان پدې غمونو کې نورهم ډوبوي. انسان باید یوازې په مادي او ظاهري ګټو غافله نشي، دهغو ترڅنګ ادبي، معنوي او اخلاقي زیانونه یې هم په پام کې ولري، چې په مستقیمه اویا غیر مستقیمه توګه روغتیا، معنویت او اقتصاد ته څومره ملاماتوونکي زیانونه ورپیښوي او د ټولنې او داستوګنې دچاپیریال نورو وګړو باندې ډیرې ناوړه اغیزې کوي.

په پرمخ تللو هیوادونو کې یې باید د تولید او صادرولو خطرونه په پام کې وي ځکه کومې ګټې چې هغوی لدې مدرکه ترلاسه کوي، تاوان یې نه ورکول کیږي. لکه څنګه چې اوس په پرمختللو هیوادونو کې دهغه په خطر پوه شوي او دهغو په نابودۍ او له منځه وړلو یې لاسونه پورې کړي دي. خدای پاک (ج) په قرآن عظیم الشان کې فرمایلی: ﴿ فَاعْتَبِرُوا يَا أُولِي الأَبْصَارِ ﴾ (الحشر: ۲) یعنې ای دبصیرت خاوندانو تاسو له نورونه پند واخلئ. خپل ځانونه دهغه له شر او ناروغیو څخه

حقیقت ته په غور نیولو سره وژغوری ځکه چې نفسي قناعت هغه څه دئ، هغه مؤکد تضمین دئ چې سړئ د قوانینو په تطبیق کې مُخلصوی. او دا په تقنین کې قرآني تګ لاره ده. د شریعت دحکمت په بیانولو او د ګټو او زیانونو په پوهیدلو سره هم په انساني نفس کې دامر په تطبیق او د نهیو څخه په ډډه کولو کې رغبت راپیدا کیږي.

خدای (ج) په قرآن عظیم الشان کې څوځایه په دې هکله داسې ارشادات لري:

﴿ وَأَقِمِ الصَّلاَةَ . إِنَّ الصَّلاَةَ تَنْهَىٰ عَنِ الفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ ﴾ (العنکبوت: ٤٥) یعنې لمونځ شروع کړی ځکه چې لمونځ مو له بدیو او بې حیائیو څخه منع کوي. ﴿ وَ كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَىٰ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴾ (البقره: ١٨٣) یعنې روژه پرتاسو فرض شوې لکه چې له تاسونه په مخکې کسانو فرض شوې وه ترڅو متقي او پرهیزګاره واوسئ. د قمار او شرابو په منع کې یې هم فرمایلي: ﴿ إِنَّمَا يُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَنْ يُوقِعَ بَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَاءَ فِي الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ وَيَصُدَّكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللَّهِ وَعَنِ الصَّلاَةِ ، فَهَلْ أَنْتُمْ مُنْتَهُونَ ﴾ (المائده: ٩١) یعنې شیطان په شراب خورلو او قماربازی سره په تاسو کې عداوت او دښمني راپیدا کوي، تاسو د خدای له یاده او لمانځه څخه منع کوي، آیا منع کیږی؟ له غیبت څخه د منع په هکله وایي: ﴿ وَلاَ يَغْتَبْ بَعْضُكُمْ بَعْضاً ، أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَنْ يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتاً فَكَرِهْتُمُوهُ ﴾ (الحجرات: ١٢) یعنې یو دبل غیبت مه کوی آیا ستاسو څخه څوک دا خوښوي چې د خپل مړی ورور غوښه وخوري؟ پس تاسو هغه بدوینی.

که چیرې مقدمه صحیح وي نو سلیم عقل یې نتیجه په آسانۍ سره مني او که حکم رښتیا او معقول وي د انسان نفس په هغه باور پیدا کوي او هغه تطبیقوي او په تطبیق کې یې هلي ځلي او کوښښ هم کوي.

له نفسي قناعت پرته د مطلوب بري توقع کول درست ندئ او طبیعي ده چې نفسونه د هغه څه دښمن دي چې بد یې بولي. که هغه کار تطبیق هم کړي نو سطحي او

شکلي تطبيق به وي چې هره دقيقه غواړي له هغه څخه خلاصې ترلاسه کړي، خصوصاً دهغه مراقبت کوونکي په غياب کې چې هغه يې پرې لازم ګرځولي. انسان په داسې فضا او شرايطو کې دمنافقينو ژوند لري چې د ضمير او وجدان خلاف کار دئ.

ددخانيا تو له ضررونو څخه دخلکو دژغورنې او دهغو څخه دراپيدا کيدونکو ناروغيو دمخنيوی په مقصد بنه او اغيزمنه طريقه پخپل ځان باندې عملي کول دي ترڅو نورهم دي کارته تشويق شي خو که چيرې داسې وي چې پخپله طبيبان، دعوت کوونکي او ليکونکي ددخانيا تو په استعمال کې له نورو څخه ميدان ګټلې وي، نو دا ددې دليل دئ چې دوی پخپلو خبرو او څرګندونو کې صادق ندي ځکه که صادق وای نو لمړئ به يې پخپله دهغو څخه ډډه کړې يوه. دادئ دخلکو ګمان دهغو په هکله چې هيڅوک ځني انکار نشي کولائ. لدې کبله اسلام دخير دعوت کوونکو ته دا خبرداری او هدايت ورکوي چې هغه څه چې وايی پرې عمل وکړی پرته لدې به دخلکو باور ورځني سلب او يا کم له کمه کمزورئ شي. خدای پاک (ج) فرمايی: ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لِمَ تَقُولُونَ مَا لاَ تَفْعَلُونَ ، كَبُرَ مَقْتاً عِنْدَ اللّه أَنْ تَقُولُوا مَا لاَ تَفْعَلُونَ ﴾ (الصف: ۲ و ۳) يعنې ای مسلمانانو ولې هغه څه وايی چې عمل پرې نه کوی او دا دلوی خدای په نزد لويه ګناه ده چې په خوله ووايی او عمل پرې ونکړي. ﴿ أَتَأْمُرُونَ النَّاسَ بِالبرِّ وَتَنْسَوْنَ أَنْفُسَكُمْ وأَنْتُمْ تَتْلُونَ الكِتَابَ، أَفَلاَ تَعْقِلُونَ ﴾ (البقره: ٤٤) آيا خلکو ته په نيکو عملونو امر کوی او خپل ځان هيروی، په داسې حال کې چې دخدای کتاب هم تلاوت کوی آيا سوچ (تعقل) نه کوی؟

دحکيمانو له اقوالو څخه دي چې وايي: که له کوم کاره څخه چې نور منع کوی او تاسو پخپله هغه کوی نو تاسو ته لوی شرم او ننګ دئ. لازمه ده چې په تحريري يا شفاهي او يا هم مرئي نصيحتونو کې معلومات او ربنتيا په امانت داری سره عرضه او وړاندی شي. پدی معنی چې ددخانيا تو دمنفي اړخونو او ضررونو په هکله څه چې

دي ارائه شي او زياتئ پكښې ونشي. ځكه هغه معلومات چې خلك وينې يا اوري او يا يې هم لولي بايد چې له حقيقت سره برابر او مطابقت ولري، پرته لدې د خلكو باور پرهغو كميږي يا له منځه ځي او مطلوبه نتيجه په لاس نه راځي.

خداى(ج) چې د خلكو پاملرنه د شرابو او قمارو ضرر ته راړوله نو ويې فرمايل ﴿ فِيهِمَا إِثْمٌ كَبِيرٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ، وَإِثْمُهُمَا أَكْبَرُ مِنْ نَفْعِهِمَا ﴾ (البقره :٢١٩) يعنې پدې دواړو (شراب او قمار) كې لوى ضرر دئ، خلكو ته پكښې ګټه هم شته خو ګناه يې له ګټې څخه زياته ده. نو معلومه ده چې هر خير له شر څخه او هر شر له خير څخه يو څه لري.

مقصد دادئ چې د دې كار مسئولين بايد اعتدال په پام كې وساتي، خلكو ته غير صحيح معلومات ورنكړي ځكه چې ټول خلك نادانه ندي او صداقت او راستكاري د ملو تر ټولو لوى عوامل دي. لازمه ده چې د مسئولينو شمير زيات وي او هر يو د خپلې تخصصي رشتې په برخه كې مسئوليت ولري. د خپلې رشتې معلومات نورو ته انتقال او نصيحتونه يوازې د هغو دروغتيايي ضررونو په هكله محدود نه بلكې لازمه ده چې د دخانياتو د استعمال اجتماعي او اقتصادي زيانونه هم خلكو ته تبليغ او توضيح شي.

دوبا يا كولرا نارو غي لكه د حمله كوونكي دښمن په څير ده، ضرور ده چې د هغه پرضد مجاهدين ځني مهمې او اختصاصي دندې په خپلو كې سره وويشي، لكه د معركې رهبري، د خوړو رسول، كشف او نور دا ډول ويشنې د دې لپاره كيږي چې ټول په هغه كار كې ونډه واخلي او تخلف په هغې كې جواز نلري. لاندې آيت شريف همدې مسئلې ته اشاره كوي: ﴿ انْفِرُوا خِفَافاً وَثِقَالاً وَجَاهِدُوا بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنْفُسِكُمْ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ ﴾ (التوبة: ٤١) يعنې د روند بار والا او سپك بار والا ټول جهاد ته راووځئ او د خداى په لار كې پخپلو مالونو او سرونو سره جهاد وكړئ.

ددخانیاتو داستعمال دشرعي حکم په هکله دعلماؤو دفتواګانو لنډیز

پدې لنډیز کې هره فتوی دهغو فتواګانو څخه لیکو چې یو شمیر لویو عالمانو او پوهانو ددخانیاتو په استعمال کې دشریعت دحکم په هکله لیکلي دي. وروسته بیا ددې فتواګانو بشپړ نصوص خپروو ترڅو لوستونکو ته جوته شي، چې هغوی په څه ډول دې نښکاره او واضح حکم ته رسیدلي دي.

دګټورو چارو څخه یو هم دادئ چې دډې کار دمسئولینو لپاره دمشق او ټرین پروګرام هم جوړ شي او هغوی په ټولو هغو امکاناتو چې په دنده او مسئولیت کې یې ګټور ثابتیږي مجهز یا سمبال شي ځکه چې ناقصه، خواره واره او له حقیقت نه غیر معلومات له ځانې څخه تاوان زیات لري. لکه چې قرآن عظیم الشان په دیني چارو کې له بشپړ مهارت څخه داسې یادونه کړیده: ﴿ فَلَوْلاَ نَفَرَ مِنْ كُلِّ فِرْقَةٍ مِنْهُمْ طَائِفَةٌ لِيَتَفَقَّهُوا فِي الدِّينِ وَلِيُنْذِرُوا قَوْمَهُمْ إِذَا رَجَعُوا إِلَيْهِمْ لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُونَ ﴾ (التوبة: ۱۲۲) یعني ولې له هرې لویې ګروه څخه یو وړوکئ ټولګئ نه راوځي چې په دیني چارو کې علم او فقه زده کړي او کله چې یې بیرته خپل وطن ته مراجعه وکړه خپل قوم وویروي تر څو ډډه وکړي.

همدارنګه ګټوره ده چې مسئول او ناصح شخص دد خانیاتو په هکله د اساسي عمومي معلوماتو درلودونکئ وي، ځکه چې معلومات یو دبل بشپړوونکي دي او ګډ شمیر ناروغي په اکثرو سببونو کې یو دبل سره جمع کیږي. نوځوانانو ته باید په داسې مناسبې او ابتدایي طریقې سره په کورونو او ښوونځیو کې نصیحت وشي چې هغوی ترې ښه ګټه واخستلاځ شي او پرې اغیزه وکړي. پدې عمر کې رهبري ډیر مهم او ارزښتناکه رول لري. سره ددې چې دا وقایه او مخنیوئ په خاموشانه ډول سرته ورسیږي خو دژبني بلاغت څخه یې اغیزه زیاته ده. لدې څخه څرګندیږي چې اسلام داولاد په مقابل کې دپلرونو مراعات کولو ته زیاد ارزش قایل دئ. په صحیح حدیث کې راغلي چې: «سړی په خپل کور کې دچوپان حیثیت لري او دخپل رعیت یعنې دکورنئ دغړو مسئولیت لري. ښځه هم دخپل میړه په کور کې چوپانه ده او داولاد او دمیړه دکور مسئولیت ورپه غاړه دئ.» (دبخاری او مسلم په روایت). بل حدیث شریف دئ چې فرمایي: «هیڅ پلار خپل زوی ته له ادب پرته بل ښه بخښش ندئ ورکړئ» (دترمذی په روایت).

دنصیحت او محافظې شکلونه باید ډول ډول وي تر څو دانسان حواس دهغو سره

آشنایی او اُنس پیدا او دهغه په مقابل کې معافیت حاصل نکړي اوبې اغیزې پاته نشي. مسئول کس باید کوښښ وکړي ترڅو له نووښتونو او نوو طریقو څخه چې ګټور، اغیزمن او دوخت او چاپیریال سره مناسب وي کار واخلي. ځکه چې هره خبره خپل ځای او هره نکته خپل مقام لري. دمخاطب شخص داحوال مراعتولو ته بلاغت وایي. په قرآن عظیم الشان کې ددلایلو په بیانولو کې دا مسئله دخدای(ج) دقدرت او وحدانیت ثبوت، دنعمت ورکړه او ایمان ته رابلل دي. پدې هکله زیات نصوص یا واضح کلامونه په خاص ډول په مکي سورو کې موجود دي. یو شاعر پدې هکله وایي: (په هر څه کې دخدای(ج) په وحدانیت باندې ددلالت نښې شته). داؤ ددخانیاتو په خطر کې دنه لویدلو لپاره دوقایې او مخنیوي یا په هغې کې ددوام دمخنیوي او همدارنګه په معالجې کې دې غوري نه کولو په هکله داسلام تنظیمي، تشجیعي او تشویقي موقف چې بیان شو.

معالجه او وقایه باید چې په تدریجي شکل سرته ورسیږي. ددخانیاتو سره دعادت کولو په صورت کې په یوه وار دهغه څخه خلاصئ آسانه کار ندئ. ددې کار ماهرین ددې خبرې په اهمیت ډیر ښه پوهیږي مونږ کولای شو چې دشرابو دتحریم له اجرا اُتو څخه دقرآن عظیم الشان له نیک قیادت څخه پیروي وکړو چې لمړئ یې هغه دورځې په خاصو وختونو لکه دلمانځه په وخت کې منع کړلکه چې فرمایي: ﴿ يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لاَتَقْرَبُوا الصَّلاَةَ وَأَنْتُمْ سُكَارَىٰ حَتَّى تَعْلَمُوا مَا تَقُولُونَ ﴾ (النسأ:٤٣) یعني ای مسلمانانو دنشې په حال کې لمانځه ته مه وراندې کیږئ ترڅو وپوهیږئ په هغه څه چې وایئ. وروسته له هغې چې خلکو په ذهنې ډول هغه بد وبلل او خطرناکه اغیزې یې ولیدې نو حرام یې وګرځاوه لکه چې فرمایي: ﴿ يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّمَا الْخَمْرُوَالْمَيْسِرُ وَالأَنْصَابُ وَ الأَزْلاَمُ رِجْسٌ مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ فَاجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴾ (المائده: ٩٠) (دا آیت څو ځله ترجمه شویدئ) دجزئي تحریم نه مخکې خلکو ته وپوهول شو چې په هغو کې ترڅنګې، زیان زیات دئ. دهغو

عقلونه يې آزاد پرېښوول تر څو دموازنې او نفس ته دقناعت ورکولو له لارې له هغه څه څخه چې زيان يې ترګټې زيات دئ ډډه وکړي.

دمعتادينو دمعالجې بله طريقه روحي معالجه ده او دين هر ناروغ تشويق کوي چې ځان معالجه کړي. حديث شريف دئ چې: «اى دخداى بنده ګانو خپل ناروغان تداوي کړئ ځکه چې خداى(ج) دهرې ناروغۍ لپاره دوا پيدا کړې» (په ترمذى روايت).

همدارنګه اسلام تشويقوي چې معتاد شخص بايد په ټولو ممکنو وسيلو سره تداوي شي او دا تداوي مرسته په خير او ترحم پر بې وزلو ده. حديث شريف دئ چې: «دمسلمانانو صفت دهغو په ترحم او مهربانۍ پر يو بل باندې دئ او لکه يو بدن دي چې که يو غړئ ناروغه شي ټول بدن ورسره په تکليف او بې خوبه وي.» (دبخارى اومسلم په روايت).

دبشپړې معالجې لپاره ضرور ده چې ددخانيا تو داستعمال ټول اسباب او عوامل وڅيړل شي ترڅو چې داسبابو او عواملو مطابق او مناسب يې تداوي وشي. پدې صورت کې معالجه اساسي او جذري ده که دا عوامل اقتصادي وي يا اجتماعي، روحي وى يا نفسي. لکه چې وويل شول هر ډول يې مهارت او خاصه پوهه غواړي.

ماهر او متخصص کسان دنصيحت داهميت په هکله وايي چې معتاد کسان بايددخانيا تو داستعمال شمير کم او هم يې استنشاق کم کړي. دهر کشولو څخه پس دسګرټ دود له خولې وباسي او همدارنګه نورې لارې چارې چې په هغو کې ددخانيا تو تعويض هم شامل دئ بايد په پام کې وي او پرې بحث او تحقيق وشي. ددخانيا تو داستعمال دبشپړ عادت دله منځه وړلو لپاره دا مسئله داهميت ورډه او دين ټول دغه وسايل تشويقوي.

دمعالجې له وسيلو څخه يو هم دحکومتي مقاماتو دخالت دئ چې بايد دهغه پر ضد مبارزې په خاطر قوانين او مقررات وضع کړي. چې دا قوانين او مقررات بايد

لاندې ټکي په برکې ولرې:

۱- ماشومانو ته باید سګرټ ونه پلورل شي.

۲- دسګرټو په ډبیو دې دویرې او ګواښ علامې او شعارونه دواردوونکي او تولیدونکي لخوا ولګول شي یا ولیکل شي.

۳- په دخانیاتو کې دې مضره مواد کم کړې.

٤- په وظیفو، منصبونو او مقاماتو کې دې غیر معتادو کسانو ته ترجیح او لمړیتوب حق ورکړ شي، په خاص ډول هغه کسان چې د قیادت او رهبرۍ په سطح کې وي. همدارنګه په ترفیعاتو، بورسونو او نورو امتیازاتو کې؛ ترڅو نورهم په هغو پسې اقتداء وکړي.

٥- په عمومي او دخلکو دګڼې ګونې په ځایونو لکه عمومي باغونه، عامه ترانسپورټ، عمومي لویې اوورې غونډې او ټولنې او نورو کې باید په دخانیاتو بندیز ولګول شي. دا د دې لپاره چې هم فضا دسګرټو په دود ملوثه نشي او هم دخلکو دا مالو او ارواحو حمایت شوئ وي او دچاودیدونکو موادو دچاودنې خطر هم له منځه تللئ وي.

٦- د دخانیاتو د تولید او ترویج محدودول او په تولیدونکو او استعمالوونکو باندې یې د زیاتو مالیو لګول.

۷- دسګرټو داعلانونو محدودول د عامه خبرتیا وسایلو لکه تلویزیون، رادیو او پوسترونو له لیارې.

۸- دهغو کسانو منع کول له سګرټو څخه، کوم چې دسګرټو سره د تلویزیون پردې پر مخ راڅاهریږي ترڅو خلک وپوهیږي چې د دخانیاتو استعمال څه ساده کار ندئ. خصوصاً چې کوم مهم شخصیت هم وي.

۹- دمناسبو او متناسبو جزاګانو وضع کول هغو کسانو ته چې لدې مقرراتو څخه سرغړونه کوي.

ددولت دمصالحو دخوندي ساتني په منظور بايد حکومتونه دا ډول قوانين وضع او ملت ته واجب ده چې هغه رعايت او احترام يې وساتي. خدای(ج) فرمايي: ﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَ أَطِيعُوا الرَّسُولَ وَ أُولِي الأَمْرِ مِنْكُمْ﴾ (النساء:۵۹) يعني اى هغه کسانو چې ايمان مو راوړی دئ دخپل الله(ج)، دهغه پيغمبر او خپل ولی الامر اطاعت وکړی. او دا اطاعت په معروف کې دئ نه په منکر او گناه په کارونو کې.

لکه چې په غرب کې ويل کيږي، مونږ بايد ونه وايو چې شخصي آزادي بايد تأمين شي او دخالت په هغې کې جواز نلري. ځکه چې دا قول دعقل او دين په اعتبار مردود دئ په خاص ډول په هغو چارو کې چې دټولنيز ژوندانه سره اړيکې لري. له شخصي آزادی څخه برخه من کيدل دهر چا حق دئ خو په مقابل کې واجبات او مسئوليتونه هم لري چې عبارت دي دخلکو له حقوقو څخه حمايت کول په امنيت، ژوند، روغتيا، مال او نور حقوق... او دا دهغه عدالت اقتضايا غوښتنه ده چې دوگړنيزو او ټولنيزو حقوقو ترمنځ موازنه ساتي. رسول الله ﷺ امر کوی چې هغه څوک چې پياز او هوره خوري له جماعت څخه دې ووځي او هغه به يې دجنت البقيع دهديرې شاوخوا ووته ليږه چې دمړو سره ژوند وکړي.

زه داوايم چې دقوانينو او مقرراتو وضع کول بايد داسې وي چې نه پکښې ظلم وي او نه يواړخيز وي بلکې دټولو مصلحت او نظر بايد پکښې واخستل شي. دقوانينو له وضع کولو سره دتطبيق مراقبت هم ضروري دئ هغه بايد يوازې دخلکو ضمير او وجدان ته پرې نښودل شي او هر ضمير پدې سويه ندئ چې مراقبت ته ضرورت ونلري.

هغه څوک چې دتطبيق مسئوليت په غاړه لري بايد دغفلت او کسالت په خطر پوه شي. داچې مسئوليت فردي وي يا جمعي، دواړه يو شان دي. دغفلت دخطر په هکله به دا کافي وي، لکه چې په اخبار کې ذکر دي، چې دقيامت په ورځ زوی دپلار

په غاړه سوريږي او وايي اى پروردګاره زما حق لدې شخص څخه واخله چې پرما يې ظلم کړيدئ. پلار يې وايي ما څرنګه په تا ظلم کړيدئ آيا ماتاته خواړه او څښاک ندي درکړي؟ زوى وايي: راکړى دې دي خو تا زه په ګناه کې ليدم او منع کولم دې نه.

هر کله چې مونږ دضمير او وجدان په تربيه کې بريالي شو، زمونږ ډيرې ستونزې به حلې شي. نو ځکه لږ نوځ څيز چې د پيغمبرانو دعوت هغې ته زيات اهميت ورکړئ دئ، هغه د پياوړې عقيدې غرس کول او جوړول په خلکو کې دي چې اللّه رب العزت دبنده ګانو تهول ظاهري او باطني عملونه وينې او پرې پوهيږي. هغه انسان ته دهغه ترشاهر ګ څخه هم نژدې دئ. خداى(ج) فرمايي: ﴿ مَا يَكُونُ مِنْ نَجْوَىٰ ثَلَاثَةٍ إِلاَّ هُوَ رَابِعُهُمْ، وَلاَ خَمْسَةٍ إِلاَّ هُوَ سَادِسُهُمْ، وَلاَ أَدْنَىٰ مِنْ ذٰلِكَ وَلاَ أَكْثَرَ إِلاَّ هُوَ مَعَهُمْ أَيْنَمَا كَانُوا، ثُمَّ يُنَبِّئُهُمْ بِمَا عَمِلُوا يَوْمَ الْقِيَامَةِ، إِنَّ اللّهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴾(المجادلة: ٧) يعنې ددريو کسانو ترمنځ رازنه وې ځکه چې ځلورم يې خداى(ج) دئ، نه وې راز د پنځو کسو په مابين کې ځکه چې شپږم يې خداى(ج) دئ اونه وې زيات له هغو يا کم له هغو مګر خداى ورسره دئ په هر ځاى کې چې وي. بيا خبر ورکوي هغوى ته دقيامت په ورځ چې څه يې وکړه، بيشکه چې خداى په هرڅه دانا دئ...

بل آيت شريف دئ چې: ﴿ إِنَّ ذٰلِكَ لَذِكْرَىٰ لِمَنْ كَانَ لَهُ قَلْبٌ أَوْ أَلْقَى السَّمْعَ وَهُوَ شَهِيدٌ ﴾ (ق:٣٧): په تحقيق سره چې پند دئ پدې کار کې هغه چاته چې زړه لري يا غوږ کيږدي، او اللّه تعالى حاضر او ناظر دئ.

صدق اللّه العظيم، وباللّه التوفيق

د دخانیاتو په استعمال کې د شریعت حکم

فضیلتمند شیخ
مصطفیٰ محمـــد حـدیدي طیر
د اسلامي تحقیقاتو د ټولنې غړئ

د دخانیاتو استعمال یو نوئ عمل دئ او امام لقاني په هغه رساله کې چې پدې هکله یې لیکلې ده وایي چې دا عمل د لسمې هجري پیړۍ په وروستیو کې پیدا شو، نو لدې کبله لکه څنګه چې د شرابو په هکله نصوص یا آیتونه نازل شوي، پدې هکله نشته - ځکه نو ځني خلک ګمان کوي چې استعمال یې مباح دئ او په کاغذي لفافو، یا اورکې او یا یې دود په نورو طریقو سره استعمالوي.

حقیقت خو دا دئ چې خلک دهغه په حلال انګیرنه کې په غلطه تللي دي او دهغو دلیل هم، د حرمت په هکله یې د خاص دلیل نشتوالئ دئ، ځکه چې په اسلام کې د احکامو مصدر یا مخصوص نصوص دي او څه په هکله او یا هم عمومي نصوص دي چې یوه او بله موضوع په برکې نیوئ شي. او یا هم اجماع او قیاس دئ چې د اسلام له امتیازاتو څخه بلل کیږي.

قرآن او سنت د اسلامی احکامو دوه اصلي مصدره دي. پدې دواړو کې د اسې ذکر شوئ دئ چې د دخانیاتو پر حرمت دلالت کوي ځکه چې دخانیات یا په حال او یا په راتلونکي کې روغتیاته ضرر لري هر مضر ځیز په ټولو دینونو کې حرام دئ او خاصتاً په اسلام کې. خدای(ج) فرمایي: ﴿ وَلاَ تُلْقُوا بِأَيْدِيْكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ ﴾ (البقره: ۱۹۵) د دې آیت شریف معنئ داده چې هر فعل او عمل چې کوونکئ یې په هلاکت کې اچوي، منع دئ؛ او دخانیات پدې کې خود په خوده شاملیږي. حدیث

شریف دئ چې لا ضرر ولا ضرار. لدې نفی څخه مقصد منع ده نو ځکه هر شئ چې نفس یا غیر نفس ته مضر وي حرام دئ ځرنګه چې **د دخانیاتو استعمال په بشپړ او قطعي ډول نفس ته مضر دئ او څښې چې نفس ته مضر وي د عقل او شریعت له مخې حرام دئ.**

نړیوالې روغتیایي اداري د دخانیاتو د ضررونو له امله دهغه پر ضد مبارزه اعلان کړیده او دایې خپل شعار ګرځولئ چې « یو له دوونه باید اختیار کړئ: دخانیات یا روغتیا ». دهغه روغتیایي ضررونو د ثبوت له وجې په برتانیې کې د پنځلس زره په شاوخوا کې ډاکټرانو او طبي کارکوونکو دا مضر عمل ترک او نورو لپاره یې سرمشق وګرځاوه.

ډاکټر حمدي سید د ډاکټرانو د اتحادیې مشر وایي: په مصر کې د ډاکټرانو اتحادیه د دخانیاتو پر ضد پدې نړیواله مبارزه کې فعاله ونډه اخلي او ټولو اداروته هم اعلانوي چې پکښې ونډه واخلي ترڅو د دخانیاتو د استعمال خطر کم شي. دحکومت له تقنیني او اجرائیوي دستګاه ګانو نه هم داهیله کوي او غواړي چې د قوانینو او مقرراتو په وضع کولو کې بیړه وکړي او خپل هیوادوال او په خاصه توګه ځوانان او ماشومان د دخانیاتو له ضررونو څخه وژغوري. ځکه چې دهغه خطرات انساني نیکمرغه ژوند له ګواښ سره مخ کړئ. دایوه فعالانه او دخوښې ونډه او ضروري هلې ځلې دي چې ټولنه د پرمختګ لوري ته سوقوي.

د نړۍ ټول با اعتباره طبیبان پدې متفق دي چې دخانیات روغتیا ته مضر او هلاکوونکي دي. لدې کبله پرمختللي حکومتونه د قانون په حکم دسګرټو په ډبیو لیکي: „دخانیات شدید ضررونه لري او د سږو دسرطان، زړه، صدري او د نورو ناروغیو سبب کیږي.“

طبیبانو دبدن په بیلابیلو غړو او جهازونو د دخانیاتو یا سګرټو ناوړه اغیزې په

تفصیل سره بیان کړیدي.

دخانیات روغتیا ته ضرر لري په هغه کې دمال بیځایه مصرف او اسراف هم دئ لکه چې امام شافعي (رح) وایي چې تبذیر په ناحقه دمال لګول دي، اشهب له امام مالک څخه روایت کوي چې تبذیر په غیر حق کې دمال مصرفولو ته وایي او داحرام دي لکه چې خدای (ج) فرمایي: ﴿وَلاَ تُبَذِّرْ تَبْذِيراً . إِنَّ الْمُبَذِّرِينَ كَانُوا إِخْوَانَ الشَّيَاطِينِ وَكَانَ الشَّيْطَانُ لِرَبِّهِ كَفُوراً﴾ (الأسراء:٢٧) تبذیر کوونکي دځمکې په مخ دفساد کارونو کې دکوښښ له کبله دخدای (ج) په وړاندې لکه دشیطان وروڼه داسې دي او یا پخپل اور کې شیطان ته نژدې دي. او شیطان دخدای دحکم په وړاندې کفران او سرغړونه کړیده. او څوک چې داسې صفات ولري روا نده چې بل سړی په هلاکت او دمال په بربادولو کې دهغه پیروي او تابعیت وکړي.

ددخانیاتو په استعمال کې داسلام دحکم لنډیز

له تیرو بیانونو څخه ثابته شوه چې دخانیات په نژدې یا لیرې راتلونکي کې د ډول ډول ناروغیو سبب کیږي چې تر ټولو خطرناکه یې دزړه ناروغي او د تنفسي اوبولي جهاز سرطانونه دي. او په هغه کې دمال مصرف اولګول هم بیځایه او ناحقه وي نو ځکه شرعي حرام دي. وَلاَ تُبَذِّرْ تَبْذِيراً... یعني مال بیځایه مه لګوئ ځکه چې بیځایه لګوونکي دشیطان وروڼه دي او شیطان دخدای (ج) دحکم په وړاندې نافرماني او سرغړونه کړیده.

په داسې حال کې چې دخانیات دا صفتونه ولري، شریعت او عقل دهغه استعمال حرام او له هغه څخه ډډه کول او ځان ساتنه لازم او واجب بولي.

واللّه تعالى أعلم

د دخانیاتو په استعمال کې د شریعت حکم

فضیلتمآب استاذ
عبدالله مشـــد
په جامع الازهر کې د اسلامي تحقیقاتو
د ټولنې او د فتوی انجمن غړئ

بسم الله الرحمن الرحیم والصلاة والسلام علی افضل المرسلین، سیدنا محمد وعلی اله وصحبه أجمعین. اما بعد:

دیوولسمې هجري پیړۍ په پیل کې یوه نبات د ځمکې پرمخ سر راوکښې چې د ډول ډول نومونه یې لرل لکه تتن، تبغ، تنبآک، تنباکو، طابغی، طبغا، طابه او... څرنګه چې دا نبات او د مخدراتو نور ډولونه لکه چرس، تریاک، هیروئین، کوکائین او نور زهریات پخپلو عناصرو او اغیزو سره پخوا معلوم نه ؤ نو ځکه دهغو په هکله کوم قاطع نص په کتاب الله او د رسول الله ﷺ په سنتو کې ندئ راغلئ او په استعمال کې یې کومه تاکلې ګناه هم نشته خو د فقهي د اصولو علماً او مسلمانو مجتهدینو حرام په دوه ډولو ویشلی یو ذاتی حرام او بل لغیره حرام.

لذاتی حرام عبارت د ئ د واجب ترکول او د حرام په ځای کول، ځکه چې د واجب ترک کول هم لکه حرام، حرام د ئ. واجب هغه فعل د ئ چې په کوونکی (مکلف) یې واجب وی او ترک کول یې شدید ګناه ده د قاطعیت ثبوت یې په کتاب الله او یا په قطعي دلایلو سره شوئ وي. پدې معنئ چې د غیر واجب احتمال پکښې نه وي لکه د لمونځ، روژه، زکات، حج او د خدای عبادت، په وعدې وفا کول، د مور او پلار یا والدینو سره احسان کول د خدای (ج) پدی قول سره: ﴿ أَقِيمُوا الصَّلَاةَ ، وَآتُوا

د د خانیاتو د استعمال په هکله د شریعت حکم

«ښکاره او جوته ده چې د د خانیاتو استعمال په هره بڼه او طریقه چې وي، انسان ته ژر او یا د وخت په تیریدو سره زیات او ملاماتونکئ زیان رسوي او هغه په ډول ډول ناروغیو اخته کوي. نوځکه یې استعمال د دې نصوصو پر بنسټ **منع** او **په تیره یې بیا استعمال د یوه مسلمان لپاره هیڅ جواز نلري**. یو مسلمان باید د خپل ځان او مال پوره ساتنه وکړي. او د هغو زیانونو ځخه چې معاصر طب یې بیانوي خپل ځان، کورنئ او انساني ټولنې وژغوري، هغوی باید خپل مال په داسې چارو او ځایونو کې ولګوي چې جسم ته یې ګټور او د ژوند سلامتئ ته یې مرسته وکړي، او پدې توګه وکولای شي خپل مسئولیتونه د خدای (ج) او خپلې کورنئ په وړاندې ادا کړي. دوی باید په دې وپوهیږي چې غښتلئ مسلمان د خدای (ج) په نزد تر ضعیف یا کمزوري مسلمان بهتر او محبوب دئ والله سبحانه و تعالی اعلم»

امام اکبر

جاد الحق علی جاد الحق

د جامع الازهر شیخ

* * *

«وروسته له هغو چې د د خانیاتو د استعمال له کبله مې د روغتیایي او ټولنیزو مفاسدو او زیانونو په هکله ډول ډول طبي خپرونې ولوستې، په صراحت سره وایم چې استعمال یې **حرام قطعي دئ** او معتاد و کسانو ته لازمه ده چې هغه یوې خواته پریږدي، ورځخه صرف نظر وکړي یا له نظره یې وغورځوي. غیر معتاد و خلکو ته ښایي چې له هغو ځخه ډډه وکړي او ورته نژدې نشي. والله اعلم»

د اکتر عبدالجلیل چلپی

د اسلامي بحث او تحقیقاتو د ټولنې غړئ

الزَّكَاةَ ﴾ لمونځ وکړی او زکات ورکړی، ﴿ كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ ﴾ روژه په تاسو فرض شوې، ﴿ وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ ﴾ دخدای کور حج پر خلکو فرض دئ، ﴿ وَقَضَى رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ ﴾ خدای(ج) امر کوي چې پرته له هغه دبل چا عبادت مه کوی، ﴿ وَ أَوْفُوا بِالْعَهْدِ ﴾ په خپلې وعدې وفا وکړی ﴿ أَوْفُوا بِالْعُقُودِ ﴾ په عهد او پیمان وفا وکړی، ﴿ وَاخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحْمَةِ ﴾ د تواضع مټې مور او پلار ته خم کړی، ﴿ وَوَصَّيْنَا الْإِنْسَانَ بِوَالِدَيْهِ حُسْناً ﴾ انسان ته مې دمور او پلار سره په نیکۍ کولو امر وکړ.

او حرام دمحرم فعل له سببه هغه دئ چې شخص يې په ترک کولو مکلفیت لري او له هغه څخه منع شوئ وي. دهغه په کولو سره شدیده ګناه لازمیږی. پدی دلیل چې په کتاب الله کې په قطعي دلیل ثابته شویده او دغیر تحریم احتمال نلري ځکه چې په اجرا کې يې ضررونه او مفاسد نغښتي دي لکه زنا، غلا، سود، شراب خورل، د پخپله مړه شوي حیوان او خنزیر یا خوګ غوښې او وینې خورل، په پاکو ښځو تهمت ویل، دمور او پلار نافرماني، په باطل شکل سره دخلکو مال خورل. ددی آیا تونو په دلیل سره: ﴿ وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنىٰ، إِنَّهُ كَانَ فَاحِشَةً ﴾ زنا ته مه نږدې کیږی چې هغه فحشا ده، ﴿ وَالسَّارِقُ وَ السَّارِقَةُ فَاقْطَعُوا أَيْدِيَهُمَا ﴾ دښځې او نر غلو لاسونه قطع کړی، ﴿ وَأَحَلَّ اللّٰهُ الْبَيْعَ وَ حَرَّمَ الرِّبَا ﴾ خدای(ج) سود اګرې حلال او سود خورل حرام ګرځولي، ﴿ إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ وَالدَّمَ وَلَحْمَ الْخِنْزِيرِ ﴾ دا پرته لدې بل شئ ندئ چې تاسو ته دپخپله مړه شوي حیوان غوښه او دخوګ وینه او غوښه حرام ګرځول شوې. ﴿ وَالَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنَاتِ ثُمَّ لَمْ يَأْتُوا بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ، فَاجْلِدُوهُمْ ثَمَانِينَ جَلْدَةً ﴾ څوک چې په پاک لمنو مسلمانو ښځو تهمت لګوي او بیا څلور کسه شاهدان حاضر نشي کړای هغوی اتیا دُرې ووهی، ﴿ قُلْ تَعَالَوْا أَتْلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمْ عَلَيْكُمْ ، أَلَّا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئاً ، وَ بِالْوَالِدَيْنِ إِحْساناً ﴾ ووایه راشی چې تلاوت کړم تاسو ته هغه څه چې

ستاسو پروردګار تاسو ته حرام ګرځولي چې هیڅ شئ ورسره مه شریکوئ او پلار او مور سره مو احسان کوئ. ﴿ وَاجْتَنِبُوا قَوْلَ الزُّورِ ﴾ له درواغو خبرو څخه پرهیز وکړئ، ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ ﴾ ای مسلمانانو یو دبل مالونه په باطل سره مه خورئ.

لغیره حرام هغه ډئ چې ذات په تحریم کې یې واضح نص نه ډئ راغلئ خو د ذاتي حرام دواقع کیدو سبب ګرځي لکه د ددخانیاتو او زهریاتو استعمال چې څان،مال او عقل ته ضرر رسوي ځکه چې شریعت دهغه ساتنه لازم ګرځولې او دهغه تلف کول یا تیرئ پر هغه یې حرام ګرځولي. حضرت رسول اللّٰه ﷺ فرمایي: «حلال او حرام هغه دي چې خدای (ج) په قرآن کې بیان کړي او دڅه په هکله یې چې سکوت کړئ تاسو ته بخښل شوي او دخدای بخښنه ومنئ» ځکه چې ﴿ وَمَا كَانَ رَبُّكَ نَسِيًّا ﴾ خدای (ج) څشئ نه هیروي اللّٰه پاک هیروونکئ ندئ (دبزار و حاکم په روایت په صحیح سند سره).

او ابو ثعلبه روایت کوي چې رسول اللّٰه ﷺ فرمایلي دي: «خدای پاک فرائض لازم کړیدي، نو تاسو هغه مه ضایع کوئ او حدود یې تاکلي دي چې تاسو له هغو تیر نشئ، په څني څیزونو کې یې سکوت کړئ بې له هیروني نه، نو تاسې په هغو کې بحث او پلټنه مه کوئ». (دبخاری، مسلم او دارالقطنی په روایت سره).

د شریعت مقاصد چې خدای (ج) خپلو بنده ګانو ته پیدا کړي او دساتنې او حمایت لپاره یې احکام نازل کړي او اتلاف یې حرام ګرزولئ عبارت دي له ضروریاتو، احتیاجاتو او کمالیاتو څخه.

ضروریات: عبارت له هغو څیزونو څخه دي چې د مصلحت په جلبولو او له هغو څخه د ضرر په دفع کولو د انسانانو ژوند او مصالح په هغو پورې تړلي دي که چیرې یو له هغو څخه نه وي د ژوندانه نظام ګډوډ او فساد او بینظمي رامنځ ته کیږي چې هغه پنځه دي: نفس، عقل، مال، دین او ناموس. د نفس، عقل او مال په اړوند دیني

نصوص وارد شوي دهغو ساتنه يې واجب او اتلاف يې حرام بللې دي. لدې کبله خدای(ج) داضرورتونه خلق کړي او دهغو دخوندي ساتنې لپاره يې احکام مقرر کړي او پر هغو له تيري او تلف کولو څخه يې منع کړې.

نفس: له نفس څخه مقصد ذات يا روح دئ، خدای(ج) فرمايي: ﴿ وَلاَ تَقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ ﴾ يعنې ځان مه وژنی. خدای(ج) دهغه پيدا ينبت او دوام لپاره ازدواج مشروع گرځولئ، دهغه دساتنې او پاينبت لپاره يې خوراک، څښاک او مسکن لازم بللئ او دضرر ددفع لپاره يې قصاص، ديت، حد او کفاره مقرر کړيده او فرمايي: ﴿ وَلاَ تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَة ﴾ له تهلکې څخه مقصد هلاک، فقر او خوف دئ، خدای(ج) فرمايي: ﴿ وَمَا يُهْلِكُونَ إِلاَّ أَنْفُسَهُمْ ﴾ او نه هلاکوي مگر خپل نفس. دانسان ژوند ارزښت او قيمت لري چې ساتنه يې لازمه ده او تلف کول يې جواز نلري. دادي دانسان فطرت، سماوي احکام او وضعی قوانين دوينې دعصمت او دوژنې او ضرر دحرمت په هکله، تيرئ يې پر هغه منع کړئ او تيري کوونکي ته يې لويه گناه او سختې جزا گاني لازم گرځولي، او پدې ډول يې دژوند حق تثبيت شوئ چې دانسان حقوقو تر ټولو مهم حق دئ. دکمال لورو مدارجو ته درسيدو او همدارنگه دتوليد په منظور پر هغه لازم دي چې کارو کړي تر څو عقل، جسم او سلوک يې غښتلئ او صحيح وي. شريعت تيرئ پر نفس هم حرام گرځولئ پدې ډول: ﴿ وَلاَتَقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ، إِنَّ اللّه كَانَ بِكُمْ رَحِيماً، وَ مَنْ يَفْعَلْ ذلِكَ عُدْوَاناً وَظُلْماً، فَسَوْفَ نُصْلِيه نَاراً ﴾ يعنې خپل نفس مه وژنئ ځکه چې خدای پر تاسو مهربان دئ او څوک چې دا کار په ظلم او تعدئ سره وکړي مونږ هغه د دوزخ په اورکې اچوو. په حديث شريف کې دي: «څوک چې ځان له غره وغورځوي او ځان ووژني، هغه کس په دوزخ کې دئ». او دحجة الوداع په خطبه کې وايي: «وينه او اموال مو دقيامت تر ورځې تاسو ته حرام دي.»

عقل: عقل په دوه ډوله دئ يو طبيعي او بل مسموعي

طبيعي عقل هغه قوه ده چې د علم او معرفت د منلو لپاره آماده وي او مسموع عقل د طبيعي عقل څخه استفاده کول يا ګټه اخستل دي. تر څو چې طبيعي عقل نه وي، مسموع عقل ګټه نلري.

حضرت رسول الله ﷺ مطبوع عقل ته اشاره کوي وايي: «خداى (ج) په عقل کې تر ځانه مکرم مخلوق ندئ پيدا کړئ» او د مسموع عقل په هکله فرمايي: «هيڅا تر عقل ښه زده کړه نده کړې چې هغه ته لار ښوونه وکړي او له هلاکت څخه يې وژغوري.» خداى (ج) فرمايي ﴿وَمَا يَعْقِلُهَا إِلاَّ الْعَالِمُونَ﴾ يعنې پرته له عالمانو څخه بل څوک پدې هکله تعقل نشې کړاى. خداى (ج) مطبوع عقل ته په اشارې سره فرمايي: ﴿إِنَّا عَرَضْنَا الأَمَانَةَ عَلَى السَّمواتِ وَ الأَرْضِ وَالجِبَالِ فَأَبَيْنَ أَن يَحْمِلْنَهَا، وَأَشْفَقْنَ مِنْهَا، وَحَمَلَهَا الإِنْسَانُ، إِنَّهُ كَانَ ظَلُوماً جَهُولاً﴾ يعنې موږ د امانت پيتئ آسمانونو، ځمکې او غرونو ته وړوسپاره دهغو له جګولو نه يې ډډه وکړه او وويريدل خو انسان هغه پورته کړ، انسان ظالم او جاهل دئ. انسان د دواړه ډوله عقلونو په مرسته د خداى (ج) په وجود او وحدانيت علم حاصلوي او خداى (ج) انسان په عقل سمبال کړئ او هغه ته يې اکرم المخلوقات ويلي دي ﴿وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ﴾ انسان د عقل په وسيله د کائناتو په اسرارو، دهغو په ځانګړتياوو قادر او پوهيدلئ او په کشفياتو او اختراعاتو کې يې برئ ترلاسه کړئ او د عقل په وسيله کولاى شي په شمسي نظام، ستورو، د آسماني اجسامو په حرکت او ترصد، او د نارو غيو د ډول ډول مايکروبونو په کشف کې بريالى شي او خپل ځان له کمزورى او نارو غيو څخه معالجه کړي. لدې کبله د عقل محافظت او خوندي ساتنه واجب ده او لازمه ده چې هغه له کمزورى، نارو غيو او اختلالاتو څخه وساتل شي. نو ځکه د دخانيا تو، مخدراتو او زهرياتو له استعمال څخه بايد ډډه وشي پدې دليل هم چې سليم عقل په سالم بدن کې دئ، او د دخانياتو په استعمال سره هغه سلامت او په امان کې نه پاته کيږي.

مال: خدای(ج) مال داولاد ترڅنګ یادوي او فرمایی: ﴿ اَلْمَالُ وَالْبَنُونَ زِينَةُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ﴾ یعني مال او اولاد ددنیوی ژوندانه زینت او ښکلا دي. او پخپلو بنده ګانو یې احسان ایښئ فرمایی: ﴿ وَأَمْدَدْنَاكُمْ بِأَمْوَالٍ وَبَنِينَ وَجَعَلْنَاكُمْ أَكْثَرَ نَفِيراً ﴾ یعني تاسو ته می په مال او زامنو کې مرسته وکړه او دنارینه وو شمیر مو درته زیات کړ. خدای(ج) له هغه مصرف څخه چې په زیان وي منع کړې ﴿ يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لاَ تُلْهِكُمْ أَمْوَالُكُمْ ﴾ یعني تاسو خپل مالونه په داسې چارو کې مه لګوئ چې تاوان ورسوي نه ګټه. بیا فرمایي ﴿ وَاعْلَمُوا أَنَّمَا أَمْوَالُكُمْ وَأَوْلاَدُكُمْ فِتْنَةٌ ﴾ یعني وپوهیږئ چې ستاسو مال اوستاسو اولاد ستاسو د آزموینې لپاره دي، خدای ویني چې تاسو هغه چیرې مصرفوی او تاسو سره محاسبه کوي.

خدای(ج) په لاندې آیتونو کې دې ته اشاره کوي چې مال باید په کوم ځای کې مصرف شي ﴿ مَثَلُ الَّذِينَ يُنْفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ ابتِغَاءَ مَرْضَاةِ اللّه، وَتَثْبِيتاً مِنْ أَنْفُسِهِمْ كَمَثَلِ جَنَّةٍ بِرَبْوَةٍ أَصَابَهَا وَابِلٌ فَآتَتْ أُكُلَهَا ضِعْفَيْنِ ﴾ یعنې هغه کسان چې خپل مال دخدای درضا لپاره او دخپل ثواب په منظور مصرفوي، هغه باغ ته ورته دئ چې په یوی لوړې غونډۍ واقع دئ چې په هغه باران واوریږي او حاصل یې دوه برابره شي. مال دملتونو په نهضت او پرمختګ او همدارنګه دوګړو په جسمي، روحي او اخلاقي سلامتیا کې زیاته اغیزه لري او دمادي پرمختګ او اقتصادي ترقي بنسټ جوړوي. هغه دعقلي احتیاجاتو (تعلیمي مؤسسات) او همدارنګه روغتیایي او ټولنیزو اړتیاوو رواکوونکئ دئ. دهغو په وسیله کرهنه، دځمکې لاندې شتمني او کانونه انکشاف کوي او دخلکو په خدمت کې په کار اچول کیږي او که چیرې دملتونو په فساد او جرائمو وغږیږو، وینو چې فقر او ناداري دهغو تړلې ورو مهم اسباب دي.

لدې کبله اسلام دخلکو پاملرنه هغو څیزونو ته راړوي چې خدای(ج) دهغو په واک کې ورکړي دي ترڅو دهغو څخه دقوت او شتمنۍ دمنابعو په حیث کار واخلي.

په بشريت باندې پخپله دغه پاملرنه، دالازم ګرځوي چې په ټوله ټولو او تدبير سره ددې مال ساتنه وکړي او په ډيرو ښو او اغيزمنو لارو چارو يې ولګوي دهغې نه دخپل ځان او ټولنې په ګټه کار واخلي. يوه برخه يې سپما کړي او په لګولو نه کې له اعتدال او ميانه روي څخه کار واخلي. حديث شريف دئ چې: څوک چې په مصرف کې ميانه روي وکړي نه خواريږي، په مصرفولو نو کې منځګړئ موقف ځانته غوره کړي، بې ضرورته مصرف جواز نلري، په هغه څه کې مصرف مه کوې چې په زيان مو تمام شي لکه دخانيات او مخدرات. خداى(ج) فرمايي: ﴿ وَلاَ تَجْعَلْ يَدَكَ مَغْلُولَةً إِلىٰ عُنُقِكَ وَلاَ تَبْسُطْهَا كُلَّ البَسْطِ، فَتَقْعُدَ مَلُوماً مَحْسُوراً ﴾ يعنې مه خپل لاس پخپله غاړه کې تړې او مه هغه هومره واز پرېږده چې پدې دواړه حالتونو کې آخر ملامتيږې او پښيمانه کيږې. په بل ځاى کې فرمايي: ﴿ وَالَّذِينَ إِذَا أَنْفَقُوا لَمْ يُسْرِفُوا وَلَمْ يَقْتُرُوا ، وَكَانَ بَيْنَ ذٰلِكَ قَوَاماً ﴾ ښه مسلمان هغه دئ چې نه اسراف کوي او نه سختي او بخيلي او ددې دواړو ترمنځ قرار لري.

له پورته بيانونو څخه دنفس، عقل او مال په اهميت وپوهيدو. په مدنيت او پرمختګ کې ددې دري ضرورتونو د ارزښت له کبله، خداى(ج) هغه پيدا کړي او له پنځه ګوني ضرورتونو يا اړتياوو څخه شميرل کيږي دهغو دحفاظت، ساتنې او حمايت په هکله نازل شوي احکام زمونږ له ديني واجباتو څخه دي. همدارنګه تلف کول او بيځايه مصرفول يا لګول يې ديني حرام دئ.

ځرنګه چې ددخانياتو او مخدره موادو استعمال دطب دپوهانو اوماهرينو په اتفاق عقل، دين او مال ته مضر دي، دمال دضايع کيدو او تلف کيدو او همدارنګه په کيفي اومقداري لحاظ دتوليد دکمزورتيا سبب کيږي نو ځکه ئې حکم حرام او څوک چې هغه استعمالوي او يا يې سوداګري کوي کم وي يا زيات، بايد جزا ورته ورکړه شي ځکه څوک چې دچا دملکيت په شاوخوا تاوږي راتاوږي، ژوبه هغه ته ور داخل هم شي او دا جزا به دنورو دپند او عبرت سبب شي. جزا يې هم تعزيري ده چې اندازه

يې د اولی الامر لخوا تاکل کیږي. خدای (ج) دبشریت نفس عقل او مال او همدارنګه دهغو په مقابل کې دبې احترامۍ لپاره احکام او عقوبات یا ګناهونه، خوشې او عبث ندي پیدا کړي بلکې دخپلو بنده ګانو د مصالحو دتحقیق او حمایت له امله یې خلق کړي دي.

خدای (ج) فرمایي: ﴿رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هَٰذَا بَاطِلاً سُبْحَانَكَ﴾ ای خدایه داځیزونه دې خوشې او باطل ندي پیدا کړي او یا ﴿خَلَقَ لَكُمْ مَا فِي الأَرْضِ جَمِيعاً﴾ خدای (ج) هغه ذات دئ چې ټول شیان یې دځمکې په مخ ستاسو دګټې په منظور خلق کړي نه د ضرر او زیان په منظور او نه دلهو لعب. دا ځیزونه ددنیا آبادي، دبشر دصلاح او په ځمکه باندې دانسان دخلافت دتحقیق او د ټولو دخیر او ګټې په منظور خلق شویدي.

ددخانیاتو په هکله دپخوانیو فقهو نظریې

ددخانیاتو د پیدایښت راهیسې فقهو کرامو هغه څیړلي او شرعي احکام یې استنباط کړي، خو ټولویې په ضرر اتفاق ندئ کړئ، ځنویی په تحریم حکم کړئ، ځنویی هغه مباح عمل بللئ او ځنو نورو پکښې توقف کړئ چې حلال دي یا حرام دکراهیت حکم لري یا داباحت.

دهغو کسانو له جملې څخه چې دهغه به اباحت یا کراهیت یې حکم کړئ یو هم ابو الحسنات کمنوي او دالاشباه دکتاب مؤلفین دي چې وایي اصلي حکم اباحت یا توقف دئ.

نابلسي وايي چې حرام ندي، طحطاوي ويلي دي چې زمونږ استاد عماري هغه تنزيهي مکروه بللي **هغه څوک يې چې په حرمت قايل دي يو هم عبدالباقي حنفي** دئ چې وايي: دهغه دحرمت حق دئ او دحرمت له کتاب، سنتو، شرعي قواعدو او دمعتبرو کتابونو له نصوصو څخه مأخذ شويدئ. استعمالوونکي، سوداګر او اسباب او وسايل يې بايد تعزيرًا يعني پرې بنديز ولګول شي. دعمر ابن عبدالرحمن حسيني شافعي فتوىٰ هم همدغه ده، همدا رنګه محمد فتح الله ابن علي مغربي او محمد ابن صديق زبيدي حنفي او شيخ عامر شافعي دهغه په حرمت فتوىٰ ورکړې او وايي: «که چيرې همدا دخانيات په ربښتيا سره عقل يا بدن ته زيان ورسوي حرام دي» او زيان يې څرګند او طبيبانو يې دډول ډول زيانونه ثابت کړيدي. علامه شرنبلالي وايي چې: «هغه حرام دي څکه چې هغه خواړه ندي او نه دوا. پلورنه او پيرودنه يې بايد منع شي څکه چې له خبائثو څخه شميرل کيږي دروژې په مياشت کې يې په استعمالوونکي کفاره واجبيږي.» محمد ابن احمد وايي: «پدې دليل حرام دي چې د ناروغيو سبب کيږي.» دمجالس الابرار په کتاب کې راغلي چې «که څوک يې په رمضان کې استعمال کړي نو افطار يې کړی دئ او استعمال، پلورنه او پيرودنه يې حرام ده څکه چې په لهو لعب او عبث کې راځي.» دتبيان په کتاب کې راغلي چې «حرمت يې دخداى(ج) په قول ﴿ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبَائِثَ ﴾ ثابت دئ يعني شريعت خبائث پر مسلمانانو حرام کړي، استعمالونکي او سوداګر يې تعزير کيږي.» شيخ عامر شافعي وايي: «حرام دئ او داستعمالوونکي عدالت ساقطوي.»

دحرمت او کراهیت تحریمي دلایل یې

۱- دخانیات نه خوارې دي او نه درمل نو ځکه حرام دي.

۲- په استعمال کې یې عبث او لهو و لعب دئ چې دا حرام دي.

۳- استعمال یې بدعت دئ او هر بدعت ګمراهي ده.

٤- نشه ایز او مخدره ماده ده، هر هغه څه چې نشه راولي او مخدره وي دشرابو په ډله کې راځي او شراب حرام دي پدې دلیل چې دحضرت ام سلمې حدیث دئ چې «رسول الله ﷺ له هر نشه راوړونکي څخه منع کړیده.» (دابوداؤد او احمد په روایت).

٥- په هغې کې کفارو او اورپرستو ته ورته والئ دئ چې له خولې او پوزې څخه یې لوګي راوځي که حرام نه وي نو کم له کمه تحریمي مکروه خو ده.

٦- په خوله کې دبدبوی سبب کیږي لکه هوره او پیاز.

۷- خبیث شئ دئ او هر خبیث څیز حرام دئ.

۸- فاسقان لکه چې په حرام سره راتولیږي، پر هغو هم راتولیږي نو ځکه په هغې دتحریم حکم کیږي.

۹- دفتنې او مصیبت سبب کیږي او لکه همدا څیزونه دتحریم حکم یې کیږي.

۱۰- دعقل او نفس مفسد یا فاسدوونکئ دئ څرنګه چې سلیم عقل په سالم بدن کې وي او انسان له لمانځه او دخدای له ذکره باسي او دا کار دمعقول او منقول دلیل پر بنا حرام دئ.

۱۱- دخانیات دعذاب له وسیلو څخه دي چې خدای (ج) هغه دعذاب په وخت کې یاد کړي.

۱۲- دهغه په وسیله نوروته ضرر او آزار ورورسیږي نو ځکه حرام دي ځکه چې په هغه کې انسان او ملائکو ته آزار دئ خدای(ج) فرمایی: ﴿ وَالَّذِينَ يُؤْذُونَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ بِغَيْرِ مَا اكْتَسَبُوا فَقَدِ احْتَمَلُوا بُهْتَاناً وَإِثْماً مُبِيناً ﴾ یعنې څوک چې بې ګناه مسلمان آزاروي هغوی د بهتان او ګناه عاَمل ګرځي او حدیث شریف دئ چې «هر آزاروونکی په دوزخ کې دئ.»

۱۳- څرنګه چې داسراف سبب دئ نو ځکه په شرعي نصوصوسره حرام دئ.

۱٤- دهغه داستعمال په وخت کې انسان په ناوړه او قبیح صورت څرګندیږي چال دا چې خدای(ج) هغه ته بهترین صورت ورکړئ دئ.

۱۵- په هغې کې په بدن کې دلوګي ننوتل رامنځ ته کیږي او لوګئ له اور څخه را پیدا کیږي او داور خوړل حرام دي. حدیث شریف دئ چې خدای(ج) اور دخورو په حیث مونږ ته ندئ پیدا کړئ.

۱٦- په هغې کې شیطان ته ورته والئ دئ ځکه چې استعمالوونکي یې اور په لاس کې اخلي.

۱۷- حرمت یې دفقیهو په اتفاق سره ثابت شویدئ.

داستعمال دجواز دلایل یې

اجازه ورکوونکي زیات دلایل لري چې په ټولو کې یې مهم درې دي:

۱- په څلورګوني اصلي دلایلو.کتاب اللّه، سنت او دمجتهدینو په اجماع او قیاس کې کوم څرګند دلیل دهغو دتحریم په اړوند نشته نوځکه داباحت په حالت کې پاته کیږي.

* * *

«شرعي حكم چې انساني نفس په هغې ډاډمن او آرامیږی دا دئ چې: (**دخانيات حرام دي** او دخانيات دهغو خبايشو څخه دي چې تريخ خوند او ذايقه، بد او مكروه بوی، زيات زيانونه او خطرناكې پائيزې لري؛ **نو ځكه حرام دي**) والله سبحانه و تعالى أعلم.»

ډاكټر حامد جامع

دجامع الازهر پخوانئ منشي او

په كويټ كې داسلامي فقې ددائرة المعارف

غړئ

* * *

«اوس دفن خاوندان او دطبي چارو ماهرين په بشپړ ډول دې نتيجې ته رسيدلي دي چې ددخانياتو داستعمال حكم په عمومي ډول **دحرام او تحريمي كراهيت ترمنځ** څرخي راڅرخي. دسوداگرۍ حكم يې هم همداسې دئ چې كه څوك وغواړي دهغې تجارت يا پلورنه او پيرودنه وكړي حكم يې دحرام او تحريمي مكروه ترمنځ ده.

ځكه چې هغه شخص **دضرر رسوونكي حرام او تحريمي مكروه چې دحرام سره په پوله كې دئ، څيز، سوداگري كوي.**»

ډاكټر زكريا بری

دقاهرې پوهنتون دحقوقو دپوهنځي داسلامي شريعت

استاد او رئيس او دجامع الازهر داسلامي

تحقيقاتو دټولنې او فتوى انجمن غړئ

* * *

«دا چې دخانيات **قطعي حرام** وي يا **تحريمي مكروه** دواړه برابر دي. اسلام دهغو پرضد مبارزه تائيدوي او لازم يې بولي، ځكه چې په عمومي ډول مسلمان ته ښايي او

۲- اصل په ځیزونو یا اشیاؤ کې اباحت دئ او دخانیات پدی اصل کې شاملیږي نو ځکه یې په اباحت حکم کیږي.

۳- اصل په منافعو یا ګټو کې اباحت او په ضررونو یا زیانونو کې تحریم دئ. څرنګه چې دخانیات نه مضر دي او نه ګټور نو ځکه پکښې تحریم نه راځي او دحکم په اثبات کې اصل اباحت دئ، نو ځکه ددې په تحریم کې معتبر شرعی دلیل ته اړتیا ده.

دمعاصرو علماؤ نظریې

فضیلتمند شیخ حسنین مخلوف فتویٰ ورکړې چې باید دهغه په هکله اجتهاد وشي او علماؤ دهغه په هکله اختلاف کړئ او وروسته بیا وایي: «حق زمونږ په نزد په ردالمحتار کې دادئ چې مباح ده او په حلالی یې دځلورګونو مذهبونو څخه داسې کسانو فتویٰ ورکړې چې په فتویٰ یې اعتماد کیږي.» له اجهوري مالکي او نابلسي حنفي څخه هم اباحت نقل شویدئ ځکه چې کوم شرعی دلیل یې دحرمت او کراهیت په هکله ندئ نقل شوئ. نشه او ضرر یې په ټولو استعمالوونکو کې ثابت شوئ ندئ. عمومي قاعده په اشیاؤ کې اباحت دئ. دفقهو په کتابونو کې چې پدې هکله شهادت ورکړ شوئ راغلي چې: لدې دلایلو څخه داسې څرګندیږي چې سوداګري په هغې کې په راجح یا ترجیح ورکړي شوي قول سره مباح ده، کومه ګټه چې تړې په لاس راځي پاکه او حلاله ده مګر چې داسې دلیل پیدا شي چې دحرمت او کراهیتِ تحریمي ایجاب یې وکړي، لکه د ضرر ثبوت یې نفس، مال او نوروته.

شیخ محمد طبیب النجار داسلامي بحثونو او تحقیقاتو دټولنې غړئ دهغه په حرمت فتویٰ ورکړې پدې دلیل چې ﴿وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبَائِثَ﴾ او برسیره پردې

ټول دهغه په ضررونو اجتماع او اتفاق لري او هر هغه څه چې بدن او روغتيا ته ضرر رسوي هغه حرام دي. خدای (ج) فرمايي ﴿ وَلَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ ﴾. همدارنګه الله (ج) له تبذير څخه چې دمال مصرف بيځايه دئ منع کړې او فرمايلي يې دي چې مبذرين دشيطان ورونه دي ﴿ إِنَّ الْمُبَذِّرِينَ كَانُوا إِخْوَانَ الشَّيَاطِينِ ﴾. ددخانيا تو استعمال په بدن کې سستي، کسالت او بې هوښي رامنځ ته کوي او دا حالات دعقل داختلال او پوښلو سبب کيږي نو لدې کبله حرام دي.

شيخ ډاکټر ذکريا بري داسلامي بحثونو او تحقيقاتو دټولنې غړئ وايي چې: «دمعاصرو طبي څيړنو پر بنسټ ددخانيا تو استعمال حرام دئ چې حکومتونو په ډيرو ځايونو او ټولنو کې دهغه استعمال منع کړئ.» او بيا وايي چې: «استعمال يې دحرمت او تحريمي کراهيت ترمنځ څرخيږي.»

دجامع الازهر فتوي انجمن فتوئ ورکړې چې «ددخانيا تو استعمال ناروه او منکر کار دئ چې شريعت هغه حرام ګرځولي.» دا فتوئ د ۱۹۷۹ کال دمارچ دمياشتې په ۲۲ دجمهوريت په ورځپاڼه کې خپره شويده.

ددې نظريو تر وړاندې کولو وروسته مونږ ته داسې څرګندږي چې:

اول: هغه څوک يې چې داستعمال او سوداګرۍ په حرمت قايل دي دحکم په بيان کې حق ته رسيدلي، ځنې نور يې نفس، عقل او مال ته دضرر له املې پرې دحرمت حکم کوي ځکه چې شريعت دجسم، عقل او دمال په خوندي ساتنې حکم کوي او پر هغو يې تيرئ حرام بللئ دئ. لدې کبله يې عاملين لکه څنګه چې حکومت لازم وبولي بايد مجازات شي البته پر عقل، نفس او مال باندې دتعدئ په جرم بايد مناسبې تعزيري جزاګانې ورکړل شي.

دوهم: هغه کسان چې دتحريم دلايل يې لاندې څيزونه بولي لکه دخانيات نه خواړه يا غذا ده او نه درمل يا دوا مخدر او دبدن دغړو او اندامونو سستونکي دي او هر

هغه شئ چې دا صفات ولري حرام دي. استعمالوونکي يې تشبه کول له کفارو او شيطان سره؛ بدعت او بدبويه ده؛ فاسقان او فاجران پرې راتوليږي؛ دعذاب او اور له جمع ځخه او استعمالوونکی يې زشت او قبيح صورت غوره کوي؛ يا داچې له اوره پيدا کيږي؛ حرمت يې دفقهيو په اجتماع ثابت شوئ؛- دا ټول هغه اقوال دي چې حرمت پرې نه ثابتيږي ځکه چې حرام دحنفيانو په نزد په **قطعي** دليل سره بايد ثابت شي او دامام احمد په نزد هغه څه چې په يقين سره وي هغه حرام دئ. او دا پورته دليلونه چې دوی ذکر کړيدي پر تحريم قطعي دلالت نلري.

هغه څوک چې دخانيات **مباح يا مکروه** بولي په لاندې دلايلو سره استدلال کوي:

اول: دا دليل چې اصل په اشياؤ کې اباحت دئ. دا دليل دعلماؤو ترمنځ متفق عليه ندئ ځکه چې يو بل ټولګی بيا وايي چې اصل په اشياؤ کې منع او حرمت دئ. عمل کول پدې قاعدې هغه وخت صحيح دي چې د عقل دنفس او مال دمحافظت دوجوب قاطع دلايل موجود نه وی حال داچې دمال دتلف کولو او پر هغو دتيري دحرمت قطعي دلايل وجود لري نو ځکه پدې قاعدې باندې اتکا کول درست نه او دا قول هم جواز نلري چې ددخانياتو په حرمت کې دتحريم دلايل وجود نلري.

دوهم: پدی خبرې استشهاد کول چې اصل په ګټو يا منافعو کې اباحت او په ضررونو او زيانونو کې تحريم دئ، صحيح ده او دا قاعده دهغو پرضد نه بلکې په ګټه يې ده. ځکه چې ددخانياتو او مخدراتو ضررونه بې له کوم شک او شبهې په اثبات رسيدلي.

دمال او اقتصاد له پلوه دمثال په توګه ويلای شو چې مصر دامريکې له متحده ايالاتو څخه په کال کې ۷۵ زره ټنه دخانيات راواردوي چې دولت دهغو له درکه په کال کې پنځه سوه ملیونه مصري پونډه مالیه اخلي، او دا ثابته شويده چې دمصريانو

روغتیا ، عقلونو او مال ته تاوان رسوي. هغه ناروغۍ چې د دخانیاتو د استعمال له وجې راپیدا کیږي دهغو په معالجه او د درملو په پیرودنه او همدارنګه د روغتون په لګښتونو په ملیاردونو مصري پونډه لګیږي. او څرنګه چې طبیبانو او ډاکټرانو دمعاینې او علمي او لابراتواري څیړنو پر اساس د دخانیاتو روغتیایي ضررونه کشف کړي نو ځکه ضرر یې یو علمي حقیقت دئ چې عمل پرې شرعاً واجب او استعمال او سوداګري یې حرامه ده ځکه چې دګڼ شمیر ناروغیو سبب کیږي لکه د سږو سرطان، دخولې، شونډو، حنجرې، بلعوم، مرۍ او مثانې سرطانونه، د قصباتو التهاب د زړه او دوینې د رګونو ناروغۍ او نورې چې په پرمخ تللو هیوادونو کې ۸۰٪ مړینه دهمدې ناروغیو له کبله ده. همدارنګه د مور لخوا یې جنین ته خورا زیات ضرر دئ.

پدې هکله د طبیبانو اقوال رانقلوو: د ۱۹۷٤ کال د د سامبر د میاشتې په کنفرانس کې چې د روغتیایي نړیوالې ادارې لخوا په ژنیو کې د دخانیاتو د ضررونو په هکله جوړ شوئ ؤ او په هغه کې د طب د برخې نامتو استادانو او ماهرینو او د علمي تحقیقي موسسو کارکوونکو او استاذو ګډون کړی ؤ. له هغې جملې څخه د هالند د زړه د ناروغیو موسسې، د برتانیې د کمبرج پوهنتون، د شوروي اتحاد د عامې روغتیا وزارت، د قاهرې پوهنتون، د فرانسې او متحده ایالاتو پوهنتونونو د سویس د الکولي ستونزو بین المللي سازمان، د سرطان پر ضد د مبارزې نړیواله کمیټه، د دخانیاتو او روغتیا په نامه د دریم عمومي کنفرانس استاذي، په نیویارک کې د سرطان موسسې، د زړه د ناروغیو نړیواله موسسه، د ماشوم د روزنې نړیواله اتحادیه، د روغتیایي فرهنګ نړیواله کمیټه، د عمل نړیوال سازمان، د سویس د روغتیا او ورزش موسسه د ماشومانو د طب نړیواله موسسه، د فارمکولوجي او کلینکي کیمیا نړیواله اتحادیه او په لویدیځ آلمان کې د زړه د ناروغیو موسسه.

کنفرانس دې نتیجې ته ورسید چې دخانیات د سږو د سرطان، د قصباتو د التهاب، د سږو د هوایي پرسوب (ایمفیزیما)، په زړه کې د وینې د دوران د ستوالي او

دوینې درګونو دبندیدو ډیر مهم عامل دي. په هغه تقریر کې چې پدې هکله خپور شوئ همدارنګه دخولې، ژبې، شونډو، حنجرې، حلقوم، مرئ، مثانې او پانقراص دسرطانونو څخه هم یادونه شوې. دخانیات دجنین دسقط، دکم وزنه او مړه ماشوم دزیږیدنې، دغوانئ په عمر کې دمړینې او دمعدې او اثنا عشر دزخمونو سبب هم کیږي. په تجربو کې ثابته شویده چې دسرطان تولیدونکي مواد دهغه دلوګي په تورکو کې وجود لري. دپتولوجئ څیړنو دغني نورو مضرو موادو لکه نیکوتین، قیر او کاربن مونو اکساید موجودیت هم په هغو کې ثابت کړیدئ.

دسړو سرطان

په ټوله نړۍ کې ددخانیاتو یا سګرټو داستعمال له کبله مړینه دوام لري. دسړو دسرطان یو عمده علت همدا دخانیات دي هر کله چې یو په سګرټو معتاد کس له هغو څخه ډډه وکړي نو دسړو هوایي کڅوړې یې په لږ وخت کې بیرته خپل طبیعي حالت ته راګرځي. پتولوژیکي څیړنو ښودلې ده چې ددخانیاتو پریښودل دسرطان دناروغۍ احتمال تر ډیره حده کموي.

دقصباتو التهاب او دسړو هوایي پرسوب

طبي څیړنو تأئید کړیده چې په دخانیاتو معتادو کسانو کې دسړو دفعالیت کفایت ډیر کم وي او دا ثابته شویده چې دسړو دهوایي کڅوړو مجراګاني په تدریجي شکل سره بندیږي او دهغو دتنفس او هوائي تبادلې قابلیت او امکانات کمیږي. دا حالت دڅو کلونو په موده کې دې درجې ته رسیږي چې دسړو اکثره هوایي کڅوړې یې په تنفس کې ونډه نه اخلي او داسې شخص په سخت عذاب وي، دلسو کلونه مخکې دهغې له وجې نه مړئ خو دهوا په اخستلو او خارجولو کې مړي ته ورته وي.

په زړه کې دوینې د دوران کمزورتیا

دعلم او پوهې پرمختګ داثابته کړیده چې کاربن مونو اکساید په زړه کې دوینې

د دوران په کمزورتیا کې مهم عامل دئ او فعال رول لوبوي. د دغه ګاز اندازه دسګرټو په لوګي کې ۵٪ دئ. ځرنګه چې داګاز دهیموګلوبین سره د اکسیجن په پرتله زیات دیو ځای کیدو قابلیت لري نو ځکه د اکسیجن انتقال د بدن انساجو ته کمیږي. د زړه په ناروغیو کې د زړه په دندې او فعالیت کې بدلون راځي، دوینې فشار لوړیږي او د زړه حرکات یا ضربان د نیکوټین تر اغیزې لاندې چټکیږي خو د زړه د فعالیت کمزورتیا او د هغه د ضربانو کمیدل د کاربن مونو اکساید له وجې ده.

د ماغزو دوینې درګونو ناروغي

پدې هکله چې د خانیات کیدائ شي د ماغزو دوینې درګونو د ناروغیو د زیاتوالي سبب شي دوې دلایل موجود دي. په هغو پراخو څیړنو کې چې د امریکې په متحده ایالتونو کې سرته رسیدلي ثابته شویده چې هرکال یو زیات شمیر هغه کسان چې په دخانیاتو معتاد دي د ماغزو درګونو د ناروغۍ له کبله مري.

د معدې زخم

نوې څیړنې ښیي چې دخانیات د تیزابي او قلوي موادو د افراز توازن له منځه وړي، د معدې او کولمو د حرکاتو د چټکیدو سبب کیږي او بالاخره په هغو کې زخمونه رامنځ ته کوي. د دې ستونزو او بدلونونو یوازنئ عامل نیکوټین دئ.

دخانیات او حمل

د هغو زیاتو څیړنو په نتیجه کې چې په نوي زیږیدلي ماشومانو کې په برتانیې کې سرته رسیدلي، داسې نتیجه په لاس راغلې چې د حمل په دوران کې د دخانیاتو ډیره ناوړه اغیزه د جنین دودي بطي کول یا سستول او د مړه زیږیدنو په شمیر کې زیاتوالئ دئ.

ددخانیاتو استعمال پرته له ارادي

څرګنده خبره ده چې په لمړي قدم کې دخانیات په خپل استعمالوونکي ناوړه اغیزه کوي او په هغو کې خطرناکه ناروغۍ رامنځ ته کوي. خو هغه کسان چې له سګرټو سره عادت نلري مګر په ځنو ځایونو کې د هغه له لوګي سره مخامخ کیږي، ددې لوګي له کبله په زیاتو ضررونو مبتلا کیږي. ددې لوګیو کاربن مونو اکساید او نور غازات د هغه په بدن ناوړه اغیزو او حساسیت سبب ګرځي.

دخانیات او دعامې روغتیا خدمات

هغه ناروغۍ چې له دخانیاتو څخه را پیدا کیږي او یا یې خطر زیاتیږي دعامه ووغتیا په تشکیلاتو دزیات فشار سبب کیږي او دستونزو سره یې مخامخ کوي. ځنو څیړنو او احصائیو ښودلې ده چې هغه بودیجه چې ددخانیاتو څخه را پیدا شوو ناروغیو په معالجې لګیږي تر هغو عوایدو ډیره زیاته ده چې تنبکو له درکه دولت ته په لاس ورځي.

ددخانیاتو استعمال ته دوام ورکول

په تنبکو کې نیکوتین هغه ماده ده چې ددخانیاتو داستعمال ددوام سبب کیږي یعني اعتیاد منځ ته راوړي. دغه ماده پر عصبي جهاز زیاته اغیزه لري چې دا اغیزه په شخص، دهغه په روحي حالت او ددخانیاتو په اندازې پورې اړه لري. دخانیات پر اعصابو هم آرامونکي او هم تنبه کوونکي اغیزه لري. نیکوتین دمازغو داجوافو دافرازاتو او مایعاتو دزیاتوالي سبب کیږي. اعصاب وینښتوب ته را پاروي خو په راتلونکي کې داعصابو دسستۍ او خمودۍ - جمودۍ سبب کیږي. په لمړي ځل استعمال سره دنیکوتین ماده اعصاب تنبه کوي خو دماغ ژر دهغه سره عادت اخلي او دمعتادۍ سبب ګرځي چې بیا دوامداره استعمال یې دنورو ضررونو تر څنګ داعصابو دسستۍ او کسالت سبب کیږي. د ۱۹۷۷ کال د برتانیې دشاهي پوهنتون

په وينا کې راغلي چې په يوه سګرټ کې موجود نيکوټين که چيرې دوريد له ليارې بدن ته زرق شي، کفايت کوي تر څو يو سړئ په بشپړه روغتيا يې حالت کې په څو ثانيو کې له منځه يوسي.

پدې کې شک نشته چې دسګرټو نيکوټين لرونکئ لوګئ همدا اغيزه د انسان په روغتيا او بدن لري خو په اوږده موده (۲۰ - ۳۰ کلونو) کې يې له منځه وړي.

ددخانياتو مالي زيانونه

د اروپا او امريکا دقيقو احصائيو ښودلې ده چې کوم عايد چې د تنبکو د کښت او مالياتي له درکه حکومتونه تر لاسه کوي څو ځله تر هغو مصارفو لږ دي چې د سګرټو څخه د راپيدا شوو ناروغيو په علاج لګيږي بې له شکه چې د خانيات د اقتصاد له پلوه ډير بډاى هيواد هم زيانمن کوي. دمثال په ډول په برتانيې کې د ددخانياتو له وجې راپيدا شوو ناروغيو له کبله دهغه د هيواد د کارګرانو غيابت په کال کې پنځوس ميليونه نفر ورځو ته رسيږي چې لدې درکه خورا زيات تاوان دهغه هيواد اقتصاد ته دئ.

او همدا رنګه په برتانيا کې هر کال پنځوس زره کسان مخکې له وخته د ددخانياتو د استعمال له کبله مري.

(په ۱۹۷۷ کال کې د برتانيې د شاهي پوهنتون له بيان څخه).

* * *

پدې ډول په قطعي دليلونو سره ثابتيږي چې د خانيات نفس، عقل او مال ته خورا زيات ضرر لري او د دې ضرر تونو د تلف کيدو سبب ګرځي. حال دا چې خداى (ج) مونږ ته دهغو په خوندي ساتنه او نه تلف کولو باندې امر کړئ دئ. نو لدې څخه د ددخانياتو حرمت په ټولو شکلونو او ډولونو ثابتيږي، حرمت يې قطعي او يقيني شميرل کيږي تر څو دوګړي او ټولنې روغتيا، ژوند او مال خوندي پاته شي.

د دخانیاتو په استعمال کی د شریعت حکم

فضیلتمآب ډاکټر
احمـد عمـر هاشـم
دالازهر د پوهنتون د اصول دین د پوهنځي
د حدیثو د ډیپارټمنټ استاذ او رئیس

اسلام پاک څیزونه حلال او خبائث حرام گرځولي دي او دي ته بلنه ورکوی چې مسلمانان قوي، غښتلي او روغ رمټ وي، او خپل قوت په دخانیاتو او نور زیان رسوونکو عادتونو چې عقل او روغتیا کمزوري کوي او ضُعف او سستي رامنځ ته کوي، کمزوري نکري. د دخانیاتو خطر یوازې په نشې کې نه دئ ځکه چې هغه نشه راوړونکئ ندئ او نه دهغه په ګرانئ او روغتیایې ضرر ونوکي، بلکې خطر یې پدې کی دئ چې استعمالوونکئ په ډیرې چټکی سره په هغو عادت کیږي، دایمي معتاد یږي او دهغو نه پرته خپل وخت نشي تیرولائ. همدا رنګه یې خطر په چټک او آسانه خپریدلو کې دئ ځکه چې راکړه ورکړه یې هر وخت او په هر ځای کې امکان لري. لکه څرنګه چې معاصر طب کشف کړیده، دخانیات په تنفسي جهاز باندې ډیرې ناوړې اغیزې لري او د ګڼ شمیر ناروغیو لکه د سږو سرطان، د حنجرې سرطان، د قصباتو دایمي التهاب، د زړه تکان او د مازغو دوینې د رګونو د ناروغیو سبب کیږي.

دخانیات هضمي جهاز ته هم خطرونه پیښوي او د دا سې ناروغیو لکه د شونډو سرطان، د خولې سرطان، د بلعوم او مرۍ سرطانونه، د معدې او اثنا عشر زخمونه د پانقراص سرطان او همدا رنګه په بولي جهاز ناوړه اغیزه کوي او د مثانې سلیم تومور، د مثانې سرطان او د پښتورګو سرطان منځ ته راولي (۱)

(۱) دخانیات او دهغو اغیزې په روغتیا باندې، د محمد علی البار ص: ٦٢

اوس چې پدې وپوهيدو، اسلام امر کوي چې ﴿ وَلَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ ﴾ يعني پخپل لاس ځانونه په هلاکت کې مه اچوئ او يا ﴿ وَلَا تَقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ ﴾ خپل ځانونه مه وژنئ. حضرت رسول الله ﷺ فرمايي: «هغه څه چې تاسو په شک کې اچوي پرې يې پرديو او هغه څه واخلئ چې په شک کې مونه اچوي.» «ولا ضرر ولا ضرار» او همدارنګه حضرت پيغمبر ﷺ له هر نشه راوړونکي او دغړو دسستوونکو څيزونو څخه منع کړيده.

که چيرې د قرآن او سنتو دا نصوص د دخانياتو د عملي روغتيايي ضررونو سره يو ځای شي **لدې سرېزې څخه داسې نتيجه په لاس راځي چې د دخانياتو استعمال بې له شکه حرام دئ.** او که چيرې پخواني علماً دهغو په حرمت قايل نه ؤ دليل يې داؤ چې دهغو ضررونه لا نه ؤ کشف شوي. د دې مسئلې د زيات وضاحت په منظور د دخانياتو د ضررونو په مقابل کې د اسلام دنده او رسالت بيانوو چې اسلام روغتيا ته بلنه ورکړې خو په راتلونکو کې به وګورو چې د دخانياتو استعمال د دې امر مخالف يعنې هغه هلاکت او د روغتيا او مال تلف کولو ته بلنه ورکول دي.

اسلام د حق او خير دين، او د عبادت او عمل دين دئ. خپل پيروان کو بښن او عمل، نهضت او پرمختګ ته رابولي او دا ټولې چارې د روغتيا او سلامتي، قدرت او بدني غښتلتوب په صورت کې کيدای شي، لدې کبله:

* اسلام د بدن روغتيا ته زياته پاملرنه کړې او دهغه سلامتي او عافيت غواړي.
* همدارنګه د نارو غيو مخنيوي يا وقايې ته بلنه ورکوي او وايي چې د نارو غيو د سرايت او خپريدو څخه ځان وساتئ. ترڅو روغتيا او سلامتي ته موږ زيان ونه رسيږي.
* اسلام خپلو پيروانو ته امر کوي چې په نارو غيو باندې داخته کيدو په صورت کې هغه معالجه کړي.

پرې واجب دي چې په روغتيايي، فکري، روحي، اقتصادي سلوکې او اخلاقي برخو کې غښتلئ او بشپړ وي. »

شیخ عطیه صقر

په جامع الازهر کې دفتوی انجمن

او اسلامي تحقیقاتو د ټولنې غړئ

* * *

« د دخانیاتو استعمال په هره وجه چې وي، د یر ژر اویا دوخت په تیریدو سره د ډول ډول ناروغیو سبب ګرځي چې ترټولو خطرناکه یې د زړه ناروغي او د تنفسي او تناسلي جهازونو سرطان دي. د مال مصرف او اسراف په هغې کې هم بې ځایه ده، نو ځکه **شرعاً حرام** دئ. نو چې کله حرام وي **شریعت او عقل دا امر کوي چې دهغو څخه دي ډډه وشي.** والله تعالی أعلم. »

شیخ مصطفئ محمد حدیدی طیر

د اسلامي تحقیقاتو د ټولنې غړئ

* * *

« څرنګه چې د طب د پوهانو او ماهرینو په اتفاق سره ثابته شویده چې د دخانیاتو او مخدره موادو استعمال عقل، مال او جسم ته زیان رسوي او د بدن د ځنو غړو او اندامونو د خرابیدو او له منځه تلو سبب کیږي او همدا رنګه د تولیدي قابلیت د کیفي او کمي کمزورۍ باعث ګرځي، نو ځکه **د شریعت حکم دادي چې استعمال یې حرام دئ** او باید چې استعمالوونکو، جلابانو او سوداګرو ته یې جزا ورکړ شي ترڅو نورو جلابانو او سوداګرو ته د پند او عبرت سبب شي. پدې استعمال کې کمئ او زیاتئ د مقدار کموالئ او زیاتوالئ یوشان حکم لري چې هغه حرام دئ. »

شیخ عبدالله مشد

په جامع الازهر کې د اسلامي تحقیقاتو د ټولنې

غړئ او د فتوی انجمن رئیس

* ددې لپاره چې مضر او زیان رسونکي عملونه دانسان په بدن مسلط نشي، انسان ته امر کوي چې دمضر عادت ددوام په مقابل کې مقاومت او مبارزه وکړي.

اسلام بدني روغتیا ته زیاته پاملرنه کړې او امر کوي چې خواړه او څښاک دې داسې ترتیب شي چې په هغو کې زیاتئ او اسراف نه وي لکه چې حضرت رسول الله ﷺ فرمایي: «انسان لوښئ دخپلې ګیډې څخه زیات نه ډکوي. انسان ته څومړۍ بس دي چې هغه استواره وساتي او که بې زیات خوړل ضرور وي نو بیا دګیډې یوه په دریمه دخوړو، یوه په دریمه دڅښاک او پاتې یوه په دریمه دنفس یا هوا لپاره ده.» (داحمد او ترمذی په روایت). همدارنګه فرمایي: «اوبه لکه اوښ په یوه ساه مه څښئ بلکې په دوه یا دریو ساه ګانویې باید وڅښئ او دڅښلو په وخت کې دخدای (ج) نوم په ژبه راوړئ او دخپل سر دپورته کولو په وخت کې الحمدلله ووایئ» (ترمذی په روایت). همدارنګه رسول الله ﷺ داوبو څښلو په وخت کې دتنفس او پف کولو څخه په اوبو کې منع کړیده.

دبدن دروغتیا ساتنه یوازې په خوړو پورې محدوده نده بلکې دانسان لپاره خوب کول هم ضروري دي اسلام لاربښونه کوي چې انسان باید په ښې اړخ څملي ځکه چې په کښې اړخ خوب کول زړه او تنفس ته زیان رسوي نو پدې اساس رسول الله ﷺ امر کوی چې انسان باید په ښې اړخ څملي. له براء ابن عازب څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: «کله چې غواړې دخوب بستر ته ولاړشې نو همغسې اودس به کوې لکه چې دلمانځه لپاره یې کوې او بیا ځان په ښې اړخ واچوه او ووایه چې ای خدایه ما ځان په تا سپارلئ دئ، مخ می ستا لوري ته واړاوه، خپل کارونه می تاته در وسپارل، شامې ستا په پناه کې درکړه ستا په رغبت او ستا له ویرې په هیڅ ځای کې دژغورنې پناه ګاه چاته نشته مګر ستا په لوري. په هغه کتاب چې نازل کړئ دې دئ او په هغه پیغمبر چې تا رالیږلئ دئ ایمان لرم او دا کلمې هغه وروستئ کلمې دي چې

باید وویل شي. » (دمسلم او بخاری په روایتونو).

روغتیا او روغتیا ساتنې ته داسلام له بلنو څخه یو هم دمکان او جامو نظافت او پاک ساتل دي حتیٰ دا چې اسلام دځان، جامو او ځای پاکوالي دلمانځه له شرطونو څخه بللي دي. خدای(ج) اوداسه ته امر کوي او فرمایي: ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلَاةِ فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ وَامْسَحُوا بِرُءُوسِكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ إِلَى الْكَعْبَيْنِ وَ إِنْ كُنْتُمْ جُنُبًا فَاطَّهَّرُوا ﴾ (المائده:٦) یعنې ای مسلمانانو کله چې لمانځه ته راپورته کیږی مخ او لاسونه مو تر څنګلو ومینځی او په سر مو مسح وکړی او پښې مو تر بجلکونو وومینځی او که چیرې جنوب وی نو غسل وکړی.

اسلام دغابنو تر منځ خالیګاوو په وینځلو، دخولې په نظافت او دمسواک په مستحب کولو امر کړئ دئ حضرت رسول الله ﷺ فرمایي: که زما په اُمت ګرانه نه وای تمام شوې نو امر به مې ورته کړئ ؤ چې دهر لمانځه نه مخکې مسواک ووهي.

دبدن روغتیا ته په پاملرنې سره دناروغیو وقایوی اړخ یا دناروغیو څخه مخنیوی ته زیات اهمیت او ارزښت قایل شوي ځکه چې دروغتیا دوام دناروغیو په مخنیوي پورې اړوند ده. لکه چې وایي: (وقایه تر علاج بهتره ده).

دوقایې په برخه کې اسلام دناروغانو سره دډیر نژدیوالي څخه منع کړیده، له حضرت جابر څخه روایت دئ چې دبنی ثقیف په ډله کې یو کس دجذام په ناروغی اختـه ؤ نو رسـول الله ﷺ هغـه ته نفـر ورواستـاوه او ورته یې وویل « ارجع فـقـد بایعناک » (دمسلم په روایت) یعنې ته مراجعه وکړه چې مونږ سره دې بیعت کړیدئ بل حدیث شریف دئ چې فرمایي: « له جذامي سړي څخه هماغسي وتښتی لکه زمری څخه چې تښتی. » (په بخاری روایت) او له ابوهریرة څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: « باید چې ناروغ سړئ په روغ سړي ورننه نوځي. »

دروغتیا دساتنې او دناروغیو دمخنیوی په احتیاط کې رسول الله ﷺ فرمایي: «په کوم ښار کې چې ساري ناروغي وي باید سړئ داخل نشي او له هغه ښاره څخه هم څوک ونه وځي.» لکه چې په بخاري او مسلم کې روایت شوئ، عامر ابن سعد ابن ابو وقاص له خپل پلار څخه روایت کړئ چې دطاعون په هکله یې ویلي دي: «همدا چې وامو وریدل چې په کوم ځای یا وطن کې طاعون وي هغه ته مه ورننوځئ او که په داسې ځای کې وي چې هلته طاعون دئ نو داسې مه کوی چې له هغه ځایه وتښتئ.» او کله چې حضرت عمر ابن خطاب (رض) دعمواس په نامه دشام یوه ښارته په سفر تللی ؤ خو هلته طاعون خپور شوئ ؤ نو د آنحضرت دهمدې حدیث شریف په دلیل هغه ښارته ورننه شو. ابو عبیده ابن جراح ورته وویل: «آیا دخدای له تقدیر څخه تیښته کوئ؟» ویې ویل: «هو دخدای (ج) له یوه تقدیر څخه بل ته تښتم. څه وایې که ته یو اوښ ولرې چې په یوه مال څر کې دئ دخریدلو لپاره خوشې کړئ وي. ددی مال څر یو لورئ ښه زیات وانښه ولري او بل لورئ یې وچ وي آیا دا حقیقت ندئ چې هغه دې په دې لوري څر ځای کې دخدای (ج) په تقدیر وځراوه او که یې په وچ لوري کې وځربې هغه دې هم دخدای په تقدیر کړئ دئ؟» داد حضرت رسول الله ﷺ هدایت دئ چې نن دناروغیو دوقایې یا دخپریدو دمخنیوی په غرض روغتیایي قرنتین رواج لري او اسلام له طب او معاصرو علمونو څخه ډیر کلونه وړاندې پیدا شوئ دئ.

دوقایې په هکله دنبوي هدایاتو او لارښوونو څخه یو داهم ده چې انسان داوبو څښلو په وخت کې باید په جام یا ګیلاس کې تنفس ونکړي او همدارنګه دلوښو په سر پوښلو او دژیو په خوله ترلوؤ امر کړئ او دژي له خولې داوبو څښلو څخه یې منع کړیده. له جابر څخه روایت دئ چې حضرت رسول الله ﷺ دژي له خولې څخه داوبو څښلو منع وکړه. اسلام دناروغیو څخه دځان ساتنې او دهغه دخپریدو دمخنیوي په منظور دبدن او تولو غړو په نظافت او پاک ساتنه، دغاښو په وینځلو او دنوکانو په قطع یا پرې کولو امر کړئ دئ.

یو له وقایوي تدابیرو څخه په ولاړو اوبو کې دبولو له کولو څخه منع ده. له جابر څخه روایت دئ چې حضرت رسول الله ﷺ هم په ولاړو اوبو کې له بولو کولو څخه منع کړې او هم په جاري اوبو کې. ځکه چې بولې په اوبو کې دناروغیو دخپریدو عامل دئ. ځرنګه چې عام خلک پدې کار کې سهل انګاري او بی احتیاطی کوي نو ځکه ناروغی دهغو په منځ کې سرایت کوي او خپریږي او دا له هغو کارونو څخه هم ده چې کوونکي ته یې لعنت ویل کیږي او مروت یې ساقطیږي. خلک له هغو څخه ډډه او نفرت کوي لکه چې رسول الله ﷺ فرمایي: «دلعنت ددې عاملو څخه پرهیز وکړی یو بولیي اوغایطه مواد کول دخلکو داوبو په ځایونو کې، بل په لیارو کې او بل په سیوروکې.» (دابو داؤد په روایت) او فرمایي: «څوک چې په لیارو کې دمسلمانانو د آزار او اذیت سبب کیږي دهغو لعنت پرې روا کیږي» (دطبرانی په روایت).

دناروغیو په معالجه اوتداوی کې اسلام دهغو داسبابو په لټولو، د درملو استعمال او تداوی ته تشویق کړیدئ رسول الله ﷺ فرمایي: «خدای (ج) دهر درد لپاره درمل پیدا کړي نو تداوي وکړی خو نه په حرامو.» (دابوداؤد په روایت) اسلام پداسي حال کې چې په تداوی امر کوي خو په حرامو باندې یې له تداوی څخه منع کړي. له اسامه ابن شریک څخه روایت دئ چې وایي: «زه درسول الله سره وم چې څو تنه دبیدیا عربان راغلل او ویې ویل: آیا مونږ دناروغ تداوی وکړو، ویی فرمایل: هو! ای دخدای بنده ګانو تداوي وکړی ځکه خدای (ج) دهر درد لپاره دوا او دهرې ناروغی لپاره یې شفا پیدا کړیده پرته له یوه درده څخه چې هغه زړښت دئ.» (داحمد او نسایی په روایت).

باید هیڅوک داونه انګیري چې تداوي کول دخدای (ج) دتقدیر مخالف کار دئ بلکې دا ټول دخدای (ج) وقضا او قدر څخه دي. له ابوهریرة (رض) څخه روایت دئ چې ویې ویل: «ای دخدای رسول آیا مونږ دم او دوعا وکړو؟ او په دوأ یعني درملو سره تداوي وکړو؟ او وقایه او پرهیزګاري وکړو؟ او آیا داڅیزونه دخدای (ج) قضا او قدر

ردوي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل داشيزونه هم دخداى(ج) له قضا او قدره څخه دي. »
(دترمذي او احمد په روايت) .

څنې غواړي نوروته وښيئ چې په څنو حرامو مشروباتو کې شفا نغښتې ده اونور يې وايي چې دا مشروبات د ډول ډول ناروغيو دعلاج سبب کيږي خو اسلام کله چې کوم څيز حرام گرځوي، هغه په قطعي او بشپړ ډول حرام گرځوي او په حرام څيز کې خداى(ج) شفا نه ورکوي او نه په هغه کې شفا شته. له عبدالله ابن مسعود (رض) څخه روايت دئ چې ويلي يې دي: خداى(ج) ستاسو شفا په هغه څه کې نده نغښتې چې حرام يې گرځولي. » (دبخارى په روايت) .

له پورته بيانونو څخه دا نتيجه په لاس راځي چې:

۱- د اول څخه بايد دبدن دروغتيا او سلامتى ساتنه وکړو.

۲- دناروغيو د پيدا کيدو په صورت کې بايد تداوي وشي.

۳- کله کله داسې ظاهرى څيزونه، مشروبات او يا چاپيريال په انسان تيرئ کوي چې هغه دانسان په دايمي عادت بدليږي او نشي کولاى له هغو څخه ځان وژغوري. په لږى مرحله کې يې خطر ورته نه معلوميږي چې دې ته ادمان يا دوامداره عادت ويل کيږي چې په څنې مشروباتو، عادت يا سلوک کې شيطان او يا اماره نفس (...) ورته امر کوي.

دادمان معنئ په يو شي مداومت کول دي او کله چې انسان په شرابو عادت شو نو دا ادمان دئ. رسول الله ﷺ له هر نشه راوړونکي څيز څخه منع کړيده او هغه يې شراب او حرام بللي دي چې دکبيره گناهونو څخه شميرل کيږي. اسلام دتوبې دروازې پرانيستې پرې اينبي، څوک چې توبه کوي نو دروازې ورته پرانيستې دي. توبه هغه ده چې له څښلو څخه يې ډډه وکړي له خپل تير عمل څخه پښيماني وکړي او کله چې بنده له خپلو گناهونو نه توبه ونکړي او هغوته دوام ورکړي هغه ته مدمن ويل کيږي او

هغه کس د کبیره ګناه عامل او مرتکب دئ. خدای (ج) دهغه توبه نه قبلوي څکه چې د توبې د قبول شرایط یې برابر ندي. له ابن عمر (رض) څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: «هر نشه راوړونکئ څیز شراب او هر نشه راوړونکئ حرام دئ. چا چې په دنیا کې شراب وڅښل او مړ شو او توبه یې ځني ونکړه، د آخرت له شرابو څخه ورته نه ورکول کیږي» (دمسلم په روایت). خدای (ج) په آخرت کې خپلو مسلمانو بنده ګانو ته د شرابو ویالې پیدا کړي چې بوازې د خوند او مزې لپاره دئ او بس او دا د آخرت شراب لکه د نیوي شراب نشه نه راولي.

د نیوي شراب یا الکولي مشروبات لوی خطرونه لري، خصوصاً کله چې څوک همیشه هغه وڅښي څکه چې د عصبي او هضمي جهاز لپاره زیات تاوان لري او پر هغو ناوړه منفي اغیزې کوي. د هغه څښونکي په ډول ډول ناروغیو لکه سل، د زړه، معدې، ځګر او نورو ناروغیو اخته کوي او پدې کې هیڅ ډول شک او شبه نشته.

اسلام وایي چې «په شرابو کې هیڅ ډول شفا د هیڅ ډول ناروغۍ لپاره نشته بلکې هغه پخپله درد او ناروغي ده.» (دمسلم په روایت).

د شرابو تحریم د هغه د کثرت له امله نه دئ بلکې کم او زیات یې حرام دئ. څکه هر هغه څه چې نشه راولي کم او زیات یې حرام دئ. همدا رنګه د مداومت حرمت یوازې په شرابو او نورو نشه راوړونکو ندئ بلکه د خانیات او نور مخدرات هم پکښې شاملیږي.

د شرابو څښل او پر هغو مداومت کول د ډول ډول ناروغیو سبب کیږي، هغه چټلي او نجاست دئ. خدای (ج) فرمایي: ﴿ إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسَرُ وَالأَنْصَابُ وَالأَزْلاَمُ رِجْسٌ مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ فَاجْتَنِبُوهُ ﴾ یعنې شراب، قمار، بت پرستي او غیبت کول داټول چټل او نجس عملونه او د شیطان فعل دئ. د هغو په ترک کولو کې د انسان د جسم او روح سلامتي نغښتې او پر هغو عمل کول د ډېر ښمنئ او

عداوت او همدارنګه دخدای (ج) له ذکر او عبادت یعني لمانځه او روژې څخه دلیرې کیدو سبب کیږي لکه چې فرمایي:

﴿ إِنَّمَا يُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَنْ يُوقِعَ بَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَاءَ فِي الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ وَيَصُدَّكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللَّهِ وَعَنِ الصَّلَاةِ، فَهَلْ أَنْتُمْ مُنْتَهُونَ ﴾

یعني شیطان غواړي چې ستاسو په منځ کې په شراب خورلو او قمار بازۍ سره دښمني او عداوت پیدا او تاسو دخدای له لیارې او د دنیا او آخرت له کامیابۍ محروم کړي، نو ځکه پر تاسو لازمه ده چې له هغو څخه پرهیز وکړئ. اسلام شرابو ته د تداوۍ په منظور هم اجازه نه ورکوي. کله چې د حضرت رسول الله ﷺ څخه شراب په وسیله د تداوۍ پوښتنه وشوه په ځواب کې یې وفرمایل «هغه پخپله ناروغي ده نه درمل».

که ځنو ته داسې ښکارېږي چې هغه درمل دي او په عین حال کې پوهیږي چې هغه د دردونو او جسمي او روحي ناروغیو سبب هم کیږي، څرنګه چې امام ابن قیم په نبوي طب کتاب کې وایي: معالجه او تداوي د عقل او شریعت له نظره په حرامو ځیزونو، ناوړه او قبیح کار دئ. د شریعت له نظره د زیاتو احادیثو په دلیل او د عقل له نظره پدې دلیل چې حرمت یې د خباثت له وجهې څخه دئ ځکه چې پاک ځیزونه پر دې اُمت د جزا په توګه نه حرامیږي، لکه چې پر بني اسرائیل د جزا په توګه حرام شوي ؤ او خدای (ج) فرمایي: ﴿ فَبِظُلْمٍ مِنَ الَّذِينَ هَادُوا حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ طَيِّبَاتٍ أُحِلَّتْ لَهُمْ ﴾ دهغه ظلم له کبله چې بنی اسرائیل وکړ پاک ځیزونه مو ورته حرام وګرځول. او پدې اُمت څه چې حرام شوي هغه دهغو د خباثت له وجهې دئ. له تحریم څخه مقصد دهغه نه خوړل، څښل او راکړه ورکړه ده نو نه ښایي چې په ناروغیو کې له هغو څخه دشفا او علاج غوښتنه او توقع وشي. ځکه که فرض کوو د ناروغۍ په له منځه وړلو کې اغیزه ولري نو پخپله یې داسې ناروغي منځ ته راوړي چې تر لمنې ناروغۍ بد او خطرناکه دي او په خاصه توګه چې په زړه باندې ناوړه منفي اغیزې لري نو ځکه یې استعمال په تداوۍ کې دیوې ناروغۍ د له منځه وړلو او د ډیرو نورو ناروغیو

د پیدا ینبت سبب کیږي.

پر مخدراتو باندې مداومت کول دناوړه صفتونو د راپیدا کیدو سبب هم کیږي لکه ډار، د مسئولیت نه احساسول، دارادې کمزوري او نور جسمي او عقلي زیانونه لکه دروغتیا له منځه وړل د جنون راوستل د حافظې کمزوري او نور اقتصادي او روحي زیانونه.

د مخدراتو په تحریم باندې زیات دلیلونه شته لکه د خدای (ج) قول: ﴿ وَيُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبَاتِ وَ يُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبَائِثَ ﴾ یعني پاک څیزونه می د ر ته حلال او خبایث می حرام ګرځولي او یا هم حدیث شریف « لاضرر و لاضرار » (د احمد او ابن ماجه په روایتونو).

له ام سلمه ام المؤمنین څخه روایت دئ چې « رسول الله ﷺ له هر نشه راوړونکي او سستوونکی څیز څخه منع کړي. » (د احمد او ابو داود په روایتونو) او د مخدره موادو تحریمول هم د شرابو د تحریمولو په جمله کې راځي ځکه چې شراب نشه راوړونکي دي او مخدرات لکه شراب عقل مختل کوي او هغه له خپل طبیعت څخه باسي لکه چې حضرت عمر ابن خطاب (رض) وایي: « شراب هغه دي چې عقل پوښوي او مختل کوي. » (د مسلم او بخاري په روایت).

که مونږ هغو کسانو ته چې په چرس او تریاکو عادت دي نظر واچوو، د هغو اغیزه په څرګند ډول لیدای شو ځکه چې هغه کس لیږي نژدی او نژدی لیږي وینی او غیر واقعي چارې تخیُل کوي.

امام ابن تیمیة او امام قرافي د چرسو پر حرمت اجماع را نقل کړې او ابن تیمیه وایي: « هر څوک چې هغه حلال وبولي کافر کیږي. »

د خانیات تر هر څه نورو زیات خپاره دي او هغه پدې حدیث کې شامل دي چې (لاضرر و لاضرار) او هم پدې منع کې چې حضرت رسول الله ﷺ د هر نشه

راوړونکي او سستوونکي څخه منع کړيده. په اوسني وخت کې چې د دخانيا تو روغتيايي ضررونه کشف شويدي نو ځکه حکم يې د ضرر او سستولو پر بنا ده ځني هغه مکروه بولي او ځني يې حرام او يو بل شمير بيا وايي چې حرمت او کراهيت يې د ځنو عوارضو پر بنا چې څرګند شي لکه روغتيايي ضررونه يا ناروغي، منځ ته راځي. معاصرو طبي علومو دهغو ضررونه پدې وروستيو کې کشف کړي چې هغه دلاضرر و لاضرار په چوکاټ کې راولي. نو ځکه پرهر ټولنې لازم ده چې په هره وسيله چې وي اعتياد يې له منځه يوسي او مونږ دا لاندې ليارې ورته وړاندې کوو:

اول: د ښوونکو، مربيانو، پلرونو او مينډو لخوا نيکه او ښه لارښوونه.

دوهم: د ديني او طبي مفکورو ارشاد اولارښوونو زياتوالئ پدې هکله.

دريم: د ګټورو اړوند کتابونو لوستل.

څلورم: د نيکو خلکو سره نژدې والئ او له بدو ملګرو څخه ليرې والئ او د ربښتينو ملګرو د سلوک او عمل غوره کول.

پنځم: د دولت لخوا د نشه راوړونکو، شرابو او مخدراتو منع کول او هغو کسانو ته چې دهغو سوداګري او راکړه ورکړه کوي د حدود و او جزاګانو تاکل او تطبيقول.

پدې ډول لازم ده چې د ټولنې د ټولو ډولونو قدرت او وسيلو څخه د دې ټولنيزو مفاسدو پر ضد کار واخستل شي ځکه کله چې منکر او فساد خپريدنه پيدا کړي او خلک له هغو سره عادت شي مطلق العنان کيږي، خطر او شريې عام کيږي لکه چې رسول الله ﷺ فرمايي: «دهغو کسانو صفت چې الهي حدود په ځای کوي لکه دهغو کسانو صفت د ځ چې په بيړۍ کې سورپيري او په سوريدلو کې يې قرعه يا پچه اچوي چې دچا نومونه په برېور او دچا په لاندې پورکې راووځي. هغه څوک چې په لاندينې پورکې دي کله يې چې اوبه غوښتې نو بر پورته ولاړل او ويل يې چې مونږ پخپله برخه

کې بېرې سورې کوو او اوبه څښو او څوک چې په بر پورکې دې ضرر ورته نه رسوو. که چېرې دوی پر ینبودل شی چې لاندې پور سورې کړي نو کشتی یا بېړۍ ډوبېږي او ټول هلاکېږي او که هغوی منع کړائ شي هم پخپله او هم هغوی له ډوبیدو څخه ژغورل کیږي.»

د دخانیاتو په استعمال کې د اسلام حکم

* له تیرو بیانونو څخه داسې څرګندیږي چې اسلام دروغتیا مسئلې ته زیاته پاملرنه کړې او انسان یې سلامتي ته هڅولئ.
* دنارو غیو مخنیوي ته یې بلنه ورکړیده او وایي چې وقایه تر معالجې غوره یا بهتره ده.
* اسلام د اعتیاد پر ضد مبارزه کوي، نه پریږدي چې ناوړه عادتونه په ټولنه کې رواج پیدا کړي د خانیات چې ډیر ناوړه او خطرناکه عادت دئ پر استعمالوونکي یې په لاندې دلایلو چې ورته اشاره کیږي، حکم کیږي:

لومړی: استعمالوونکي یې سست او کمزوري کیږي دام اسلمه حدیث پدې هکله صراحت لري چې حضرت رسول الله ﷺ له هر نشه راوړونکی او سستوونکی څیز څخه منع کړیده. او دا سستی د استعمال په هر شکل کې وجود لري. داسره یوشان دې چې په لمړي سر کې وي یا جلاجلا، یا یو واړې قطع کړي او بیا یې وځکي او یا هغه ته دوام ورکړي ... په ټولو حالاتو کې د سر ګرځیدنې او سستی احساس رامنځ ته کیږي او حقیقت هم دادئ، چې سستي او بې حالي د دخانیاتو د استعمال دایمي صفت دئ او هر چا ته دئ خو په ځنو کې څرګند نه وي.

دوهم: په دخانیاتو کې اسراف یا زیاتې تبذیر یا بیځایه لګونه او د مال تلف کول دي

* * *

« تردي حده چې د دخانياتو د استعمال زيانونه مونږ ته څرګند شوي دي، د **هغه په حرامي کې کوم شک او شوبه نه پاته کيږي.** »

ډاکټر احمد عمر هاشم
دجامع الازهر داصول دين د پوهنځي
دحديثو د ډيپارټمنټ استاد او رئيس

* * *

« دتيرو معلوماتو پر بنسټ ويلای شو چې **معتاد يدل په دخانياتو حرام دي.** پر مسلمان واجب او لازم دي چې د دي بد، هلاکوونکي او ناوړه عادت پرضد مبارزه وکړي. »

ډاکټر حسيني هاشم رحمه الله
دجامع الازهر پخوانئ مرستيال

* * *

« **د دخانياتو کرنه، استعمال او سوداګري حرامه ده** ځکه چې په هغې کې زيانونه دي. دحضرت پيغمبر ﷺ حديث شريف دئ چې: « **مـه زيان منی او نه چاته زيان رسوی او مه د زيان جزا په زيان سره ورکوی** ». بل داچې دخانيات دخبايثو له جملې څخه دي، خدای تعالی (ج) دخپل پيغمبر ﷺ په ستاينه کې داسې فرمايي: ﴿ وَيُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبَاتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبَائِثَ ﴾ يعنی پيغمبر ﷺ دخپل امت لپاره

روغتیایي لارښوونې

د روغتیایي زده کړو لړۍ د دیني تعلیماتو په رڼا کې

۱

د دخانیاتو په استعمال کې د شریعت حکم

لیکونکي:

فضیلتمآبان:

امام جاد الحق علي جاد الحق
ډاکټر عبد الجلیل چلپي
ډاکټر حامد جامع
ډاکټر زکریا بري
شیخ عطیه صقر
شیخ مصطفی محمد حدیدي طیر
شیخ عبدالله مشد
ډاکټر احمد عمر هاشم
ډاکټر حسیني هاشم
شیخ مهدي عبدالحمید مصطفی

نړیواله روغتیایي اداره
دختیځې مدیترانې لپاره سیمه ایز دفتر

روغتیایي لارښوونې

دروغتیایي زده کړو لپاره د دیني تعلیماتو په رڼا کې

د دخانیاتو په استعمال کې د شریعت حکم

لیکونکي:

فضیلتمآبان:

امام جادالحق علي جادالحق — شیخ مصطفی محمد حدیدي طیر

ډاکټر عبدالجلیل چلپي — شیخ عبدالله مشد

ډاکټر حامد جامع — ډاکټر احمد عمر هاشم

ډاکټر زکریا بري — ډاکټر حسیني هاشم

شیخ عطیه صقر — شیخ مهدی عبدالحمید مصطفی

PROPERTY OF ARIC Established 1989

نړیواله روغتیایي اداره

دختیځې مدیترانې لپاره سیمه ایز دفتر

د کتاب نوم : د دخانیاتو په استعمال کې د شریعت حکم

خپروونکئ : نړیواله روغتیایي اداره، د ختیځې مدیترانې لپاره سیمه ایز دفتر

دري ژباړونکئ : پوهاند نعمت الله شهراني

پښتو ژباړونکئ : پوهندوی داکتر بشیر نورمل

کمپیوتر کوونکئ : امام الدین

تیراژ : ۲۰۰۰ توکه